أدع إلى سبيل ربك بالحكمة والموعظة الحسنة وجادلهم بالتي هي أحسن (الآيه)

دعوت

د توحيد او جهاد مجله

۲۳ - ګڼه

دافغانستان دجماعة الدعوة الى القرآن والسنة دافکارو خپرونکې

مولوي عبدالرحمن

شهيد شيخ رحمه الله به له لو مجاهدينو څخه په خبره تينګ ټهدا اخسته چه دَ توحيد رڼا به دليوه به هر ځای ته رسوو او دَ اسلامي حکومت دَ جوړولو لپاره به هر قسم قرباني ورکوو.

وروړشاهدالله

شهيد شيخ رحمه الله په اسلامي تعليمي تو کي بهترين معلم او مدرس، د دعوة د هر بااجرأته داعي او د جهاد په سنګر کي يو قهرمان مجاهد او د سياست په ډګر کي يو معقول تحليلګر او د اسلامي بصيرت خاوند و.

قاضي محمد امين "وقاد"

شهيد شيخ جميل الرحمن رحمه الله د ردّاو په جهادي او قيادي ليکو کي تعدد او تفرق ردّاو او نا اهله رهبرانو په ذريعه محکوماوه ــــ د پردو جنرالانو او د مجاهدينو د اسلامي اتحاد د انحلال نه ور دو ستـه شيخ د جميل اصل مسؤليت د اواء په غرض جماعة الدعوة الى القرآن والسنة تاسيس او د دعوة ئي پيل کړه

شيخ سميع الله

شهيد جميل الرحمن رحمه الله په افغانستان کي د کمونيزم او الحاد په ضد د جهاد بنسټ ايښودونکي، دَ اسلامي تنظيمونو تر منځ د اتحاد داعي، د کونډو يتيمانو سرپرست او مرستندوی، دَ مجاهدينو منتظم او د مسلمانانو دَ عقايدو د سپيڅلتيا په کار کي لوړه ستري کيدونکي شخصيت و.

مولوي محمد شريف

شهيد شيخ جميل الرحمن رحمه الله د اسلام او شريعت محمدي يو مخلص خادم او د اسلام خدمت ئي د زړه په مينه او محبت سره کاوه او دنياپرست او لالچي نه و.

مولوي تره خيل

لږ تر لږه واقعي مجاهدينو د شهيد جميل الرحمن رحمه الله سره ښه روابط درلودل خو تش په نامه مجاهدينو او په بدعاتو ملوثو کسانو د هغه سره حسنه ارتباط نه درلود.

استاد قريب الرحمن سعيد

که دَ استاد "رباني" او انجنير "حکمتيار" تر منځ دَ اختلاف له منځه وړل و او که د قاضي "قاد" صاحب او انجنير صاحب تر منځ د ليو والي او پيوستون را وستل و، په لږ لو کي شهيد شيخ ممتاز رول درلود.

الهي فرمان

بسم الله الرحمن الرحيم

وان طائفتان من المؤمنين آقتتلوا فاصلحوا بينهما فان بغت أحد هما على الاخرى فقاتلوا التى تبغى حتى تفىءَ الى امر الله فإن فاءت فاصلحوا بينهما بالعدل واقسطوا ان الله يحب المقسطين.

(الحجرات-٩)

ترجمه: اوکه دمومنانو دوه ډلی پخپل منځ کی په جګړه اخته شی نو د دواړو تر منځ سوله وکړئ نو که یوه ډله په بله باندی سرکشی وکړی نو تاسو له باغی ډلی سره وجنګیږئ تر څو د الله تعالی امر ته غاړه کیږدی نو که غاړه ئی کیښوده د دواړو تر منځ دعدل او انصاف په رڼا کی سوله وکړئ. بیله شکه الله تعالی له عادلانو سره مینه لری.

دعوت

د توحید او جهاد مجله

بسم الله الرحمن الرحيم

قل هذه سبيلي ادعو إلى الله على بصيرة أنا ومن اتبعني وسبحان الله وما أنا من المشركين
سورة يوسف (۱۰۸)

دامتیاز خاوند: دافغانستان جماعة الدعوة الى القرآن والسنة
مؤسس: امام الجهاد شهيدشيخ جميل الرحمن (رحمه الله)
سرپرست: شیخ سمیع الله
خیرونکی اداره: ددعوت او ارشاد ریاست

پنځم کال- پرله پسې (۲۳) ګڼه -۱۴۱۳هـ ق کال دمحرم الحرام او سفرالمظفر میاشتی د ۱۳۷۱هـ ش د سرطان او اسد میاشتی

دهیئت تحریر تر نظارت لاندې

ددې ګڼې مطالب

(عنوان)	مخ
* سرمقاله	۲
* قرآن په اصطلاح کې	۵
* د امام بخاری (رحمه الله تعالى) ژوند ته یوه کتنه	۸
* د حسین (رضی الله عنه) د شهادت نتایج	۱۰
* د ګناهونو له عذاب نه د ځان د ژغورنې آسباب	۱۴
* اسلام د خپلو دښمنانو سره څنګه جنګ کوی او	۱۷
* تعلیمات اسلامی	۲۳
* د توحید د شمعې پتنګان	۲۵
* شهید شیخ جمیل الرحمن (رحمه الله) دعماؤ او	۲۷
* (شعر)	۶۰
* غوره بخښنه	۶۱
* دلیکونو بهیر	۶۳

په پاکستان کې د
ګډون بیه:
میاشتنی: ۱۰ کلداری
کلنی: ۱۰۰ کلداری

په نورو بهرنیو هیوادونوکې د
ګډون بیه:
میاشتنی: ۲ امریکائی داله
کلنی: ۱۰ امریکائی داله

په داخل او په پاکستان کې زمونږ نمایندګان

په داخل کې: لعل محمد «واقسوس»
اسلام آباد: عفیف احمد
پیښور: غنی الله «مسلم»
لاهور: حماد شاکر
کراچی: چوهدری ظهور احمد
کوئټه: عرفان منګل
مظفر آباد: بشیر قریشی

په نورو بهرنیو هیوادونوکې زمونږ نمایندګان

سعودی عرب: فیضان الله
امریکا: عبدالرحمن احمد
بریطانیا: منور علی
جرمنی: وانی - ایم حمیم
هالیند: عماد الدین بکری اسماعیل

کمپوزاو ډیزاین: ع - ب «ګلاب»

مکاتباتی پته: «دعوت مجله»، پوست بکس نمبر ٦١٤ پشاور پاکستان

بانکي حساب: جماعة الدعوة الى القرآن والسنة - اکاونټ نمبر ١٩٤٦٥ - حبیب بینک کینټ - صدر روډ - پشاور.

بسم الله الرحمن الرحيم

سرمقاله

له تباهۍ نه وروسته تفاهم!!!

له هغه وخت نه چه په افغانستان کی دمجاهدینو حکومت جوړ شوی او ظاهراً کمونیست رژیم رانسکور شوی، ددی په ځای چه خلکو ته داسلامی نظام هغه نعمت وړاندی کړی چه دلاسته راوړلو لپاره یی دځوارلسو کالو په اوږدو کی په زرگونو، بلکه په سوونو زرگونو ځوانانو د مقدس جهاد په تودو مورچلو کی خپل سرونه قربان کړل او یا د جگړی ځپلی او د کمونیستانو له خوا د تباه شوی هیواد دبیا سمسورتیا او آبادۍ او د اسلامی تعلیم او تربیی د پلی کولو او د هیواد د اقتصادی پیاوړتیا لپاره د جهادی تنظیمونو د مشرانو له خوا کوم گټور گام پورته شی، د کابل ښار هر واټ په ډول ډول پلمو د جگړی او وینو تویولو په ډگر بدل شو، د مجاهدینو مسلحی ډلی له یو بل څخه د انتقام اخستو، تش لاس کولو او یا له کابل څخه د ویستلو په نیت کابل ته ننوتل او د کابل ښکلی او تاریخی ښار ئی د وینو په حمام بدل کړ. عجیبه خو دا ده چه دوه ډلی د ښار په واټونو کی تر هغه د یو بل وینی تویوی او دولتی او شخصی ملکیتونه په تباه کوونکو راکټونو سوزوی او بی گناه خلك وژنی چه ترڅو ئی زور او به شی او ذخایر ورسره خلاص شی نو بیا د نوی جگړی لپاره د تابیا نیولو په غرض دواړه ډلی «اوربند» اعلان کړی، چه د نوی قوت د پیدا کولو نه وروسته اوربند او معاهده ماته او د جگړی د اور لمبی بیا د «آسمائی» او «شیردروازی» له څوکو اوچتی شی.

په کابل کی تر ټولو سخته او تباه کوونکی جگړه هماغه د حزب او دولت تر منځ جگړه وه چه په غړیدلو سترگو او قصداً او عمداً د اگست د میاشتی په لومړی هفته کی په داسی وخت کی پیل شوه چه خطر ئی هر چا وړاندی تر وړاندی احساساوه، وخیم او تباه کوونکی عواقب یی د حزب او دولت مشرانو هم درك کول او په دی پوهیدل چه د دی جگړی په سرهٔ اور کی به کابل لو لپه شی، خو یوه هم د جگړی له پیل څخه وړاندی د تفاهم او اوربند په ابتکار لاس پوری نه کړ.حزب د دغی

جگړې لپاره د لیرې ویشتونکو میزایلو خپلې هغه زیرمې راوسپړلې چه کلونه کلونه دست ناخورده پاتې شوې وې او د کمونیست رژیم او روسانو په خلاف ترې هیڅ استفاده نه وه شوې.

دغه میزایل چه ځینې یې تخریبي دي او د ودانیو د ړنګولو او سوزولو لپاره دي خو ځینې یې بیا د «چند خوشه ئې» په نوم یادیږي چه هدف ته د رسیدو نه وړاندې په څو متره لوړه ارتفاع کې چوي او د بې شمیره انساني وژنو لپاره د خپل بې مسؤلیته څښتن ارمان سروي.

کابل، ښکلي او تاریخي ښار، د چهلستون او دلکشاښار، د مجاهدو اتلانو ښارچه د تاریخ ستر ستر یرغلگران یې د نیولو او ټینګولو په ارمان یا د خاورو خوراك شوي او یا ترې هم مړ ژواندي تښتیدلي، بلآخره د هغو کسانو له خوا د خاورو په ډیران او ویروونکي بیدیا بدل شو چه د اسلامي اصالت، د مجاهدینو حکومت او په هیواد کې د امنیت د استحکام ادعاگانو یې نړۍ په سر اخستې وه.

د درې اونیو په اوږده بې رحمانه جگړه کې په زرگونو ځوانان او سپین ږیرې، ښځې او ماشومان د ژوند له خوږو لاس په سر شول، د دولتي ودانیو او عامه ملکیتونو لوخړې آسمان ته اوچتې شوې، د خلکو کورونه په کنډوالو بدل شول، خلك په خپل کور کې بې کوره شول، له خپلو کورونو ووتل، ښار ورته څنگل شو او شاړو ته په داسې تیښته مجبور شول چه میندې له خپلو ماشومانو او سړې له خپلو میرمنو خبر نه شول. د هیواد شمال اوختیځو ولایاتو ته د هجرت لړۍ پیل شوه، په لویو سرکونو، دشین آسمان د چت لاندې په زرگونو کورنیو پناه واخسته چه نه ورسره ډوډۍ وه او نه لباس.

او ددغې عامې تباهۍ نه وروسته دا دې نن د اگست د میاشتې په دیرشمه نیټه د حزب او حکومت تر منځ د اوربند اعلان وشو خو دا اوربند هم کوم داډمن اوربند نه دی چه دخلکو لپاره دا اطمنان ورکړي چه وروسته له دې به په کابل کې جگړه نه پیښیږي.

خو سوال دا پیدا کیږي چه د دغې لوئې تباهۍ مسؤلیت د چا په غاړه دی او له هغه چا سره باید څه معامله وشي چه دغه لوی قتل عام او تباهۍ ته یې تصمیم نیولی ؤ؟ آیا د کاغذ په مخ اوربندونه به وکولی شي چه د تیر فساد مسؤلیت رفع کړي او راتلونکي خطر له منځه یوسي؟ آیا د سپیني پاڼې په مخ غیر مخلصانه او کاذبانه تعهدات به وکولی شي چه افغانستان د راتلونکو جگړو له نا تار نه بچ کړي او د اسلامي نظام د ټینگښت ضمانت ورکړي.

اسلامي امت په دې پوهیږي او د بصیرت خاوندانو لا پخوا د دې مصیبت پیشگوئي کړې وه.

هغه وخت چه په تخار، هلمند، لغمان او بالآخره په کونړ کی د مخلصو مجاهدينو په خلاف ناځوان مردانه دسيسی او ظالمانه تاړاکونه پيل شول، د جهاد شهيد امام د اختلافاتو د له منځه وړلو لپاره زيات کوششونه وکړل او دا خطر يی ورته په گوته کړ چه که اختلافات حل نشی او افغانستان آزاد شی نو په هيواد کی به د وينو رودونه وبهيږی.

پروسږکال په همدی شپو ورځو کی د کونړ په اسلامی امارت باندی(چه د ټولو جهادی ځواکونو په متفقه فيصله په کونړ کی تاسيس شوی ؤ او د حدود الله د تنفيذ لپاره يی کارنامی د هيچا له سترگو پټی نه وی) دغسی بی رحمانه حملی پيل شوی. که څه هم چه د جماعت الدعوة د مشر، امام الجهاد شهيد شيخ جميل الرحمن(رحمه الله) له خوا اعلانو نه وشول، د ټولی نړئ اسلامی تنظيمونو او د اسلام خير غوښتونکو ته دعوتونه واستول شول چه له امارت اسلامی سره د اختلاف مسأله بايد د شريعت له لاری حل وفصل شی، خو دجماعت اسلامی پاکستان وفد پخپله شهيد شيخ جميل-الرحمن (رحمه الله)ته وويل چه د حزب مشران شريعت ته نه حاضريږی.

ئو شريعت ته د حاضريدلو او د قرآن او سنت فيصلی ته د اطاعت په ځای يوازی په جگړه او په اسلامی امارت باندی په حمله اکتفا وشوه خو د اوربند نه وروسته د خير غوښتنی هيڅ هيئات په اسلامی امارت باندی د حملی په جرم هيڅوك ملامت قدری هم نه کړل. په کابل باندی له حمله کوونکو څخه به څوك پوښتنه وکړی چه کونړ ته کوم گيلم جم داخل شوی وو چه تاسوورباندی د درنو توپونو باڼ وچلاوه؟ په کونړ کی د پخوانی رژيم کومی بقاياوی پاتی وی چه تاسو ته يی د اسلامی امارت په خلاف د «بی امانه جگړی» جواز او جرئت درکړی ؤ؟

زمونږ هدف د دغو خاطراتو له يادولو څخه دا دی چه هره اختلافی مسأله بايد د مسلمانانو تر منځ د قرآن او سنت عدالت ته وړاندی شی او د مؤمنانه فراست په وسيله د شريعت په رڼا کی مسايل تصفيه شی، نه دا چه لومړی د وسلی په استعمال ښارونه تباه شی او وروسته بيا جرگی مرکی شروع شی.

زمونږ هيله دا ده چه د تنظيمونو مشران د اسلامی مصالحو او د افغانستان د آبادئ او سمسورتياد احساس په لرلو سره د پوهی او بصيرت څخه کار واخلی او اعلان شوی اوربند په مخلصانه ډول د تل لپاره نافذ کړی او موجودی ستونزی د مسلمانانو د جرگو په وسيله د شرعی تعليماتو په رڼا کی حل وفصل کړی او پريږدی چه د کابل له ښار څخه د اسلامی نظام اعلان وشی او دافغانستان خلك د الهی نظام په سيوری کی د بسيا او آبرومند ژوند څښتنان شی.

والسلام

قرآن په اصطلاح کی

(لیکونکی حبیب الله «رحیق»)

(دوهمه برخه)

دقرآن په اصطلاحی معنی او تعریف کی علماء کرامو ډیر بسط او تفصیل کړی او مختلف تعریفونه یی کړی چه په لنډ ډول ځینی لیکل کیږی.

متکلمین: متکلمین خو بو دا وایی چی قرآن کریم د الله تعالی نفسی کلام دی او پدی اطلاق کی دوه ملحوظه دی اول دا چی قرآن الهی غوره ممتاز کلام دی له نورو کلامونو نه، دوهم دا چی دا د الله تعالی کلام دی او د الله تعالی کلام قدیم دی مخلوق نشوائی کیدای نو دا واجب ده چی منزه او پاك به وی له حوادثو او د حوادثو له اعراضو نه. نو وایی:

«انه الصفة القديمة المتعلقة بالكلمات الحكمية من اول الفاتحة الى آخر سورة والناس».

ترجمه: قرآن صفت قدیمه دی چه متعلق په کلمات حکمیه ۇ باندی له او- له د فاتحی تراَخر د والناس پوری دی.

همدا رنګه وایی چه قرآن لفظ منزل دی په نبی کریم صلی الله علیه وسلم باندی له اوله دفاتحی نه تر آخره د والناس پوری چی ممتاز دی پخپلو خصائصو. همدارنګه وایی چه د قرآن اطلاق په هغو مرقومو لیکل شویو نقوشو کیږی چی په مابین د دوو د فتنو د مصحف کی دی، پدی اعتبار چی نقوش په صفت قدیمه او کلمات غیبیه ۇ دال دی او دا عام شرعی اطلاق دی.

قرآن دفقهی، اصولو او لغت دعلماؤ په نظر:

دی علماؤ قرآن په دری ډوله تعریف کړی پدی معنیٰ چی ځینو پکی درازوالی کړی او وایی:

«بانه الكلام المعجز المنزل على النبى صلى الله عليه وسلم المكتوب فى المصاحف المنقول بالتواتر المتعبد بتلاوته».

ترجمه: قرآن هغه معجز کلام دی چه په رسول الله صلی الله علیه وسلم نازل شوی په مصاحفو کی لیکل شوی، تر مونږ پوری په تواتر سره را نقل شوی او عبادت کیږی په تلاوت د ده سره.

پدی تعریف کی داصفتونه جمعه شوی:اعجاز،تنزیل په رسول الله صلی الله علیه وسلم، کتابت په مصاحفو کی، نقل په تواتر او عبادت په تلاوت دده.

او دا هغه لوی او دعظمت صفتونه دی چه قرآن ورباندی غوره والی پیدا کړی، سره لدی چی نورغوره او ممتاز صفتونه هم لری.

دا تعریف اګر که دځینو علماؤ په نظر طوالت او درازوالی لری اما دتعریف په مقام کی زیاتوالی ښه دی.

اوځینو علماؤ په تعریف کی لنډوالی په دوو صفتونو کی کړی چه هغه اعجاز او انزال دی او وایی چه دا دوه صفته له قرآن نه سوا په نورو کی نشته.

او ځینو علماؤ په تعریف کی میانه روی کړی او هغه یی داسی تعریفوی:

«بانه اللفظ المنزل على النبى صلى الله عليه وسلم المنقول عنه بالتواتر المتعبد بتلاوته».

ترجمه: قرآنکریم هغه لفظ منزل دی په رسول الله صلی الله علیه وسلم باندی چه نقل شوی دی له ده نه په تواتر سره او عبادت کیږی په تلاوت دده.

نو: اللفظ: جنس دی په تعریف

کی چی مفرد او مرکب دواړو ته شاملیږی او پدی کی شك نشته چه استدلال په احکامو لکه چه په مرکباتو کیږی په مفرداتو هم کیږی لکه عام، خاص، مطلق، مقید.

په المنزل علی النبی صلی الله علیه وسلم سره هغه کلام خارجیږی چه هغه اصلاً نازل شوی نوی لکه زمونږ خبری، نبوی حدیث او هغه چه په ماسوی د رسول الله صلی الله علیه وسلم باندی نازل شوی وی لکه تورات او انجیل.

په المنقول عنه بالتواتر سره هر هغه قول خارجیږی چه په تواتر سره نوی لکه قرائت شاذه او مشهورة او نور.

په المتعبد بتلاوته سره آحادیث قدسیه خارجیږی.

هغه تعریف چی اکثرعلماء ورباندی متفق دی:

«القرآن هو کلام الله المعجز، المنزل علی خاتم الانبیاء والمرسلین بواسطة الامین جبریل علیه السلام المکتوب فی المصاحف المنقول الینا بالتواتر، المتعبد بتلاوته، المبدوء بصورة الفاتحة المختم بسورة والناس».

ترجمه قرآن د الله تعالی معجز کلام دی چه په خاتم د انبیاؤ او مرسلینو صلی الله علیه وسلم نازل شوی په واسطه د جبرئیل علیه السلام، چه ساتل شوی په صدورو او لیکل شوی په مصاحفو کی او ویل شوی په ژبو، نقل شوی تر مونږه په تواتر سره، عبادت کیږی په تلاوت دده، جمعه کوونکی دی لفظ او معنٰی دواړو لره او پیل شوی په سورة د فاتحی او ختم شوی په سورت د والناس باندی.

د قرآن اطلاق په ټول او په بعضی ایتونو:

د قرآن اطلاق په ټول قرآن هم کیږی او په بعضی آیاتونو هم کیږی مثلاً څوك چه ټول قرآن ولولی ورته ویل کیږی:

«إنه قرأ قرآناً، یعنی هغه قرآن ووایه.

او څوك چه د قرآن بعضی حصه یا څو آیته ولولی نو ورته ویل کیږی چه: إنه قرأ قرآنا، یعنی هغه قرآن ووایه.

او ویل کیږی چه د قرآن اطلاق په ټولو آیتونو حقیقتاً دی او بعضی باندی مجازاً دی.

همدارنګه ویل کیږی چه لفظ د قرآن حقیقت دی په کل او بعضی دواړو کی نو مشترك لفظی دی.

مثلاً الله تعالی فرمایی:

«واذا قریُ القرآن فاستمعوا له وانصتوا».

ترجمه: او په هغه وخت کی چی قرآن لوستی شی پس غوږ کیږدئ هغه ته او چپ اوسئ ښایی چی په تاسو به رحمت وکړای شی.

او یا لکه چه فقها وایی: یحرم قراءة القرآن علی الجنب یعنی تلاوت د قرآن جنب ته حرام دی.

پدی دواړو کی مقصد هم ټول قرآن دی او هم بعضی قرآن.

دعربی خوښول:

الله تعالی عربی ژبه ولی خوښه کړه چه قرآن کریم یی ورباندی نازل کړ؟ پدی هکله د علماء کرامو لاندی نقطو ته اشاره کوم چه په دنیا کی دوه زره اته سوه ژبی دی په ټولو کی عربی افضله ده ځکه:

الف: اعراب په بله ژبه کی نشته، په حبشی ژبه کی لږ شته خو هغه هم له عربی نه اخستل شوی دی.

ب: په عربی ژبه کی اختصار او لندوالی دی.

ج: مضمون اوږد تلفظ یی کم دی.

د: ډیر مرادفات او ډیری معناوی لری او داسی نور حکمتونه.

د عربو خوښول: الله تعالی د عربو قوم ځکه خوښ کړ چه:

الف: آزاد قوم وو د چا تر تاثیر لاندی لکه د روم، فارس او حبشی تر تاثیر لاندی نه وو.

ب: شجاع او غیرتمند قوم وو ځکه بی شجاعته آزادنشوای پاتی کیدلای.

ج: صدق او رښتونولی یی درلوده.

د: په عهد او تړون یی وفا کوله.

هـ: د عقیدی لپاره یی ځانونه قربانول او په خپله عقیده ټینګ ولاړ وو.

۳- په اضافی معنی سره د علوم القرآن معنی:

اضافت پدی دوو کلمو کی اشاره هغو معارفو ته ده چه هغه متصل دی په قرآنکریم پوری که تصورات دی او که تصدیقات دی.

او کلمه د«علوم» جمع ده او جمع یی ځکه ذکر کړه چه د قرآن کریم متعلق علم یو ندی بلکه هر هغه علم ته شامل دی چه هغه د قرآن خدمت کوی لکه:

علم التفسیر، علم القرأت، علم الرسم العثمانی، علم اعجاز القرآن، علم اسباب النزول، علم الناسخ والمنسوخ،علم اعراب القرآن،علم غریب القرآن او د لغت او دین علوم او نور.

پدی هکله امام سیوطی رحمه الله ډیربسط کړی چی علم الطب او د هندسی علم یی هم د قرآن د خدمت علوم بللی.

٤- د علوم القرآن معنی د یوه مدون فن له نظره:

مخکی مو عرض وکړ چه علوم القرآن ته په اضافی معنیٰ سره علوم دینی او علوم عربی دواړه شاملیږی.

لیکن علوم القرآن اوس د یوه خاص علم او مدون فن نوم دی، نو پدی لحاظ سره د هغه تعریف، موضوع او غرض په لاندی ډول لیکل کیږی.

تعریف:

«إنه مباحث تتعلق بالقرآن الکریم من ناحیة نزوله و ترتیبه وجمعه وکتابته وقرائته وتفسیره واعجازه وناسخه ومنسوخه و دفع الشبهة عنه ونحوذلك».

ترجمه: علوم القرآن هغه بحثونه دی چه هغه تعلق نیسی په قرآن کریم پوری له ناحیی د نزوله، ترتیبه، جمعی، کتابته، قرائته، تفسیره، اعجازه،ناسخ او منسوخه او همدارنگه له قرآن نه دشبهو دفعه کول او په مثل ددی نور بحثونه.

موضوعه: القرآن الکریم من اية ناحية من النواحی المذکورة فی التعریف:

یعنی موضوع د قرآن کریم په خپله قرآنکریم دی له هره اړخه چه په تعریف کی ذکر شو.

دا په خلاف د معنیٰ اضافی ده ځکه د علوم القرآن موضوع په اضافی معنیٰ سره مجموع د موضوعاتو د هغو علومو ده چه د هغه تر معنیٰ لاندی راځی.

او موضوع د هر علم د علوم القرآن قرآن کریم دی لیکن له یوی ناحیی د ذکر شویو نواحیو څخه.

مثلاً مونږ وایو د علم القرآن موضوع قرآن کریم ده له ناحیی د لفظ او د اداء د قرآن نه او موضوع د علم التفسیر قرآنکریم دی لیکن له ناحیی د معنی او شرح د قرآن نه.

ثمرته: التوصل إلى فهم معانی القرآن الکریم والتسلح بالمعارف القیمة فیه استعدادالحسن الدفاع عن حمی الکتاب العزیزثم إلى سهولة خوض غمار تفسیر القرآن الکریم به کمفتاح المفسرین.

ترجمه: غرض او ثمره د علوم القرآن دا دی چه د قرآن کریم په معانیو علم پوهه او قیمتی معارف حاصل شی تر څو د قرآن کریم دفاع په ښه توگه د هغه د حمایت لپاره وشی همدارنگه تر څو دقرآن کریم تفسیر او مشکلات ور باندی حل شی دا علم لکه یوه کلی ده د مفسرینو لپاره.

او دا علم مسمی کړ شو په علوم القرآن (په جمع نه په افراد) سره پدی کی دی ته اشاره ده چه دا علم خلاصه د څو علومو متنوعو دی ځکه ددی علم مباحث له علوم دینی او علوم عربی سره بشپړ اړیکی لری .

پدی بحث کی له لاندی کتابونو څخه استفاده شوی ده:

١- مناهل العرفان فی علوم القرآن :الشیخ محمد عبدالعظیم الزرقانی.

٢- عظمت قرآنکریم: حافظ محمدیونس

٣- التبیان فی علوم القرآن کریم : محمد علی الصابونی.

٤- نور الانوار:ملاجیون.

٥- قرآن شناسی: نعمت الله شهرانی.

٦- بنراس:علامه محمد عبدالعزیز الفرهاری.

٧- د مولانا حسن جان صاحب له تقریرونو نه.

٨- د القرآن الحکیم پښتو ترجمه د مولانا عبدالحق صاحب.

د امام بخاري رحمه الله تعالی ژوند ته یوه کتنه

دریمه او وروستۍ برخه

فقه او امام بخاري: ډیر خلك به له فقهي سره د امام بخاري د اړیکو له درلودلو څخه هك پك شي او دغه کوچنی سرلیك به ورته ناآشنا معلوم شي کټ مټ لکه څنګه چه د امام ابوحنیفه رحمه الله له نوم سره د محدث د کلمې له اوریدلو څخه په حیرت کې غوروزیږي.

د فقیه په حیث د امام بخاري د پیژندګلوۍ او اثبات لپاره د خارجي او لفظي دلایلو ضرورت نشته. که په نړۍ کې د کوم شخصیت د پیژندګلوۍ لپاره د هغه داستادانو او شاګردانو آراء او نظریات او پخپله د هغه تقریرونه، لیکنې او آثار تر ټولو ښه هنداره ګڼل کیږي نو مونږ په جرأت سره ویلی شو چه امام بخاري د حدیثو د امام له حیثیت او مقام سره سره د فقاهت په ډګر کې هم ډیر وړاندی ؤ. د امام بخاري شخصیت که څه هم مدح او ستاینو ته اړ نه دی او نه ددی ضرورت شته چه د امام بخاري د ستایلو لپاره د نورو شخصیتونو د اقوالو او بیاناتو اوږدۀ فهرستونه تیار شي خو بیا هم د هغو کسانو د اطمینان په خاطر چه د اقوالو د لوستلو او اوریدلو سره مینه لري د څو تنو نومیالیو شخصیتونو د اقوالو ذکر مناسب ګڼو:

اسحاق بن راهویه، محمد بن بشار، دارمي، علی بن مدیني، ابو حاتم رازي، قتیبه بن سعید، ابوبکر بن ابی شیبة، اسماعیل بن اویس او احمد بن حنبل رحمهم الله هغه شخصیتونه دي چه امام بخاري ته یې د افقه الناس، سیدالفقهاء او فقیه هذه الامة القاب ورکړیدي.

اخلاق، عادات، زهد او تقوی ئی:

امام بخاري رحمه الله ته د خپل پلار څخه زیات مال دولت په میراث پاتې ؤ چه تجارت ئی ورباندې کاوه او آرام ژوند یې درلود خو هیڅکله یې هم د عیش او عشرت وخت نه دی تیر کړی، څه چه به یې ګټل د علم د لاسته راوړلو لپاره به یې مصرفول.

له غریبو او بې وزلو طالبانو سره به یې مرسته کوله او د نورو بې اسرې خلکو لاس نیوی به یې کاوه.

محمدبن حاتم وائی چه امام صاحب خپلی پیسی په مضاربت ورکړی وی او په خپله یی څکه کاروبار نه کاوه چه نه یی غوښتل د نبوی علم د خپرولو په خدمت کی څه خلل پیښ شی.

امام بخاری د ستر عالم محدث او مؤرخ په حیث په خپل شخصی ژوند کی ډیر محتاط ؤ. علامه عجلونی په دی برخه کی یوه واقعه بیانوی او وائی:

امام بخاری د طالب علمۍ په زمانه کی د یو سفر لپاره په کشتۍ کی سپور شو چه زر اشرفۍ هم ورسره وی. یو سړی له امام سره ډیر تود روغبړ وکړ او فوق العاده راشه درشه یی ورسره وکړه. امام هم د هغه زیات عزت وکړ او د خبرو خبرو په ترڅ کی یی ورته د خپلو زر اشرفو حال هم بیان کړ. یوه ورځ سهار دغه سړی راپورته شو او چیغی سوری یی پیل کړی، خلکو پوښتنه څنی وکړه، هغه وویل زما سره د زرو اشرفو نه ډکه کڅوړه وه او اوس راڅخه ورکه ده. سپرو کسانو لټون پیل کړ. امام بخاری په ډیره کراری سره له زرو اشرفو څخه ډکه کڅوړه دریاب ته غوزار کړه، کله چه ولیدل شول له هیڅ یو مسافر سره دغه ډول کڅوړه نشته ټولو خلکو هغه سړی ملامت کړ او توری سپوری یی ورته وویلی. کله چه سفر پای ته ورسید هغه سړی له امام نه پوښتنه وکړه چه اشرفۍ یی څه کړی. امام ورته په اطمنان سره وویل هغه می د دریاب امواجو ته وسپارلی. هغه سړی پوښتنه وکړه څنګه دی جرأت وکړ چه دومره لوی رقم په دومره بی دردۍ سره دریاب ته غوزار کړی؟ ته په کومه دنیا کی ژوند کوی؟ امام ورته وویل زما ټول ژوند د رسول الله صلی الله علیه وسلم د آحادیثو په جمع او تدوین کی تیر شوی دی، زما علمی دیانت او طهارت یو مثال دی خو د غلا دغه تهمت به زما هغه ټوله علمی سرمایه لوټ کړی وه کومه چه ما په ډیرو مشکلاتو او ربړونو په ټول ژوند کی راټوله کړی وه.

امام بخاری هیڅکله هم د چا غیبت نه ؤ کړی او پخپله به یی ویل چه د قیامت په ورځ به زما څخه د غیبت په باب پوښتنه نه کیږی.

رحم او شفقت او له الله تعالی څخه ویره یی په خته کی اخښل شوی وه او خلکو ته د الهی دین د رسولو او د بشریت د لارښود محمد صلّی الله علیه وسلم د عالی هدایاتو د خپرولوسره سره یی عبادت او د کلام الهی تلاوت د ژوند ستره مشغله وه.

د ۲۵۶هـ ق کال د شوال د میاشتی په لسمه نیته د ماسختن د لمانځه نه وروسته په سمرقند کی وفات شو او د وفات د خبر په اوریدلو یی په اسلامی هیوادو باندی د غم او ماتم فضاء خپره شوه، سبا له یی د جنازی لمونځ وشو چه لویو وړو پکی برخه واخسته او د ماسپښین د لمانځه نه وروسته د علم او عمل او زهد او تقویٰ نه ډک شخصیت خاورو ته وسپارل شو.

(انا لله وانا الیه راجعون.)

د حسین رضي الله عنه د شهادت نتایج

هغه څه چه د نن نه څو پیړۍ وړاندی امام ابن تیمیه(رحمه الله) په (۷۲۸-۶۶۱هـ) کی د حسین رضی الله عنه د شهادت او د کربلاء د واقعاتو په باب لیکلی، د حق او اعتدال یو بهترین مثال، د دلایلو او براهینو یوه بی ساری نښخه او لیکوال ته د الله تعالی له لوری د ورکړی شوی عالی استعداد او نبوغ یو شاهکار دی. امام په خپلو تألیفاتو کی ډیر ځله په دغه موضوع بحث کړی په تیره بیا په منهاج السنه کی یی ورباندی ښه رڼا اچولی ده چه مونږ یی د اهمیت او افادیت په نظر کی نیولو سره د لیکنی د یوی برخی پښتو ترجمه وړاندی کوو:

د حسین رضی الله عنه د شهادت په وجه شیطان ته د بدعتونو او ضلالتونو د خپرولو زمینه برابره شوه چه په دغه وجه ځینی خلك د عاشوری په ورځ غم او ماتم جوړ وی، مخونه وهی، ژاړی، ولږه او تنده تیروی مرثي لولی او په دی هم اکتفا نه کوی او سلفوصحابه ؤ ته بدرد او کنځاوی کوی، ورباندی لعنت وائی او په بی گناهانو باندی تورونه تړی، داسی تورونه چه د شهادت له واقعاتو سره یی هیڅ اړیکی نشته، بلکه السابقون الاولون من المهاجرین والانصار ته هم بدرد وایی او بیا چه د شهادت د واقعی په باب کوم کتابونه لولی هغه تر ډیره حده د اکاذیبو او اباطیلو مجموعی وی چه د لیکلو او خپرولو څخه یی د لیکوالانو هدف په اسلامی امت کی د فتنی او فساد د نویو نویو دروازو پرانستل وی.

په داسی حال کی چه د عاشوری په ورځ ځانونه وهل او غم او ماتم جوړول نه واجب دی او نه مستحب بلکه دغه نوحی او ماتمونه او په پخوانیو مصیبتونو باندی ځانونه وهل او ژړاگانی کول د دینی سترو محرماتو په جمله کی شمیرل کیږی بل خوا په مقابل کی بله ډله د عاشوری په ورځ د خوښی او ښادی بدعت سرته رسوی. په کوفه کی دغه دواړه ډلی موجود وی، د شیعه گانو سردار مختار بن عبید او د ناصبیانو مشر حجاج بن یوسف الثقفی ؤ.

د شهادت په واقعاتو کی مبالغه:

هغو کسانو چه د شهادت واقعات لیکلی، زیات دروغ یی پکی گډ کړی دی لکه څنگه چه د عثمان رضی الله عنه د شهادت د پیښی په لیکلو کی زیاتی شویدی او لکه څنگه چه د غزواتو او فتوحاتو د راویانو حال دی، د شهادت د واقعاتو له مؤرخینو څخه بغوی او ابن ابی الدنیا او نورو د بی

اساسه روایتونو تر تاثیر لاندی راغلی او ځینې خو لا داسې هم دي چه بې له اسنادو واقعات او تاریخ بیانوی چه زیاته برخه یې درواغ دي.

یزید د حسین د قتل حکم نه ؤ صادر کړی:

زیات شمیر مؤرخین لیکی چه یزید د حسین رضی الله عنه د قتل حکم نه دی صادر کړی او نه یې د دغه کار لپاره کوم وړاندینی پلان درلود.

بلکه د خپل پلار معاویه رضی الله عنه د وصیت له مخې یې تل د حسین رضی الله عنه زیات احترام او درناوی کاوه او هیڅکله یې نه غوښتل چه د حسین رضی الله عنه په خلاف کوم عمل سرته ورسیږی. حضرت حسین چه کله کربلا ته ورسید او ورته د کوفې د خلکو بې وفائی معلومه شوه نو د هر ډول مطالبی ځخه یې لاس واخست مگر مخالفینو ورته نه خپل وطن ته د بیرته تللو اجازه ورکړه نه یې جهاد ته پریښود او نه یې ورته له یزید سره د ملاقات اجازه ورکوله بلکه غوښتل یې هغه بندی کړی او کله چه هغه له بندی کیدلو سره مخالفت وکړ نو په شهادت ورسید.

یزید او د هغه کورنۍ ته چه کله د حسین د شهادت خبر ورسید ډیر زیات خفه او غمگین شول او ویې ژړل او یزید خو لا وویل:

لعن الله ابن مرجانه(یعنی عبیدالله ابن زیاد) اما والله لو کان بینه وبین الحسین رحمه الله لما قتله.

یعنی د الله تعالی لعنت دی وی په ابن مرجانه، والله که هغه له حسین سره خپلوی درلودی وژلی به یې نه وی.

بیا یې وویل:قد کنت ارضی من طاعة اهل العراق بدون قتل الحسین.

یعنی ما د عراق د خلکو اطاعت د حسین د قتل نه غیر هم منلی شو.

وروسته یې د حسین رضی الله عنه د کورنۍ د پاتې کسانو زیات احترام او درناوی کاوه او په عزت سره یې مدینې ته راوستل.

یزید د اهل بیتو بې حرمتی نه ده کړی:

بیله شکه دا حقیقت دی چه یزید د حضرت حسین رضی الله عنه طرفداری نه ده کړې. نه یې د هغه قاتلان وژلی او نه یې ورځخه د هغه انتقام اخستی خو دا هم کاملاً درواغ دی چه وایی یزید د اهل بیتو میرمنی د وینزو په حیث راوستلی، په هر ځای یې وگرځولی او یا یې بې له کجاوو په اوښانو سپری کړی، الحمد لله مسلمانانو تر اوسه پوری له کومې هاشمی میرمنی سره دغه روش نه دی کړی او نه په امت محمدی کې د دغه کار کوم جواز شته.

لکه څنگه چه وړاندی وویل شو د حضرت حسین شهادت له لویو گناهونو ځخه شمیرل کیږی او هغو کسانو چه د دغه جرم مرتکب شویدی او هغه چا ددغه جنایت په سر ته رسولو کی برخه اخستی او هغه کسان چه وړباندی خوښ شوی دی ټول د الهی عذاب مستحق دی خو د حسین رضی الله عنه قتل د هغو کسانو له قتل ځخه زیات نه دی چه له هغه ځخه افضل دی، د مثال په توگه انبیاء، لومړنی مؤمنین، داسلامی لومړنیو غزواتو شهیدان، حضرت عثمان او پخپله حضرت علی رضی الله عنهم. بلکه د حضرت علی رضی الله عنه قاتل خو حضرت علی رضی الله ته مرتد او کافر وایه او د هغه قتل یې د ځان لپاره عبادت باله. خو دحسین رضی الله عنه قاتلانو دغه نه کاوه. بلکه زیاتو کسانو پکې د هغه له قتل سره مخالفت ځرگنداوه او هغه یې

ستره گناه بلله خو د خپلو اغراضو په خاطر د دغه شنیع فعل مرتکب شول لکه څنگه چه د سلطنت د نیولو لپاره ځینی کسان زیاتي وینی توېوی.

په یزید باندی د لعنت ویلو مسأله:

پاتی شو په یزید د لعنت ویلو مساله، نو حقیقت دا دی چه یزید هم د نورو پاچاهانو او خلفاؤ په شان ؤ بلکه د زیاتو پاچاهانو نه ښه هم ؤ، هغه د عراق د امیر مختتار بن ابی عبیدالثقفی څخه ډیر ښه ؤ مختار که څه هم د حسین رضی الله عنه د ملاتړ جنډه اوچته کړه، د هغه له قاتلانو څخه یې انتقام واخیست خو له دی سره سره یی دا دعوی هم وکړه چه جبرئیل ورته راځی.

دغه شان یزید له حجاج بن یوسف څخه هم ښه ؤ. بلکه حجاج له یزیدنه زیات ظالم ؤ، د یزید او د هغه په شان د نورو پاچاهانو په باب به د فاسق کلمه استعمالول په ځای خبره وی.

د لعنت په باب شرعی مسأله:

کوم فاسق ته په خاصه توگه د لعنت استولو دلیل په سنت نبوی کی نشته، البته د عام لعنت دلیل شته، د مثال په توگه پیغمبر صلی الله علیه وسلم فرمایلی دی:«لعن الله السارق یسرق البیضة فتقطع یده» یعنی په غله دی د الله تعالی لعنت وی چه د یوی هگۍ په غلا باندی خپل لاس پری کوی.

بیا فرمائی:«لعن الله من احدث حد ثاو اوی محدثا» یعنی د الله تعالی لعنت دی وی په هغو کسانو چه بدعت کوی او یا بدعتی ته پناه ورکوی.

یا د مثال په توگه په صحیح بخاری کی راغلی چه یو سړی د شرابو څښلو په جرم څو څو ځل لاس تړلی د رسول الله صلی الله علیه وسلم حضور ته راوستل شو، په وروستی ځل کله چه په نبوی عدالت کی حاضر کړی شو ، یو سړی وویل د الله تعالی لعنت دی وی په ده باندی چه څو ځل د شرابو څښلو په جرم ونیول شو.

پیغمبرصلی الله علیه وسلم و فرمایل:«لا تلعنه فانه یحب الله ورسوله.»

یعنی په هغه باندی لعنت مه وائی ځکه چه دغه سړی له الله تعالی او رسول الله صلی الله علیه وسلم سره مینه لری. په داسی حال کی چه پیغمبرصلی الله علیه وسلم په عمومی حالاتو کی په ټولو شرابیانو باندی لعنت ویلی دی. له دغو مثالونو څخه ثابته شوه چه په عام ډول په یوه خاصه ډله باندی لعنت ویل جایز دی. مگر په کوم ټاکلی شخص باندی چه له الله تعالی او رسول الله صلی الله علیه وسلم سره مینه لری لعنت ویل جایز نه دی اوښکاره خبره ده چه هر مؤمن به ضرور له الله تعالی او رسول الله صلی الله علیه وسلم سره مینه لری.

له صحیحو آحادیثو څخه ثابته ده د چا په زړه کی چه یوه ذره ایمان هم موجود وی بالاخره به له دوزخ څخه نجات پیدا کړی.

په دی بناء هغه کسان چه په یزید باندی د لعنت ویلو تاکید کوی، دوه خبری باید ثبوت ته ورسوی: لومړی دا چی یزید د هغو فاسقانو او ظالمانو له ډلی څخه ؤ چه لعنت ویل ورباندی مباح دی او په همدغه حالت کی تر خپل مرگ پوری پاتی شو. دوهم دا چی د داسی ظالمانو او فاسقانو له ډلی څخه په کوم خاص سړی باندی لعنت ویل روا دی. پاتی شو دا آیت چه (الالعنة الله علی الظالمین) نو دا عمومی دی لکه څنگه چه د وعید او

عذاب آیتونه عمومی حیثیت لری او دا هم ثابته ده چه دځینو حسنه اعمالو په وجه لعنت او عذاب له منځه ځی مثلاً که گنهکار د زړه له اخلاصه توبه وکړی یا داسی نیك کارونه سرته ورسوی چه سیئات او گناهونه پری محو شی یا وربانډی داسی مصیبتونه راشی چه دگناه کارانو له پاره کفاره شی، په دی وجه هیڅوك دا ادعا نشی کولی چه یزید او د هغه په شان نورو پاچاهانو به توبه نه وی کړی او یا به یی سیئاتو د محو کولو لپاره ښه کارونه نه وی کړی او یا به یی د خپلو گناهونو کفاره نه وی ادا،کړی او یا دا چه الله تعالی په هیڅ حال هغه ته بخښنه نه کوی.

په داسی حال کی چه الله تعالی فرمائی:

ان الله لایغفران یشرك به و یغفر مادون ذلك لمن یشاء (النساء-)

بیا په صحیح بخاری کی له عبدالله ابن عمررضی الله عنه څخه روایت دی چه پیغمبر صلی الله علیه وسلم وفرمایل:(له ټولونه وړاندی به هغه پوځ ته چه په قسطنطنیه باندی وجنگیږی بخښنه وشی) او ښکاره ده چه په اسلام کی له ټولو نه وړاندی هغه پوځ چه په قسطنطنیه کی وجنگید مشری ئی د یزید په غاړه وه ویل کیدی شی چه یزید به دپیغمبر صلی الله علیه وسلم ددغه مبارك حدیث له اوریدلونه وروسته په قسطنطنیه باندی دحملی لام تړلی وی

دحسین رضی الله عنه دقاتلینو په باب روایات:

درسول الله صلی الله علیه وسلم له قوله داروایت چه گوندی فرمایلی ئی دی:« دحسین قاتل به داور په تابوت کی وی اودټول دوزخ نیمه برخه عذاب به په یوازی ځان تیروی لاس اوپښی به ئی داور په ځنځیرونو تړلی وی، په دوزخ کی به نسکور پروت وی تردی چه د دوزخ بیخ ته به ورسیږی اودومره بد بوی به لری چه نور دوزخیان به تری پناه غواړی اودتل لپاره به په دوزخ کی سوزی» کاملاً درواغ اودهغو کسانو له خوا جوړشوی چه د اسلام په پیغمبر صلی الله علیه وسلم پوری له تهمت تړلو څخه عار اوشرم نه لری. چیرته دنیم دوزخ عذاب او چیرته یو حقیر اوکمزوری انسان؟ دفرعون او نورو کافرانو اومنافقانو،دانبیاؤ د قاتلانو، د لوړنیو مؤمنینو دقاتلانو عذاب به دحسین له قاتلانو څخه څو چنده زیات وی بلکه دحضرت عثمان رضی الله عنه دقاتلانو گناه هم د حسین رضی الله عنه له قاتلانو څخه زیاته ده دغه شان داروایت هم دروغ او تهمت دی چه دپیغمبر اسلام له قوله وائی: چاچی زما داهل بیت وینه توی کړه او زما خاندان ته ئی تکلیف ورساوه په هغه باندی به دالله اوزما قهر سخت وی«

دغه ډول خبری دبشریت دلارښود اورحمت اللعالمین له مبارکی خولی څخه نشی راوتلی ځکه چه دقرابت اوخپلوی له رشتی څخه داسلام پیغمبر ته دایمان اوتقویٰ حرمت زیات ؤ.

بل خوا د اسلام پیغمبر پخپله فرمائی چه:(دټولو مسلمانانو وینه یو شان حرمت لری) نو دهاشمی اوغیر هاشمی خون یوشان دی. مسلم حقیقت دادی چه ناحق قتل د الله تعالی په شریعت کی حرام دی.«ومن یقتل مؤمناً متعمدا فجزائه جهنم ابداً فیها وغضب الله علیه ولعنه واعدله عذاب عظیماً.»(سورة النساء)

نو معلومه شوه چه دقتل په اباحت اوحرمت کی دهاشمی او غیر هاشمی په گډون ټول مسلمانان یوشان درجه لری، دغه شان رسول الله صلی الله علیه وسلم ته تکلیف رسول حرام دی، دغه تکلیف که د پیغمبر ذات ته وی که دهغه خاندان ته وی، که دهغه امت ته وی اوکه دهغه دسنت دماتولو له لاری وی، نو معلومه شوه چه دغه ډول بی اساسه خبرو ته دپیغمبر اکرم صلی الله علیه وسلم دحدیث نوم ورکول د جاهلانو او منافقینو کار دی چه مؤمنان ئی جرائت نه شی کولی.

دګناهونوله عذاب نه د ځان ژغورنې اسباب

شیخ الاسلام إبن تیمیه رحمه الله فرمائي چه:

د قرآن کریم او نبوی سنتو د نصوصو نه دا ثابتیږی چه بندګان دخپلوګناهونو له عذاب نه د راتلونکو لسو سببونو په واسطه او ذریعه نجات او خلاصون بیا مومی.

لمړی سبب: ټول مسلمانان په دی متفق دی چه توبه د عذاب نه د بچ کیدو لمړنی سبب دی، الله تعالی فرمائي: «**قل یا عبادی الذین اسرفوا علی انفسهم لا تقنطوامن رحمة الله ان الله یغفرالذنوب جمیعا إنه هوالغفور الرحیم.**»

ترجمه: ووایه ای محمده! چه الله پاك وائي:

ای زما هغو بندګانو چه زیاتی مو کړی په خپلو ځانونو مه نااُمیده کیږئ دالله له رحمت نه بیشکه چه الله تعالی د ټولو ګناهونو بښونه او مغفرت کوی او په تحقیق سره الله تعالی د ګناهونو بښونکی او مهربان دی.

په بل ځای کی فرمائي: «ألم یعلموا أن الله هو یقبل التوبة عن عباده ویأخذ الصدقات. وأن الله هوالتواب الرحیم.»

ترجمه: آیا دوی نه پوهیږی چه الله تعالی دخپلو بندګانو توبه قبلوی او دهغوی صدقات او نیك اعمال اخلی او بی شکه چه الله تعالی توبه قبلوونکی او مهربان دی.

دویم سبب: له الله تعالی نه د مغفرت غوښتنه ده.

په صحیحینو (بخاری، مسلم) کی له نبی علیه الصلاة والسلام نه روایت شوی چه هغه صلی الله علیه وسلم وفرمائل: **أذنب عبد ذنباً فقال أی رب أذنبت ذنباً فاغفرلی فقال: أعلم عبدی أن له رباً یغفرالذنوب ویاخذ به قد غفرت لعبدی ثم اذنب ذنباآخر فقال ای ربی اذنبت ذنبا آخر فغفره لی فقال ربه اعلم عبدی ان له ربا یغفرالذنب ویاخذ به قد غفرت لعبدی فلیعمل ماشاء قال ذلك فی الثالثة او فی الرابعه».**

{(د ګناه مرتکب شو یو بنده او وی ویل چه ای ربه زه د ګناه مرتکب شوم نو ته راته ببښنه وکړی نو الله پاك وفرمایل چه زما بنده په دی و پوهیده چه هغه رب لری ګناهونه یی ببښی او نیسی یی په هغی سره په تحقیق سره ما وباښه خپل بنده بیا یی بله ګناه وکړه او وئی ویل چه ای ربه مابله ګناه تر سره کړه، نو ته یی راته وبښی الله تعالی فرمایی پوه شو ځما بنده چه د هغه رب شته چه ګناه ببښی او په ګناه نیول کوی ما خپل بنده ته ببښنه وکړه نو څه یی چه خوښه وی هغه دی وکړی دا یی دریم او یا څلورم ځل وویلی.)}

کله چه کوم بنده په خپله ګناه إعتراف وکړی او بیا په عاجزی او إنکسار او ذلت سره له الله تعالی نه د هغی د مغفرت او ببښنی غوښتنه وکړی

نو الله تعالی یی ورته ببښی.

او همدارنګه په صحیح مسلم کی له نبی صلی الله علیه وسلم نه روایت شوی چه فرمائی:« لولم تذنبوا لذهب الله بکم ولجاء بقوم یذنبون و یستغفرون الله فیغفرلهم»

ترجمه: که چیری تاسی ګناهونه ونکړی نو الله پاك به مو لمنځه یوسی او داسی یو قوم به راولی چه ګناه کوی او له الله نه د خپلو ګناهونو مغفرت غواړی.

چه له دی حدیث نه د مغفرت غوښتلو او إستغفار درجه له ورایه څرګندیږی.

دریم سبب: د ګناهونو لمنځه وړونکی ښیګنی او صالح اعمال.

الله تعالی فرمائی:وأقم الصلاة طرفی النهار وزلفاً من اللیل إن الحسنات یذهبن السیئات ذلك ذکری للذاکرین.

ترجمه: لمونځ آداء کړه دورځی په دوو څندو کی (سهار- مازدیګر) او په ساعتونو د شپی کی په تحقیق سره حسنات اونیکی سیئات او بدی لمنځه وړی دا یو پنددی د پند اخستونکو لپاره:

او رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائی: « الصلوات الخمس والجمعة إلی الجمعة ورمضان إلی رمضان مکفرات لما بینهن إذاإجتنبت الکبائر»

ترجمه: پنځه فرض لمنځونه یوه جمعه تر بلی جمعی او یوه روژه تر بلی روژی د هغو ګناهونو تویوونکی دی چه ددوو تر منځ تر سره کیږی خو په دی شرط چه بنده له کبائرو (کبیره ګناهونو) نه ځان وژغوری په بل ځای کی فرمائی:«فتنة الرجل فی اهله وماله وولده تکفرها الصلاة والصیام والصدقة والأمر بالمعروف والنهی عن المنکر»

ترجمه:د بنده هغه ګناهونه چه د مال، اهل، او اولاد په فتنه او آزمایش کی یی مرتکب شوی دی د لمانځه په اداء کولو د روژی په نیولو د صدقاتو اوخیراتونو په ورکولو او دآمربالمعروف او نهی عن المنکر په ذریعه رژول کیږی.

څلورم سبب: د مؤمن په حق کی د مؤمنانو دعاء ده لکه د جنازی لمونځ. عائشه رضی الله عنها او انس بن مالك رضی الله عنه له نبی علیه الصلاة والسلام نه روایت کوی چه پیغمبر صلی الله علیه وسلم وفرمایل:«مامن میت یصلی علیه امة من المسلمین یبلغون مائة کلهم یشفعون إلاشفعوا فیه» (رواه مسلم.)

ترجمه: په هرمړی چه د مسلمانانو یو سلکسیزه ټولګی د جنازی لمونځ وکړی او د هغه شفاعت وکړی نو الله تعالی به ددوی شفاعت ده په حق کی قبول کړی.

او همدارنګه له ابن عباس رضی الله عنه نه روایت دی چه فرمائی: «سمعت رسول الله صلی الله علیه وسلم «مامن رجل مسلم یموت فیقوم علی جنازته اربعون رجلاً لا یشرکون بالله شیئاً إلا شفعهم الله فیه» (رواه مسلم.)

ترجمه: کله چه یو مسلمان مړ

شي او د هغه په جنازه کې ګډون‌ګډونت داسې کسان شريك شي چه له الله سره هيڅ شريك نه نيسي، الله تعالى به ددوی شفاعت د مړی په حق کې قبول کړی.

دا دعاګانې د مړی لپاره د ښښنې او مغفرت له آسبابو ګڼلی شي.

پنځم سبب: د ژونديو لخوا د هغواعمالو اجراء چه مړی ته د ثواب په خاطر تر سره کيږی لکه خيراتونه او امثال ئې او دا په نبوی صحيحو نصوصو ثابته مسئله ده او ټول ائمه پری متفق دی او همدارنګه د مړی لپاره حج کول او د مريانو آزادول د هغه د ګناهونو د مغفرت سبب ګرځي.

شپږم سبب: د رسول الله صلى الله عليه وسلم او نوروشفاعت دی چه د الله د ګنهګارو بندګانو لپاره به ئې د قيامت په ورځ کوی.

او په دی هکله آحاديث د تواتر درجې ته رسيدلې،لکه چه نبی صلى الله عليه وسلم فرمائي: « شفاعتی لأهل الكبائر من آمتی».

ترجمه: ځما شفاعت دهغو امتيانو لپاره چه د کبيره ګناهونو مرتکب وی.

له دی نه داسې ښکاری چه صغيره ګناوی الله تعالى په حسناتو او نيکيو لمنځه وړی، او دکبيره ګناهونو مرتکب به إن شاءالله د نبی صلى الله عليه وسلم په شفاعت خلاصی ومومی» والله أعلم.

اووم سبب: هغه مصيبتونه او ابتلاوی دی چه د هغو په واسطه الله جل جلاله په دنيا کې د خپل بنده ګناهونه ښيتی.

په صحيحينو کې له نبی عليه الصلاة والسلام نه روايت شوی چه فرمائي: « مايصيب المؤمن من وصب والا نصب و لا هم ولاحزن ولا غم ولا آذى حتى الشوكة يشا كها إلاكفرالله بهامن خطاياه ».

ترجمه: نه رسيږی يو مؤمن ته تکليف، زحمت، خفه کوونکی سوچ او خيال، خفګان،غم او صبر حتی يو اغزی چه پکی ننوزی مګر وبه رژوی په هغه سره دده خطاګانې.

يعني:الله تعالى دخپل بنده ګناهونه او خطاګانې دهغو تکاليفو، زحمتونو، خفه کوونکو سوچونو او خيالونو،خفګانونو، غمونو او ضررونو پواسطه چه په ده تيريږی رژوی او حتی که د يوه ازغی په واسطه ده ته ضرر او تکليف ورسيږی دی پری اجر مومی.

أتم سبب:د قبر له عذاب نه د ويری، ډار او رعب ثواب دی چه د ګناهونو د لمنځه وړلو سبب ګرځي.

نهم سبب: د قيامت د ورځې أهوال، سختی او مشکلات دی چه الله تعالى خپل مسلمان بنده ته پری آجر ورکوی.

لسم سبب: د الله تعالى هغه لوی او ستر رحمتونه، عفوی، مغفرتونه او ښښنې دی چه هغه جل جلاله ئې بيله سبب نه په خپلو ګناه کارو بندګانو کوی بيشکه چه الله تعالى ارحم الراحمين او غافرالذنوب دی الله دی مونږ هم د بی سببو رحمتونو مستحق وګرځوی. آمين.

اسلام له خپلو دښمنانو سره څنګه جنګ کوی او څنګه سوله!

په نړۍ کی یوازی او یوازی داسلام مقدس دین د اصلاح بیرغ پورته کړ او ثابته یی کړه چه اسلام د بشریت دپاره یوازینی اصلاحی دین او دسلامتیٔ لار ده. اسلام د جګړی حقیقت بدل کړ او داسی نوی نظریه او ایدیالوژی یی وراندی کړه چه پخوا ورسره ټوله نړۍ نا آشنا وه.

د اسلام نظریه دا ده چه جګړه او قتال په اصل کی معصیت دی چه هر انسان تری بایدځان وساتی او حکم یی وکړ چه:

من قتل نفساً بغیر نفس او فساد فی الارض فکانما قتل الناس جمیعاً ومن احیاها فکانما احیا الناس جمیعاًo (المائده-۳۲).

هر څوک چه یو انسان بی له دی چه د وینی بدل یی پری وي یا یی په ملك او هیواد کی فساد کړی وی ووژنی نو داسی دی لکه چه ټول انسانان یی وژلی وی او هغه څوك چه یو انسان ته له مرګ او قتل نه نجات ورکړی نو مثال یی داسی دی لکه چه ټولو انسانانو ته یی له مرګه نجات ورکړی وی.

خو اسلام هغه وخت د قتال او جنګ اجازه ورکوی بلکه قتال فرض کوی چه تر هغه لوی معصیت لکه ظلم، طغیان، فتنه، سرکشی او فساد چه اکثر مظاهر او موارد ئی کفر او شرك دی منځ ته راشی او د الله تعالی د مخلوق راحت او هوسایی او ژوند په خطر کی شی نو په دغه وخت کی اسلام د مضرت او فساد او فتنی د دفع کولو لپاره جنګ او قتال ضروری لا څه چه فرض ګڼی او قرآن د قتال په باره کی داسی حکم کوی:

والفتنة اشدمن القتل

(البقرة-۱۹۱)

فتنه تر قتله ډیره سخته ده.

بیافرمائی: **الفتنة اکبر من القتل** (البقرة۰۲۱۷)

یعنی فتنه ترقتل ډیر لوی معصیت دی.

او په دغه شان حالاتو کی یی خپل پیغمبر محمد صلی الله علیه وسلم ته حکم ورکړی دی چه:

یاایهاالنبی حرض المؤمنین علی القتال - (الانفال-٦٥)

ای پیغمبره!مؤمنانو ته دقتال ترغیب ور کړه یعنی جګړی ته یی وهڅوه.

په اسلام کی چه اول جهاد فرض کړی شوی دی د هغه بیان قرآن مجید داسی کوی:

أذن للذین یقاتلون بانهم ظلموا وان الله علی نصرهم لقدیرo

الذین اخرجوا من دیارهم بغیر حق الاان یقولوا ربناالله ولو لا دفع الله الناس بعضهم ببعض لهدمت صوامع وبیع وصلوتٍ ومساجد یذکر فیها اسم الله کثیرا. -(الحج- ۳۹).

د قتال اجازه ورکړی شوه هغو خلکو ته چه د دوی په خلاف جګړه او قتال کیږی ځکه چه دوی مظلومان دی او الله تعالی په یقینی توګه د دویٔ په مرسته قادر دی. دویٔ هغه خلك دی چه له خپلو کورونونه په ناحقه شړلی شویدی صرف په دی وجه چه دوی ویل زمونږ پروردګار الله دی، که چیری الله، خلك یو په بل نه دفع کولی نو د رهبانانو محله خانی او کلیسا ګانی، معابد(د یهودیانو د عبادت ځایونه چه دا هریو پخپل وخت

عبادت ځايونه وو) او جوماتونه چه د الله تعالى نوم په کې ډير يادېږي وران ويجاړ شوي وي.

همدغه شان بل حکم کوي چه:

ومالكم لا تقاتلون فى سبيل الله والمستضعفين من الرجال والنساء والولدان الذين يقولون ربنا اخرجنا من هذه القرية الظالم اهلها و جعل لنا من لدنك وليا وجعل لنا من لدنك نصيرا ○ الذين آمنوا يقاتلون فى سبيل الله والذين كفروا يقاتلون فى سبيل الطاغوت فقاتلوا اولياء الشيطن ان كيد الشيطن كان ضعيفا ○

(النساء-٧٤-٧٦).

آخر څه وجه ده چه تاسي د الله په لار کې د هغو بې وسه نارينه ؤ، ښځو او ماشومانو په خاطر جګړه او مقابله ونه کړئ چه هغوي فرياد کوي چه اې الله! مونږ ددې سيمې نه وباسه چه دا اوسيدونکي يې ظالمان دي. او له خپله طرفه زمونږ د پاره څوك مددګار پيدا کړه.

څوك چه مؤمنان دي هغوئ د الله تعالى په لار کې جګړه کوي او څوك چه کافران دي هغوي د طاغوت د پاره په طاغوتي لار کې جګړه کوي نود شيطان د ملګرو سره جنګ وکړئ او يقين وګڼئ چه د شيطان چالونه په حقيقت کې کمزوري دي.

د جګړې اسلامي نظريه:

څنګه چه په اسلام کې دجنګ هدف او مقصد خپل مقابل او حريف ته زيان رسول ياد هغه هلاکول بالذات مطلب نه دی، بلکه محض دشر دفع کول او دفتنې له منځه وړل او دمظلومانو سره مرسته ده نو اسلام دا اصول وضع کړي دي چه په جنګ کې دې صرف دومره قوت استعمال شي چه څومره ضروري وي او څو مره قوت چه دشر او فتنې دله منځه وړلو لپاره ناګزيروي او دغه قوت دې صرف او صرف دهغو طبقو ياډلو ياهيوادونو په خلاف استعمال کړې شي چه داسلام سره عملاً دجګړې ډ ګر ته راوخې يالږ ترلږه دهغوي نه دشر خطره وي. دکفارو نورې ډلې بايد دجنګ له آغيزو او اثراتو نه محفوظې اوبچ وي.

همدغه شان دې دجګړې په دوران کې د د ښمن هغه شيان نه زيانمن کيږي چه د جګړې سامان نه وي او يائې دجګړې سره څه تعلق نه وي. دجنګ دغه تصور دهغونظرياتو نه بيخي جدا او مختلف ؤ چه په عامو غير مسلمانو د ماغو کې پروت ؤ. اسلام دهغې زمانې دټولو هغو رواجي لغاتو اوعباراتو نه بيخي جدا يوه اصطلاح غوره کړه او دزمانې ټول هغه رواجي الفاظ يې پرې ښودل او ددغه مقدس جنګ او اصلاحي جګړې لپاره يې د«جهاد فى سبيل الله» يعنې د الله په لاره کې دجهد او کوشش په نوم اصطلاح منځته راوړه، ځکه چه دغه جنګ او قتال که څه هم جنګ او قتال دی خو هدف يې اصلاح او دالله تعالى مخلوق ته خير او ښيګڼه رسول دي او دهغو وحشيانه جنګونو دتصورنه بيخي يوه جدا نظريه ده. دلغت له مخې دجهاد معنیٰ «دهدف او مقصد دترلاسه کولو لپاره انتهايي کوشش کول دی»

په دې ټکي کې نه د«حرب» دلغت په څير دقهر اوخشم او نهب (لوټ مار) مفهوم شامل دی او نه د«روع» دويرې او دهشت معنی چه مفهوم ئې يوازې ويره او فزع دی. همدغه شان په دې عبارت کې د«شر» دټکي په شان دبدئ اوشرارت تصورهم نشته او د«نکاح» يعنې دځناورو په څير دښکرو اچولو او تصادم په مفهوم پکې دوحشت او بهيميت او حيوانيت خيال هم نشته. نه پکې د«کريهه» يعنې دزور زياتي غوندې دمصيبت اوشدت تصور شته بلکه دجهاد دکلمې نه څرګند او واضح مفهوم دا ښکاري چه دمجاهد اصل غوښتنه او مشيت دمضرت اوضرر او فتنې ختمول دي او ددغه کارله پاره هغومره کوشش پکارد ی څومره چه دمضرت او فتنې دليرې کولو دپاره پکار وي، خو ددې مفهوم د اداً کولو لپاره يوازې د «کوشش» لفظ دغه معنیٰ او مفهوم نشو اداءکولی، ځکه چه ددې ټکي له مخې ددغې اصطلاح ټول اړخونه نه رڼا کيږي. نو د زيات تحديد او حد بندۍ لپاره چه ددغو ټولو يادو شوو نښتو او

تصادماتونه یو ځانته او جدا مفهوم ولري د «جهاد» سره د «في سبيل الله» دکلمې قيد ولګول شو چه يعنې دغه کوشش يواځې او يواځې د الله تعالى په لاره کې دی او د بشر او حيوان او حتی د نړۍ د ټولو شيانو کوشش د خير او ښيګڼې د پاره کوشش دی لکه چه قرآن کريم کې فرمائي:

«ومن جاهد فانما يجاهد لنفسه. ان الله لغني عن العلمين» يعنی څوك چه جهاد کوی دخپل ځان يعنی د (نوع بشر) دښيګڼې لپاره يې کوی، الله تعالى خو نړۍ والوته هيڅ احتياج نه لري، داسې کوشش دی چه دهيڅ ډول نفسی خواهش، د هيوادونو دتسخير تنده، دکومې ښځې دوصال آرزو يادکوم ذاتی عداوت او دښمنۍ يا دانتقام جذبه، يادمال او دولت پيداکولو او اقتدار ته درسيدلو دمقصد ځای او ګنجايش پکې نشته او که دغه پکې وی نو بيا دجهاد في سبيل الله مفهوم معنی نه لري. جهاد في سبيل الله يوازې او يوازې دهغه مقصد دپاره جهد او کوشش دی چه دالله تعالى درضا مطابق وی اولار اوطريقه به ئې داوی چه: **والذين جاهدو فينا لنهدينهم سبلنا وان الله لمع المحسنين**» (العنکبوت-٦٩)

په دی لړکی الله تعالى انسان ته اطمينان ورکوی او فرمائي «څوك چه زما په لاره کی جهاد کوی نو مونږ ورته خپله لاره وربښايو او يقينی خبره ده چه الله تعالى دنيکو کارو مرسته کوی».

ددی حکم مقصد دادی چه کوم خلك چه د الله تعالى په لارکی په اخلاص سره ټولو سختيو او خطراتو ته دهمت ملاوتړی نو الله تعالى هم هغه يوازې او بې اسرې نه پريږدی بلکه خامخا ئې مرسته کوی او لارې ورته ښيئی او خپل حضور ته دزياتو نژدې کيدو دروازې ورته پرانيزی او ګام په ګام ورته دا څرګندوی چه زما خوښی او رضاء څرنګه ګټلی شی. او څومره چه مجاهد د الله د جهاد په لاره کی په اخلاص کی وی هغومره ورته زيات توفيق په برخه کيږی خو البته د جهاد نيك نيتی او صميميت او اخلاص لومړی شرط دی.

په دغه آيت کی د مجاهدی عبارت استعمال شوی دی. مجاهده دبيلو بيلو طاقتونو او قواؤ په خلاف جدوجهد او کوشش يا جهاد کول دی. مؤمن چه په دی نړۍ کی د کومو طاغوتی قوتونو په خلاف جهاد او جهد کوی نو کيدی شی چه په هر ګام او هر قدم ورته د راز راز او قسم قسم زيانونو او خطراتو ويره هم پيدا شی او له دغه کوشش نه د پښا تللو د پاره ورته هر ډول تحريص او ټمه او د ناروا لذتونو او دنياوی ګټو اميدونه هم ورکړی شی نو په دغه وخت کی به مجاهد د خپل نفس په خلاف هم مجاهده کوی او د نفس د غلامۍ نه د آزادۍ او د جهاد په لاره کی د ناجايزو ګټو او مالی منافعو د ترلاسه کولو نه دځان ساتنې د پاره به د نفس او شيطان سره هم جهاد کوی. مجاهد به د خپل کور او فاميل نه نيولی د خپل چاپيريال او ماحول او د هيواد د خلکو سره هم مجاهده کوی، تر څودی د جهاد په صحيح او سم مسير روان شی او يو خوا بل خوا ترې ګمراه او اغوا نه شی او دالله تعالى د فرمان مطابق د خپلو خواهشاتو د خپل کلی او کور د خواهشاتو او ټولو نفسی غوښتنو او خلکو د ملامتيو نه بې پرواه او آزاد د جهاد په لاره روان وی او د قرآن دا حکم يې په ځان باندی پوره تطبيق او عملی کړی وی چه: «**يجاهدون في سبيل الله ولا يخافون لومة لائم**»

يعنی د الله په لاره کی جهاد کوی او د ملامتونکو له ملامتيا نه ويره نه کوی.

مجاهد به د هغو ټولو نظرياتو، ايډيالوژيو، رجحاناتو، رسمونو او رواجونو او تمدن د ژوند د طرز او تفکر په خلاف مجاهده کوی چه هغوی د الله تعالى د قانون خلاف او برعکس او متصادم وی، مجاهد به دغه جهاد په خپلو ټولو وسايلو کوی. په ژبه، په قلم، په لاس، په فکر، په توره، په ټوپك او د ټول عمر د پاره به، ددغه کار لپاره مصمم وی، لکه حسن بصری رحمت الله

علیه چه فرمائی:

«ان الرجل لیجاهدو وماضرب یوما من الدهر بسیف».

انسان به جهاد کوی خو یوه ورځ به یی هم توره نه وی چلولی. یعنی جهاد یوازی په توره نه دی په قلم، په ژبه، په عکس العمل او په مال هم جهاد کیږی لکه څنگه چه رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائی: **من جهز غازیا فهو غازی.** (الحدیث)

هغه جهاد چه د توری او وسلی په ذریعه کیږی د هغه د پاره اسلام د جنگ یو قانون جوړ کړی چه په هغه کی د جنگ آداب، اخلاقی حدود، د محاربوی دښمنانو کافرو حقوق، د غیر مقاتلینو او مقاتلینو کافرو امتیاز اود هغوی سره چال چلن، د معاهدو کافرو حقوق، معاهدی او تړونونه چه د غیر محاربو کفارو سره لاس لیك کیږی، د کافرو حکومتونو د سفیرانو او جنگی قیدیانو حقوق، د فتح شویو قومونو حقوق، ټول په تفصیل سره بیان شوی دی، په دغو برخو کی احکام صادر شوی او عملی شوی دی او پخپله داعی اسلام حضرت محمد صلی الله علیه وسلم او خلفای راشدینو او نورو اسلامی مشرانو مونږ ته د نقش قدم په حیث پری ایښی دی.

د جهاد فی سبیل الله د جنگ د دغه قانون مقصد دا نه ؤ چه د جنگ د پاره د کاغذ په مخ یوه قانون نامه ولیکله شی او په هغه باندی د عمل څه پته ونه لگی، بلکه اصل هدف او مقصد دا ؤ چه د وحشیانه جنگونو ټولی بهیمانه او وحشیانه طریقی د جهاد په مقدس جنگ کی ځای ونه لری او: جگړی یو مهذب قانون نافذ کړی شی؛ ځکه چه تر اسلام پخوا د خلکو په زړونو او دماغو کی د پیړیو پیړیو راهیسی دې غلط فکر او خیال ځای نیولی ؤ چه جنگ خو یوازی او یوازی دمال دولت د گټی، د ملك او ځمکی د تر لاسه کولو، د خلکو او ملکونو د تسخیر، شهرت او نوم گټلو، حمیت او عصبیت د پاره کیږی او چه ددغو کارونو د پاره نه وی نو بیا څوك جنگ څله کوی؟ او چه جنگ کوی نو بیا به داسی وی چه جنگ به یو طوفان وی، نه به تری ماشوم بچ پاتی وی، نه ښځه، نه زوړ او نه کمزوری. نه به ترې د چا کور په امان وی او نه به تری څوك په کور کی دننه محفوظ وی. یعنی هغه د کمونستانو په اصطلاح بی آمانه جنگ به وی.

زمونږ ددی مجموعی لوستونکی به په دی اصطلاح خبر وی چه کمونستان خپلی سعی بالفساد ته مبارزهٔ بی امان، مبارزهٔ آشتی ناپذیر، او آتشین او خونین او دا ډول نومونه ورکوی.

خو اسلام خپله مقدسه مبارزه دامن، سولی اوسلامتیٔ په شرایطو کی دننه سرته رسوی او چه ضرورت شی نو په نړۍ کی د امن او سلامتیٔ د بر قرار سا تلو دپاره بیا ډیر مهذب او د انسانیت او بشریت د ټولو کراماتو په چوکاټ کی دننه جنگ کوی، چه دښمن سولی ته غاړه کیږدی، اسلام ورسره په هماغه ساعت سولی ته راضی کیږی او چه جنگ کوی نو تر هغه ورسره جنگ کوی چه فتنه او فساد له منځه لاړ شی او د الله تعالی مخلوق ته راحت او هوسائی ورسی او دښمن د انسانانو د څوررولو نه لاس واخلی او د الله تعالی طبیعی او فطرتی او د فطرت د اصولو سره سم آسمانی قانون ته غاړه کیږدی.

داعی اسلام قائد مجاهدین صلی الله علیه وسلم لومړی کار دا وکړ چه د جهاد فی سبیل الله مفهوم او حدود یی د جهاد فی سبیل الطاغوت نه جدا او ممتاز کړل او دا خبره یی پوره څرگنده او واضح کړه چه د جهاد فی سبیل الله جگړه بی امانه او آشتی ناپذیره یا آتشینه او خونړۍ جگړه نه ده، په دی کی هر وخت د سولی، آمان او آشتیٔ او سلامتیٔ امکانات پراته دی. جنگ دی صرف د شرك او کفر د جهالت د تیارونه د مظلوم انسانیت د راویستلو او د انسان د ظلم او استبداد نه دانسان د نجات او د انسان د غلامیٔ نه د انسان د خپلواکیٔ او آزادیٔ لپاره. د انسان د ناموس، عزت او بشری کرامت د خوندی ساتنی او د فردی او اجتماعی آزادیٔ په

ځای ساتلو او دانسان د سر اومال د حفاظت لپاره او بس. په دغه لړ کی چه رسول الله صلی الله علیه وسلم کوم ارشادات او هدایات فرمایلی دی دا دی یو څه لنډ غونډې نمونه یی د صحیح البخاری، صحیح المسلم، ابوداؤد، نسائی، ابن ماجه، ترمذی او موطاء امام مالك نه نقل کیږی. د ابو موسی اشعری نه روایت دی چه: **جاء رجل الی النبی صلی الله علیه وسلم فقال رجل یقاتل للمغنم ورجل یقاتل للذکر ورجل یقاتل لیری مکانه، فمن فی سبیل الله؟ قال من قاتل لتکون کلمة الله هی العلیا فهو فی سبیل الله.**

یو سړی رسول الله صلی الله علیه وسلم ته راغی او وئی ویل چه څوك د غنیمت د مال د پاره جنګ کوی، څوك د شهرت او نوم د پاره جنګ کوی څوك د خپلی بهادرۍ او شجاعت ښودلو د پاره جنګ کوی، تاسی دا وواياست چه دالله تعالی په لاره کی کوم یو تن جنګ کوی؟ هغوی وفرمايل چه دالله تعالی په لاره کی هغه څوك جنګ کوی چه مقصد او هدف یی د الله تعالی د کلمی (د الله ددین) مقام لوړول وی او بس.

د همدی ابو موسیٰ اشعری رضی الله عنه نه بل روایت دی چه وائي:

جاءَ رجل إلی النبی صلی الله علیه وسلم فقال یا رسول الله ما القتال فی سبیل الله؟ فان احد نایقاتل غضباً ویقاتل حمیة فرفع إلیه رأسه فقال من قاتل لتکون کلمة الله هی العلیاء فهو فی سبیل الله.

یو سړی نبی صلی الله علیه وسلم ته راغی او وئی ویل چه یارسول الله! قتال فی سبیل الله څه شی دی؟ په مونږ کی ځینی خلك دغضب په جذبه جنګ کوی او ځینی دقومی حمیت او غیرت په اساس جنګ کوی. رسول الله صلی الله علیه وسلم سر مبارك راوچت کړ اووئی فرمایل: څوك چه د الله ددین(کلمة الله) دلوړتیا لپاره جنګ کوی هغه د الله تعالی په لاره کی جنګ دی.

د ابو امامه باهلی رضی الله عنه نه روایت دی چه وائی: درسول الله صلی الله علیه وسلم حضورته یو شخص راغی او وئی ویل: ارءیت رجلاً غز ایلتمس الأجر والذکر؟ ماله ؟

دغه سړی په باره کی ستاسی څه رایه ده چه دمالی منافع او نوم پیدا کولو لپاره جګړه کوی. دغه سړی ته به د غزا کولو څه اجر ورکړی شی که نه؟ رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته وفرمایل: «لاشیئ له» دهغه دپاره هیڅ اجر نشته.

د سوال کوونکی دپاره دغه خبره څه عجیبه غوندی وه. نو را وګرځید او پوښتنه ئی بیا تکرار کړه، رسول الله صلی الله علیه وسلم بیا هماغه ځواب ورکړ، دهغه بیاهم اطمینان ونه شو او پوښتنه ئی بیا تکرار کړه. نو په پای کی ورته رسول الله صلی الله علیه وسلم دهغه داطمینان لپاره وفرمایل: **ان الله لایقبل من العمل الاما کان له خالصة وابتغی به وجهه»** الله تعالی ترهغه وخته پوری یو عمل نه قبولوی چه ترڅو هغه خالص دالله تعالی درضاء او خوشحالی د حصول دپاره نه وی.

له عباده بن صامت رضی الله عنه نه روایت دی چه یو ځل رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل « من غزا فی سبیل الله ولم ینو الا عقالاً فله مانوی» څوك چه د الله تعالی په لاره کی دغزا دپاره لاړ او صرف د اوښ تړلو دیوی رسۍ داخستو نیت ئی هم په زړهٔ کی وه نو بس هغه ته به هماغه رسۍ ورسی نور ثواب ئی نشته.

دمعاذ بن جبل رضی الله عنه نه روایت دی چه رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمائل.

الغزو غزوان، فامامن ابتغی وجه الله واطاع الامام وانفق کریمته واجتنب الفساد فان نومه ونبهه اجر

كله واما من غزا رياء ً وسمعة وعصى الامام وافسد فى الارض فانه لايرجع بالكفاف.

غزاگانی په دوه ډوله دی یو هغه دی چه یوسړی خالص د الله تعالی درضاء دپاره جنگ وکړی او دجنگ په حالت کی دخپل امام اطاعت وکړی، خپل ښه مال د الله تعالی دجهاد په لاره ولگوی او په سیمه کی دفساد کولو نه ځان وساتی نو ددغه سړی خوب او ویښه دواړه حالته داجروړدی او ثوك چه دریاء او ځان ښودنی دپاره جنگ وکړی او دنوم ښکاره کولو دپاره جنگ وکړی او دامام نافرمانی وکړی نو هغه به خلاص نه شی یعنی برعکس به په عذاب اخته شی.

دحضرت ابو هریره رضی الله عنه نه روایت دی چه یوځل رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل.

اول الناس یقضی لهم یوم القیامة ثلاثة، رجل استشهد فاتی به فعرفه نعمه فعرفها قال فما عملت؟ قال قاتلت فیك حتی استشهدت قال کذبت ولکنك قاتلت لیقال فلان جریئ، فقد قیل ثم امر به فسحب علی وجهه حتی القی فی النار، (الی آخر الحدیث) دقیامت په ورځ به ترټولو وړاندی ددری ډوله خلکو په باره کی حکم او فیصله وشی. اول به هغه سړی احضار کړی شی چه په غزا کی شهید شوی وی الله تعالی به په هغه باندی خپل نعمتونه حساب کړی او هغه به هم اقرار وکړی چه هو! الله دغه ټول نعمتونه ماته راکړی وو. نو بیا به تری الله تعالی تپوس وکړی چه تا زما د پاره څه کړی دی؟

هغه به ووائی چه زه تر هغه وخته ستا په لار کی جنگیدم چه شهید شوم نو الله تعالی به ورته ووائی چه دروغ دی وویل، ته خوددی لپاره جنگیدی چه خلك ووائی چه فلانی ښه بهادر اوزړور مجاهد دی، نوستا هغه مقصد پوره شوی دی او الله تعالی به دهغه پحقله دعذاب حکم وکړی او پرمخ به جهنم ته ورگوزار کړی شی.

دغه اسلامی تعلیمات دی چه د جهاد فی سبیل الله مقدس جنگ د هر قسم دنیوی اغراضو، غنیمتونو تر لاسه کولو، وسلو راغونډولو او وسلی اخستو او دترینگ په نوم یا دتشکیل په نوم د وسلی د ترلاسه کولو، وسله خرڅولو، دشخصی عداوتونو په مقصد جنگ کولو، د تکړه قوماندان د نوم گټلو او بیا په جهادی تنظیمونو کی د شهرت گټلو په وجه د زیاتو وسلو او مهماتو اخستو او هغه په شخصی منافعو په کار راوستو او ځانته د شخصی گټو لپاره د جهادی تنظیمونو په نوم د ډلو جوړولو او خلکو نه د انتقام اخستو د خپل قهر او غضب په اساس په یو چا بل چا باندی د کافر تهمت لگولو او مجاهدین بی وسلی کولو او د هغه وسلی ځانله اخستلو او نورو دنیوی او شخصی اغراضو او شخصی او سیاسی یا تنظیمی مفادو او اغراضو له ککړتیا نه پاك ساتی او دغه ټول اعمال ښیی چه ددغو کارونو لپاره جنگ جائز نه دی او څوك چه د دغو مقاصدو لپاره جنگ کوی نو جهاد ئی فی سبیل الله ندی. د بدو اغراضو او ناوړو مقاصدو د پاره جنگ الله ته قبول نه دی. د جهاد د ټولو شرائطو او واجباتو او سپیڅلو مقاصدو د بیان او وضاحت نه وروسته بیا هم قائد المجاهدین حضرت محمد رسول الله صلی الله علیه سلم د جهاد د مقدس جنگ د ډگر توریالو مجاهدینو ته داسی هدایت او قومانده ورکوی او هغوی ته د صبر، استقامت او شجاعت درس ورکوی لکه چه فرمائی:

لاتتمنوا لقاءالعدو واسئلوا الله العافیة فاذا القیتموهم فاصبروا واعلموا ان الجنة تحت ظلال السیوف.

ددشمن سره د مقابلی تمنامه کوئ بلکه له خپل رب نه دامن او عافیت دعا غواړئ خو چه ددشمن سره په جگړه کی مقابلی ته مخامخ شوئ نو بیا کلك قیام کوئ او په ښه کلك عزم جنگ کوئ او وپوهیږئ چه جنت د تورو تر سیوری لاندی میندل کیږی.

اطاعت رسول الله صلى الله عليه وسلم

معذرت

در تعدادي ازمجلات شماره گذشته سطر اول ستون سوم مضمون تعليمات اسلامی كلمات (خبیثتان الحبیثت) به(خبیثة اجتثت) تصحیح و خوانده شود. متشکریم.

قل یاایهاالناس انی رسول الله الیکم جمیعا الذی له ملك السموات والارض لا اله الاهو یحیی ویمیت فامنوا بالله ورسوله النبی الا می الذی یومن با لله وکلماته واتبعوه لعلکم تهتدون. (الاعراف-۱۵۸)

ترجمه: ای (محمد صلی الله علیه وسلم) بمردم اعلام کن که بدون شك من پیامبر الله ام وبه کافه شما فرستاده شده ام، الله یعنی ذاتیکه پادشاه آسمانها وزمین است وجز او معبودی نیست، اوزنده می کند ومی میراند، پس شما الله وپیامبر امی اش راتصدیق کنید، این پیامبر به الله تعالی وکلماتش ایمان دارد، شما ازسنت این پیامبر پیروی کنید تاراه یابید.

درآیة مبارکه فوق ذات اقدس الهی به کافه بشریت دستور میدهد تااز محمد رسول الله صلی الله علیه وسلم تصدیق نماید واز آنحضرت پیروی کنند،در بخش نخست کلمه طیبه یعنی لااله الا الله توحید ذات اقدس الهی روشن گردیده که درشماره های گذشته ازآن بحث بعمل آمد . پس از تصدیق توحید ذات یکتای الهی، دومین بنیان اسلام تصدیق رسالت محمد رسول الله(صلی الله علیه وسلم) وگواهی دادن برآن است، رسول بمعنی پیامبر وپیام رسان بوده ودر اصطلاح شرعی شخصیت نیکو وصالحیکه خداوند پاك برایش کتاب داده وجهت هدایت و رهنمونی بشریت به گیتی فرستاده شده بنام نبی وپیامبر شناخته میشود.

رسولان وپیامبران، این بندگان نیکو وبرگزیده الله تعالی از کلیه گناهان پاك ومنزه بوده ومتصف به همه نیکوئی ها وحسنات میباشند .

اطاعت رسول الله(صلی الله علیه وسلم) پیامبر بزرگوار اسلام ومعلم بشریت برهمه مردم فرض است. بدون پیروی از پیامبر (صلی الله علیه وسلم)کسی بحیث مؤمن ومسلمان شناخته شده نمیتواند. قرآن عظیم الشان پیرامون فرمانبرداری پیامبر اسلام تاکید ورزیده و آنانیراکه از پیروی پیامبر سر باز زنند بحیث کفار ومنکرین معرفی داشته عذاب شدید جهنم را برای شان وعده داده است، معنی اطاعت رسول الله صلی الله علیه وسلم اینست که درهمه شئون زندگی اقوال وافعال پیامبر اسلام راپیاده باید کرد ومعاملات ومنازعات زندگی انسانی باید بروفق هدایات دانشمندانه پیامبر اسلام حل وفصل شود ، واین هدایات پیامبرانه را بدون چون و چرا باید پذیرفت و از آن مخالفت نباید کرد.آنانیکه جزء دوم کلمه طیبه (محمدرسول الله)را بزبان ورد میکنند و معاملات ومنازعات شانرا طبق قوانین کفری وطاغوتی فیصله میکنند و در مقابل قوانین اسلامی به قوانین کفری وطاغوتی راومی آورند درحقیقت رسولله صلی الله علیه وسلم رانپذیرفته وایمان وعقیدتش کاملاً برضداسلام است. آنانیکه از رسول الله (صلی الله علیه وسلم) اطاعت کامل میکنند روز رستاخیز با صالحین ونیکو کاران خواهند زیست.

قرآن مجید می فرماید:

اطیعوا الله واطیعوا الرسول.

یعنی از الله تعالی اطاعت کنید وفرمان رسول راپذیرید.اینکه چگونه از خداوند عالمیان اطاعت باید شد، چه

کارها یست که خداوند برآن خوشنود می شود واز چه کارهائی ناخوش است دو طریق وجود دارد: یکی راه بلاواسطه بدین معنی که الله تعالی خود هدایت می دهد که چگونه باید از اوتعالی عبادت واطاعت بعمل آید وکسی که این فرمان برایش داده می شود نبی ورسول است، طریق دوم آنست که مطابق دستورات پیامبر از الله تعالی پیروی شود و در اطاعت پیامبر اطاعت الله تعالی جستجو گردد. اکنون که سلسله نبوت بپایان رسیده و پیامبر جدیدی برگزیده نمیشود باید از رسول الله (صلی الله علیه وسلم) که آخرین پیامبران است ودعوتش به کافه بشریت متوجه است همه انسانان گیتی به اطاعت وپیروی پیامبر اکر م مکلف اند، اطاعت بعمل آید. اطاعت الله تعالی بجز پیروی محمد صلی الله علیه وسلم پذیرفته نمیشود. اطاعت رسول الله صلی الله علیه وسلم درحقیقت اطاعت الله تعالی است. الله تعالی می فرماید.

وارسلناك للنا س رسولا وكفى بالله شهيدا○ من يطع الرسول فقد اطاع الله ومن تولى فما ارسلناك عليهم حفيظا○ (النساء-۸۰)

ترجمه: ای پیامبر (صلی الله علیه وسلم) تراب‌حیث پیامبر به کافه بشریت فرستادیم آنکه از فرمان رسول اطاعت ورزد در حقیقت حکم الله رابجا آرد وآنکه سر باز زند ترابحیث حامی ومددگار انها نفرستاده ایم.

همچنان نافرمانی وعدم اطاعت از دستورات پیامبر درحقیقت عدم اطاعت الله تعالی است، الله تعالی آنانیرا که از فرمان پیامبرش سرباز می زنند نکوهش می کند ومی فرماید:

ومن يشاقق الرسول من بعد ماتبين له الهدى ويتبع غير سبيل المؤمنين نوله ماتولى ونصله جهنم وسآءت مصيرا ○ (النساء- ۱۱)

ترجمه:وشخصیکه پس از دریافت راه هدایت بارسول الله مخالفت ورزد واز طریق مسلمانان منحرف شود (وراه دیگری رادرپیش گیرد) به همان راه منحرفیکه خودش انتخاب کرده به پیش خواهد رفت و وارد جهنم خواهد گردید که بد ترین جایگاه است.

مطلب آیه مبارکه فوق کاملاً روشن است یعنی شخصیکه باوجود ظهور هدایت ونزول قرآن وحقانیت اسلام بارسول الله(صلی الله علیه وسلم) خصومت ورزد وراه پیامبر برگزیده الله تعالی وراه اسلام عزیز راترك گفته راه دشمنان اسلام را د رپیش گیرد و گمراهی را درمقابل هدایت برگزیند مانیز به همان راه جهالت وضلالت توفیق رفتن را برایش ارزانی خواهیم داشت، راهیکه خودش برگزیده وراهیکه به جهنم منتهی میگردد.

رسول الله صلی الله علیه وسلم را پروردگار عالمیان پیامبری برای بشریت ارسال داشته تااقوال وافعال پیامبر اسلام در همه شئون زندگی مسلمین بطریق احسن تطبیق گردد. الله تعالی می فرماید:

لقد كان لكم فى رسول الله اسوة حسنة لمن كان يرجو الله واليوم الآخر وذكرالله كثيرا○ (الاحزاب-۲۱)

ترجمه: بدون شك وجود پیامبر اسلام نمونه خوبیست برای آنانیکه آرزو دارد از خداوند و روز رستاخیز والله تعالی رابکثرت یاد میکند.

کسا نیکه ظاهراً ادعای ایمان واطاعت الله تعالی ورسولش رامیکند اماقلبًا وعملاً راه خصومت رادرپیش می گیرند وزمانیکه به فیصله شرعی محول میگردند، اگر منفعت دنیوی را مشاهده کرده به فیصله وحکم شریعت لبیك می گویند اگر حق بطرف دیگر بود وشریعت برعلیه شان اصدار حکم نماید، سرباز می زنند وبافیصله شرعی مخالفت میکنند بنام منافق یاد شده است.

وصف مؤمن اینست که از الله ورسولش اطاعت میکند ومنافع دنیوی را در مقابل فیصله شریعت مدنظر نمی گیرند.

باقیدارد.

د توحید د شمعې پتنګان

حضرت عاصم (رضی الله عنه)

د احد په غزا کې کوم کافران چه مردار کړی شوی وو، د هغوی په خپلوانو او پاتی کسانو کې د انتقام او بدلی اخستلو جوش او خروش په تیزۍ کې ؤ «سلافه» د هغې ښځې نوم ؤ چه دوه زامن یې په دی غزا کې مړه شوی وو. هغې نذر منلی ؤ چه که چیری د «عاصم» (ددی د زامنو قاتل) سر څوك ورته راوړی، نودا به د سر راوړونکی ته سل اوښان انعام ورکړی او د عاصم رضی الله عنه د سر په کاسه کی به شراب وڅښی! «سفیان بن خالد» د هغه دسر د راوړلو لپاره کوښښ پیل کړ، هغه د «عضل» او «قاره» څو سړی مدینی منوری ته ولیږل، دې خلکو ځانونه مسلمانان معرفی کړل او له نبی علیه السلام نه یی د تعلیم او تبلیغ لپاره له ځان سره د څو تنو مبلغینو د بیولو غوښتنه وکړه چه پدی لړ کی یی د عاصم رضی الله عنه د لیږلو غوښتنه مخصوص کړه او داسی یی وښودل

چه د ده وعظ او تبلیغ د خلکو ډیر خوښ دی.انبی علیه الصلوة والسلام د عاصم رضی الله عنه په شمول لس نفره او په ځینو روایاتو کی شپږ نفره له دوئ سره ولیږل. پر لاری دغو کسانو له صحابه کرامو سره غداری او وعده خلافی وکړه او د مسلمانانو دښمنان ئی دهغوی د مقابلی لپاره راوبلل چه د بنولحیات (۲۰۰) دوه سوه کسان وو چه په دوی کی(۱۰۰)سل کسان ډیر مشهور غشی ویشتونکی وو. پر لاری د لسو او یا شپږو تنو له دوه سوو کسانو سره مقابله وشوه. د الله تعالی شان دی چه د الله تعالی په مینه مست صحابه له دغو غدارانو سره بنه په میړانه وجنګیدل، خو چه کله یی خپله لړتیا حس کړه، نو د «فدفد» غره ته وختل، ځکه چه هلته د کفارو زور نه رسیده. کفارو چه خپله ذلیلتیا ولیده نو بیا یی له مکر نه کار واخیست او صحابه کرامو ته

یی وویل چه تاسو له مونږ سره راشئ، مونږ خپله څمکه ستاسو په وینو رنګول نه غواړو، بلکی مقصد مو یوازی او یوازی ستاسو په بدل کی د مکی له خلکو نه د څه مال اخستل دی او بس. صحابه کرامو رضی الله عنهم ورته وویل چه مونږ بیا د کفارو په وعدو نه تیروزو، نو له تیرکش نه یی غشی وویستل او مقابله یی وکړه. کله چی غشی ختم شول په نیزو یی مقابله وکړه. عاصم رضی الله عنه خپلو ملګرو ته په جوش کی وویل چه له تاسی سره دوکه او فریب وکړی شو، خو د ویری خبره نه ده، شهادت غنیمت وګڼئ، ستاسو محبوب له تاسو سره ملګری دی او د جنت حوری ستاسی په انتظار کی دی.

دا ئی وویل او په جوش سره یی مقابله وکړه او کله چه نیزه هم ماته شوه نو په توره یی مقابله کوله. د اسلام دښمنان ډیر وو، په پای کی شهید شو او دا دعا یی وکړه:

«یاالله! خپل رسول الله صلی الله علیه وسلم ته زمونږ د قصې خبر وکړې»! دا دعا قبوله شوه او د دې واقعې علم نبی علیه السلام ته وشو.

څرنګه چه عاصم رضی الله عنه دا هم اوریدلي وو چه «سلافه» غواړي زما د سر په کاسه کې شراب وڅښي! نو دشهادت په وخت کې ئې دعا وکړه چه: «یاالله! زما سر به ستا په لاره کې پریکړل شي خو ته یې محافظ شې!» دا دعا هم قبوله شوه او د شهادت نه پس چه کله کافرانو د ده د سر د پریکولو اراده وکړه، نو الله تعالی د شهدو مچۍ او په ځینې روایاتو کې د تورو غومبسو یو سیل راولیږه او د هغه بدن یې له ځلورو خواؤ نه محاصره کړ.

د کفارو دا خیال ؤ چه د شپې لخوا کله چه غومبسې والوزي نو دهغه شاه زلمي سر به غوڅ کړو، خو د الله تعالی فیصله د هغوی د غوښتنې په خلاف وه. د شپې لخوا بنه ډیر او سیلابي باران وشو او د هغوی بدن یې لاهو کړ او د کفارو خصوصاً د «سلافه» او «ابوسفیان» زړونه ارمانجن پاتې شول. لنډه دا چه نور صحابه کرام (چه هر څو وو) شهیدان شول او یوازې درې تنه خبیب، زید بن دثنه او عبدالله بن طارق رضی الله عنهم ژوندي پاتې شول، له هغوی سره بیا داسې وعده او لفظ وشو چه تاسو له غره ښکته راکوز شئ!، مونږ له تاسو سره وعده خلافي نه کوو، دا درې واړه شاه زلمیان راښکته شول او له راښکته کیدو سره سم یې پړې متې وتړلې. عبدالله بن طارق رضی الله عنه وفرمایل: «دا لومړۍ وعده خلافي نه ده چه زمونږ سره یې کوئ، زه خو هیڅکله هم له تاسو سره نه ځم! زمونږ شهیدانو ملګرو ستاسو په وینا اعتماد وکړ او نتیجه یې دا شوه چه هغوی شهیدان شول».

کفارو هغه په زبردستۍ راښکوده، خو دی له خپل ځای نه ونه خوځید، نو دې خلکو هغه هم شهید کړ اویوازې دوه تنه ورسره پاتې شول. هغوی یې بوتلل او د کلي په خلکو یې خرڅ کړل. زید بن دثنه رضی الله عنه صفوان بن امیه د پنځوس اوښانو په بدله واخست او حضرت خبیب رضی الله عنه حجربن ابی وهاب د سلو اوښانوپه بدله واخیست چه د هغه د شهادت قیصه مو دمخه لیکلې وه.

صفوان خپل قیدي (زید بن دثنه رضی الله عنه) زر له حرم نه د باندې د خپل غلام په لاس ولیږه چه شهید یې کړي. د ده تماشې او کتلو لپاره نور خلك هم ډیر جمع شوي وو چه په هغو کې ابو سفیان هم ؤ. ابوسفیان له زید رضی الله عنه نه دشهادت په وخت کې پوښتنه وکړه چه ای زیده! ستا دې په الله قسم وي، رښتیا ووایه! آیا ستا دا خوښه ده چه ستا په بدله کې د محمد صلی الله علیه وسلم څټ ووهل شي او ته پرېښودې شې؟

زید رضی الله عنه په ډیر شهامت سره وفرمایل چه په الله تعالی مې دې قسم وي چه زه خو دا هم نه خوښوم چه نبی کریم صلی الله علیه وسلم چه کوم ځای دی، هلته دې د هغه په پښه کې یو اغزی هم ننوزي او مونږدې په خپلو کورونو کې آرام کښېنو! قریشو چه دا ځواب واورید، حیران پاتې شول. ابوسفیان وویل چه د محمد (صلی الله علیه وسلم) د ملګرو چه څومره محبت دی له هغه سره دومره محبت مې چیرته هم نه دی لیدلی نو زید رضی الله عنه یې هم شهید کړ.

(رضوان الله عنهم اجمعین).

امام الجهاد شهيد شيخ جميل الرحمن (رحمه الله) د علماؤ کرامو او مجاهدينو په نظر کی:

يادونه: پښتو«دعوت» مجلي د خپل پنځم نشراتي کال د پيل کيدو په مناسبت غوښتل چه د۱۴۱۳هـ ق کال د محرم الحرام او صفرالمظفر د مياشتو مجله دوه مياشتني او په فوق العاده توگه نشر کړي، پدې لړ کي مو تنده وه چه په افغانستان کي داسلامي جهاد د بنسټ ايښودونکي او اسلامي مفکر شهيد شيخ جميل الرحمن (رحمه الله) د ځينو ملگرو، دوستانو او مينه والو علماؤ او مجاهدينو د علمي او جهادي سنگرونو تأثرات د «دعوت» د مجلي لوستونکوته وړاندې کړو.

مونږ پدې عقيده يو چه د اسلام د نومياليو شخصيتونو د علمي او جهادي کارنامو ستاينه که له يو خوا د هغوی لپاره د مغفرت غوښتنه ده، له بلي خوا د راتلونکو نسلونو لپاره د لارښوونې، تشويق او ترغيب باعث او سبب گيږي، داسي بايد ونه انگيرل شي چه گواکي مونږ د شهيد (رحمه الله) کليزه نمانځو، حقيقت دا دی چه مونږ پوازې د شهيد شيخ (رحمه الله) د شهادت کليزه نه، بلکه د هر چا د ځلويښتي او کليزې له نمانځني سره مخالف يو او بدعت يې بولو ، مونږ دا کار د خپلي مجلي د پنځم نشراتي کال د پيل کيدو په مناسبت پخوا پيل کړې ؤ ځو له يوې خوا مو د شهيد د کارنامو او اتباع د ستاينې په لړ کي د هغه روح ته د مغفرت دعا غوښتې وي او له بلي خوا مو د هغه د نيکو او صالحو باقياتو قدر کړې وي چه همدا مجله له هغې جملي څخه ده.

الله تعالی دې پرې رحم وکړي.

په درنښت (اداره)

د جماعة الدعوة الى القرآن والسنة امير محترم مولوی صاحب سميع الله

الحمدلله وحده والصلاة والسلام علی من لانبی بعده!

اما بعد:

له شهيدشيخ جميل الرحمن(رحمه الله) سره زما د پيژندگلوی وجه د هغه ښه شهرت، زکاوت، او سلوك ؤ چه د توحيد له عقيدی څخه يی سرچشمه اخستی وه. زمونږ حسنه تعلقات له ۱۹۶۰م کال نه پيل شوی ؤ چه مونږ دواړه په هغه وخت کی طالبان وو، وروسته دا تعلقات نور هم هغه وخت احسن شول چه زه په کابل کی مدرس شوم او په ځينو اهمو کارونو کی به مو مشوری کولی.

د شهيد شيخ(رحمه الله)د علميت، شجاعت، سخاوت، ميلمه پالنی، صبر او متانت، صله رحمی او شفقت، مروت او ځوانمردی، عفوی او گذشت، ربتينولی او صداقت او نورو حميده صفاتو په هکله که زه هر څه تشريحات ورکړم، کيدای شی چه نور ورونه به له مانه پری ښی رڼاوی واچوی، خو زه صرف دومره وايم چه شيخ رحمه الله په ننني امة کی هغه شخصيت ؤ چه د صالحينو سلفو په منهج روان او د سنتو متبع انسان ؤ او نورو مسلمانانو ته يی د سنتو د اتباع دعوت ورکاوه. شهيد شيخ(رحمه الله) د دی ترڅنگ چه په افغانستان کی د کمونيزم او الحاد پر ضد د جهاد بنيانگذار ؤ، د اسلامی تنظيمونو تر منځ د اتحاد داعی هم ؤ، د کونډو او يتيمانو سرپرست او مرستندوی، د مجاهدينو منتظم او مربی او د امة مسلمه د عقايدو په صفاکولو کی ساعی او نه ستړی کيدونکی شخصيت ؤ.

لنډه دا چه شهيد شيخ جميل الرحمن(رحمه الله)دظاهرشاه له زمانی نه چه زه يی پيژنم د قرآن او سنت

متبع، په افغانستان کی دقولی اوفعلی جهاد بنسټ ایښودونکی او د حق د لاری ستر بلندوی ؤ، دده په دعوت کی الله تعالی برکت واچوه چه په افغانستان کی عملی جهاد پیل او د روسانو په شکست منجر شو.

د جماعة الدعوة الی القرآن والسنة له تأسیس نه وړاندی د امة مسلمه په نوم تنظیم د شیخ شهید(رحمه الله) له وياړه ډکه کارنامه ده، خو کله چه د مسلمانو ډلو ترمنځ د اتحادونو له ماتیدونه وروسته مأیوس شو، نو د جماعة الدعوة د جوړیدو اقدام یی وکړ او عملاً یی په ځانګړی ډول د داسی جماعة بنسټ کیښود چه د نړۍ د مسلمانانو په عطیاتو یی هم د جهاد چاری سمبال کړی او هم یی د دعوت او تدریس او مدارسو دجوړښت سلسله جاری وساتله، نه تری مجاهد بینوا او بی اسری تللی او نه تری د کونډو رنډو او یتیمانو سرپرستی هیره شوی ده، داسی مجاهد به پیدانه شی چه د شیخ څنګ ته ورغلی وی او بینوا تری تللی وی، همدا وجه وه چه خلکو به دا ګمان کاوه چه لدی تنظیم سره ډیر مال دی. په جهادی او تدریسی امورو کی یی د تنظیم پرستی په خلاف له هر چا سره مرسته کړی چه همدا د ده د بریالیتوب راز ؤ، دوستی یی هم د الله تعالی د رضاء لپاره وه او دښمنی یی هم دالله تعالی د رضاء لپاره، همدغه نیك او حمیده اوصاف ؤ چه د کونړ د ولایت له آزادیدونه وروسته چه کله هلته د ټولو جهادی تنظیمونو په اتفاق یوه اسلامی اداره د انتخاباتو له لیاری جوړه شوه نو دغه لوړ شخصیت یی د اسلامی امارت د امیر په حیث وټاکه او دټولو تنظیمونو اکثرو قومندانانو ورسره بیعت وکړ، یوازی یو شمیر محدودو منفعت جویانو ورسره مخالفت وکړ چه په نتیجه کی یی هغه څه وشول چه باید نه وای شوی.

نړۍ وال پدی قایل دی چه شهید شیخ(رحمه الله) په کنړ کی د نبی علیه‌السلام د دی فرمودی سره سم چه: «یو ه لویشت ځمکه د کفارو له لاسه آزاده کړی، اسلام په کی نافذ کړی» اسلامی احکام جاری او نافذ کړل، حدودالله تطبیق شول،پدی اساس د اسلام داخلی او خارجی دښمنانو سره لاسونه یو کړل او ددی عظیمی هستی د له منځ وړلو نقشه یی طرح او تطبیق کړه.

(انا لله وانا الیه راجعون)

په ډیر افسوس سره باید ووایم چه نن په افغانستان کی هغه څه روان دی چه شهید شیخ (رحمه الله) یی پیش بینی کړی وه او ویلیٔ وه. ده به ویل چه د جهادی تنظیمونو مشران که نن خپل اختلافات ختم نه کړی، کله چه افغانستان د روس او روس پرستانو له لاسه آزاد شی، بیا به حتماً جنګ او جګړی کوی چه دا کار به د اسلام او جهاد په ضرر تمام شی، نن هماغسی وشول. شهید شیخ (رحمه الله) به ویل چه جهادی مشران بایدمجاهدینو ته د جهادی امورو د زده کړی تر څنګ دینی زده کړه هیره نکړی. ده به ویل چه د جهاد مشران باید خپل منځی مسائل د قرآن او حدیث په رڼا کی حل او فصل کړی، افسوس چه د شهید شیخ (رحمه الله) آواز چا وانه وریده ځکه نننی ستونزی راپیدا شوی.

زمونږ هیله دا ده چه د شهید شیخ (رحمه الله) وارثان او پیروان به د هغه نصایح او توصیی ټولی د زړه په غوږو واوری او عمل پری وکړی او له «لومة لائم» څخه ونه ویریږی.

(والسلام علی من اتبع الهدی)

محترم ورور مولوی صاحب عبدالرحمن

نحمده ونصلی علی رسول الکریم

امابعد :

زما سکونت په ولایت کندز کی ؤ لیکن سره له هغی شیخ(رحمه الله) په ټول افغانستان کی د توحید او علم او پوهی او دعوة شهرت لاره او دوهمه خبره دا وه چه فضل احد مولوی صاحب زمونږ استاد او دشیخ(رحمه الله)هم درسی وو هغه به د شیخ

(رحمه الله)واقعات بیانول چه په مناظرو کښې غټ غټ مبتدعین ملامته او بې جوابه کړل، نو تعلقات زمونږه په دغه وجه وو.

زمونږه تعلقات د شیخ رحمه الله سره پداسی اندازه وو چه د شیخ رحمه الله لوی او وړوکی حکم او امر مونږ په هر وخت کی اطاعة کړیدی تعلقات مو داسی ؤ لکه څرنګه چه دکشر وورو د مشرورور سره ښه محبت او معامله وی.

کله چه دببرك کارمل په دور اقتدار کی مونږه راکټونو او ثقیله اسلحی ته احتیاج پیداکړ چه د ملحدینو په مقابل کی یې استعمال کړو، ددغه وخت نه مخکی مونږه چه په جهاد کی کوم عملیات کول د غنیمت اسلحه به مو استعمالوله لیکن د راکټونو د طلب په خاطر د تخار څخه دلته پاکستان ته راغلو او په دغه مسئله کی د شیخ (رحمه الله)سره مخامخ شو او مخامخ پیژندنګلوی مو ورسره وشوه.

او دا چه شیخ رحمه الله طالب العلمان د علم د تحصیل په وخت کی راجمع کړل او تعهد یې تری واخیسته تعهد پدی وجه ؤ چه یو به مونږه کوشش کوو چه د توحید روښانه ډیوه هر ځای ته ورسوو او دوهم دا چه د اسلامی حکومت د جوړولو لپاره به هر قسم قربانۍ ورکوو.

د شیخ(رحمه الله) یو صفت دا ؤ چه د همیشه لپاره چه به شوریٰ دأیره شوه د شوریٰ اعضاؤ ته به یې توصیه کوله چه د الله تعالی سره د همیشه لپاره خپل تعلقات قایم او ټینګ ساتی.

دوهم صفت: یو کشر مامور ته چه به یې احکام ورکول نو هغه ته به یې په خط کی لفظ د سلام مخکی کاوه.

دریم صفت: کله چه به شیخ (رحمه الله) یو څه ته احتیاج پیدا شو لکه څوك راغوښتل یا کاغذ چاته ورکول یا اوبه غوښتل نو پخپله به پاڅیده مونږ ته یی په هیڅ وخت کی ندی ویلی چه تاسو پاڅئ او دغه کار وکړئ اګر که مونږه محبت لاره چه دغه کار پسی مونږه پاڅو دغه د ادب تعلیم ؤ چه مونږه ته یی راکاوه.

څلورم صفت: شیخ رحمه الله به د دینی کتابونو مطالعه د همیشه لپاره کوله او د هغی نه به یی یو یو مهم سوال په مجلس کی نورو علماؤ ته پیش کاوه. په شوریٰ کی اکثر وخت نورو علماؤ د هغه ځواب ندی کړی ترڅو چه هغه به پخپله د هغه سوال تشریح وکړه.

پنځم صفت: کله چه به د خلکو او مراجعینو د کثرت په وجه د قرآن عظیم الشأن د تلاوت لپاره وخت ورته پیدا نه شو نو په سفر کی به ئی تلاوت کاوه.

شپږم صفت: څوك محتاج انسان چه به شیخ رحمه الله ته عارض شو هغه به یی ناامیده نه رخصتوه، بلکه د هغه د مطالبی نه به یی ورسره زیات احسان کاوه، پدی وجه به د همیشه لپاره دهغه دروازه او کوټه او د کور د مخی سرك له محتاجینو او سوال کوونکو څخه ډك وو.

اووم صفت: د جهاد په ګرم جنګ کی لکه د کنړ ولایت د پشد په جګړه کی پخپله حاضر ؤ، او نهایی زیات جرأت یی درلود.

اتم صفت: چه په سفر کی به کومه مدرسه د ده مخی ته راتله، که هغه د اشاعة التوحید والسنة وه او که د جماعة اسلامی وه، او که د هر چا مدرسه به وه کومك به یی ورسره کاوه.

نهم صفت: ما پخپله په نظامی کی کار کاوه چه کوم قومندان به له مونږ نه خفه شو هغه قومندان چه به د شیخ (رحمه الله) خواته واپس ورغی هغه ته به یی توصیه وکړه او تسلی به یی ورکړه او واپس به بیرته خوشحاله راغی.

لسم صفت: چه د قومندانانو یا عامو خلکو په مابین کی به کوم اختلاف راغی نو شیخ رحمه الله به وروسته د بیان د اوریدو د هغوی نه په دوه یا دری جملو ویلو سره د هغوی

مابین کې فیصله وکړه او هغوی به سره دقناعت اوتسلی خوشحاله رخصت شول.

یولسم صفت: قوی او مستدله فتوی به ئی ورکوله، او علمی تحلیل او بصیرت یې زیات ؤ، د هغوی یو مثال دا دی،چه دمرحوم مولوی صاحب رحمت جمال میرزا د تعزئی په وخت کې یو عرب ورور راغی او سوال یې ترې وکړ چه الله تعالی د پنځه خیزونو علم بل هیچا ته ندی ورکړی، د هغو د جملې نه یو هغه څه چه په ګیډه کې وی «ویعلم ما فی الارحام» پداسی حال کې چه مونږ په وسایلو عکس او تصویر اخلو او د هغه معلومات کیږی چه هلك دی یا جینئ، نو شیخ(رحمه الله) ورته ځواب ورکړ، چه الله تعالی نفی د علم کړی نفی د لیدلو یې ندی کړی، علم لکه د مثال په ډول طیاره مونږه وینو خو علم پرې نه لرو چه هغې ته پرواز ورکړو نو د الله تعالی سره علم د هغه د خلقت او ترکیب د اندامونو دی دا کار اوس هم هیڅوك نشی کولای که هر څومره وسایل پیدا شی، علم او لیدل په لفظ او معنی دواړو کې فرق لری نو عرب ورور وویل چه دسعودی عربستان ددارلافتاء رئیس خخه عین دغه سوال وشو هغه جواب ورکړ چه ددی نه مطلب د نطفی حالت دی نو عرب ورور وویل چه ستاسو محترم ځواب د هغه نه ډیر معقول او ذهن ته پریوتونکی دی.

د شیخ (رحمه الله)مسؤلیت د مدارسو جوړول، جهادی قوتونه منظم کول او د توحید او سلفی عقیدی خدمت کول وو او پدغو مسؤلیتونو کی د ده عزم او تصمیم دومره محکم ؤ چه ***یو میلمه ورته وویل چه کله په تاسو محترم کومکونه بند شی بیا به تاسو مدارس په څه شی باندی چلوئ؟ شیخ (رحمه الله) په ځواب کی ورته وویل چه مونږه ورته الف او ب بودلی دی د هغی به الله تعالی اجر او ثواب راکړی او چه امکانات نوی بیا مکلف نه یو،*** دخپل مکلفیت په اندازه او توان به کار کوو.

له عامو خلکو سره دشیخ (رحمه الله)رویه او کردار داسی ؤ چه په نورستان او چپی درې او نورو ځایونو کی هغه خلك چه نه یې دی لیدلی ؤ او نه یې ورسره د قرابت تعلقات وو، دده د شهادت په وخت کی یې ډیر ډیر وژړل او هم دا رنګ په کمپونو کی هم عام خلك لوی او واړه، پریشانه وو ولو که په نورو تنظیمونو پوری مربوط ؤو، دا غم او درد چه عامو خلکو احساساوه له دوی سره د شیخ (رحمه الله)د نیکو او حسنه اخلاقو او نیك چال چلن نتیجه وه.

هرکله چه د نورو تنظیمونو ترمنځ اتفاق او اتحاد ونه شو د استاد سیاف په مشری اتحادونه له ناکامی سره مخ شول نوشیخ(رحمه الله)دده نورو ملګرو پدی مجبور کړ چه د دعوت کار شروع کړی چه توحید مسئله پاتی شوه ضروری ده چه دعوت وچلوو اومدرسی جوړی کړو، دمدرسو او توحید دعوة ته نور تنظیمونه هسی هم تیار ندی، هم دا باعث شو چه د امت مسلمه پخوانی تنظیم د جماعة الدعوة په نوم فعال شو.

دجماعة الدعوة اهداف اسلامی جهاد او د قرآن او سنت په رڼا کی اسلامی حکومت او تنفیذ د حدودو او هدارنګ د نړی خلك په اسلامی عقیده او سنتو باندی پوهه کول دی.

شیخ رحمه الله د هر باطل دشمن په مقابل کی خپل دریځ او دشمنی او فتواګانی په خپلو خطباتو کی واضح او قاطع کړیدی او له دوستانو سره یې دوستی د حق برابر کړیده.

شیخ(رحمه الله) د اسلامی امارت د امیر په صفت باندی د ټاکلو باعث دوه خبری وی.

اوله خبره دا وه چه خپلو بعضو مشرانو ورته وویل چه خلك غیر له تا نه په بل چانه

راجمع کیږی او نه د داسی اجتماعی فکر خاوند بل ځوك شته.

دوهمه خبره دا وه چه حزب اسلامی اصرار کاوه او دا خبره یی کوله چه که شیخ رحمه الله پښبله د امارت آمیر شی نو مونږه به یی حتماً امارت ومنو ځکه چه مخکی هم مونږه دده په توانده جهاد کړیدی.

شیخ رحمه الله په خپل دور امارت کی قصاص او رجم په وټه پور ولسوالی او دطیارو په میدان کی د عامی اجتماع په وړاندی نافذ کړه او دآینده لپاره یی هم دغه طریقه جاری پریښوده.

د شیخ رحمه الله وارثانو، دوستانو او د جماعة الدعوة الی القرآن والسنة متعهدینو ته زما پیغام دا دی چه اسلامی تعلیم او توحید او سنت ته دعوة لکه څنګه چه د شیخ رحمه الله لار وه او له ټولو خلکو سره ئی ښه سلوك کاوه همدا رنګه دي دوئ هم وکړي.ومن الله التوفیق

محترم وروړ تره خیلو مولوی صاحب

شهید شیخ جمیل الرحمن(رحمه الله) زما له کشر وروړ سره په سوات کی دیره وه. زه په کال ۱۳۳۶ هـ ش کی د حج بیت الله شریف نه د آبګوټ په وسیله راغلی وم او خپل وروړ می په ټیلفون را وغوښت. چی وروړ می راغی نو شیخ جمیل الرحمن هم ورسره وروړ می راته د مرحوم د اخلاقو او پوهی صفت وکړ چی دی ډیر حمیده اخلاق او ښه پوهه لری. ما ورته توصیه وکړه چی دغه پوهه د قرآن او حدیث په خدمت کی صرف کړی او د سوات فلسفه پریږدی ځکه چه دا په درد نه خوری.

وروسته له هغی چه دی ملاء شو او کنړ ته راغلی له بدعتیانو سره یی مبارزه شروع کړه نو چا به چی دده غیبت زما په وړاندی کاوه ما به هغه ردواه. دمثال په ډول قاضی عبدالرؤف د مزار دري او حاجی شمعون د جلال آباد د ښار په مسجد حمام کی دی دواړو ته ما وویل چی ستاسی مسائل ضعیفه او د آخرت په ګته مو ندی بلکه د آخرت خساره مو پکی ده.

همدا رنګه غلام رسول پرماج د مزار شریف نائب الحکومه او دده وروړ صفرجان له مولوی عبدالرازق د دره نور سره د وزیر عدلیی په مخکی د دغه مرحوم نوم واخیست او وئی ویل چه څه قادیانیان راغلی او مشر یی په نورستان کی مولوی افضل دی او په کنړ کی یی مشر مولوی حسین دی او څه غلغله لار یی روانه کړی باید چه دا خلك وټکول شی نو ما داخلك د وزیر په مخ کی سخت ورټل او ورته می وویل چه تاسی کافر کیږی چه بدعاتو ته اسلامی شریعت وائی. زما د تائیداتو مواضع ډیر دی چی اوراق نیسی دا مشت نمونه خروار وه.

شیخ جمیل الرحمن (رحمه الله) یو واقعی مبارز او مجاهد او د صحیح مفکوری خاوند او دعالی اخلاقو څښتن وه. د اسلام دسرلوری لپاره یی کار کاوه او متفکر وه چه څنګه واقعی اسلام مینځته راشی.

د شهید حلم، علم او بردباری باعث د توجه ځما وه.

مخکی مو اشاره وکړه چی **اولین مبارز وه او د بدعاتو په مقابل کی یی سل په سلو کی مبارزه او مجاهده کړی ده.**

پدی خاطر چی ښه اخلاق یی

درلودل نو طبعي ده چې فردي او اجتماعي ژوند يې ټول خير خير ؤ.

د واقعي مجاهدينو له مرحوم سره **ښه روابط وه خو په نام مجاهدين او په بدعاتو ملوث کسانو له هغه سره څه ارتباط نه درلود.**

د جماعة الدعوة الی القرآن والسنة د تأسيس عمده عامل دا وه چې رسومات باطله او بدعات غير اسلامي د افغانستان د اسلامي جامعې څخه ورك کړي.

هغه د دې مبارك حديث مصداق وه چې فرمائي:«الحب فی الله لله والبغض فی الله لله»

دشهيد نظر دا ؤ چې کومه منطقه آزاده شي بايد امير ولري پدې خاطر هغه قوماندانان راټول کړل او بيعت يې ترې واخسته.

د ټاکل کيدو عوامل دا وه چې شهيد(رحمه الله) يو مبارز شخصيت وه او جهادي سوابق يې درلودل او يو اندازه نظامي قوت يې هم درلود.

زمونږ د معلوماتو سره سم شهيد حدودات او تعذيرات نافذ کړي وو.

زما پيغام د جماعت متعهدينو او ورته ؤ ته دا دی چې د دعوت په لار کې داسې قدمونه اوچت کړي چې منفور نه شي او داسې نه وي لکه د شهيد په څنگ کې څه کسان څه وخت داسې راټول شوي چې د شهيد دعوت ته يې داسې ضربه ورکړه چه شهيد د هغې ضربې تلافي کې دوه کاله وخت مصرف کړ تر څو يې چې ليرې کړل.

اوماشهيد(رحمه الله) ته دا توصيه کړې وه چې دا فلانی، فلانی ليرې کړه او خرابې ژبې لري او سابقې يې په وطن کې خرابې دي، دوه کاله وروسته شهيد ما ته وويل چه اوس څنگه ده ما ورته وويل چې يو دوه پاتې دي نور درنه ورك شول. نو ورته ؤ ته يې همدا وايم چې رکن په دعوت کې سابقه ده تاسې نه گوری چه هر قل د ابوسفيان نه څه پوښتنې کوی که چيرته تاسې دغسې انسانان ځان سره ملگری کړی نو تاسې به د شيخ د عوت فلج کړی ځکه چه خلك د دوی سابقې ته گوری او هغه نه منې. وروسته هغې نه حلم، علم، مردم داری ارکان د اسلامی دعوت دی .

دغه وه زما توصيه چې شيخ(رحمه الله) ته مې هم کړې وه او تاسو ته يې هم کوم.

والله علی مانقول به الوکيل.

محترم ورور قاضی صاحب محمدامين وقاد

من المؤمنين رجال صدقوا ما عاهدوا الله عليه ...الاية

د قرآن اوسنت دعلميت اودعوت د سالار دشهادت په مناسبت:

پدغه غمناکه اوهولناکه تکه توره شپه ديو خارجي سفرڅخه ناوخته اسلام آباد ته ورسيدم، شپه تيره شوه، سبا سهار۸ بجې دجنگ اخبار موترلاسه کړ، سرخياني، عنوانونه، خبرونه او تبصرې مولوستلې چه ناڅاپې خواته ناست ملگرې راباندې غږ وکړ چه هې مولوی صاحب شهيد کړای شوی! په هيبت سره مې وويل کوم مولوی صاحب؟ گوته ئې پرې کيښوده چه دغه څوکرښې خبر دې لاندې لوستلې؟«اصل خبر...» دسفر دملگرو مخې ته راغلو.د ټولو وروڼو حوصلې ماتې، سترگې لمدې څيرې ئې سپيرې شوې او له خولو څخه ئې بې اختياره آوازونه اوفريادونه ووتل. وموويل چه«اناالله وانااليه راجعون» ناڅاپې خبروُ خبرنه و يوغږوُ غږ لاڅه کوی چه د ژوند يو سخت سفروُ.نه مومونډلې شو نه مولو ستلې شو اونه مو تحمل کولی شو. سترگې مو وچيدلې نه، حوصلې برابريدلې نه، د خبر کرښې لوستلې کيدلې نه!

بياهم يوبل ته په ليدلو، تسليت ورکولو اوحوصلو برابرولو د خبر متن مولوستلای شو. **ليکل شوی ؤ چه په**

افغانستان کی دجهاد بانی دجماعة الدعوة الی القرآن والسنة امیر مولنا الشیخ جمیل الرحمن دجمعی په ورځ باجوړ ایجنسی کی په شهادت ورسول شو، جنازه به نن شنبه په ۱۱بجی باجوړ کی اداء کیږی او خاورو ته به سپارل کیږی.

دا وخت ۹ بجی وی داسلام آباد څخه تر باجوړ پوری اوږدی فاصلې اودوه ساعته لنډی زمانی راسره یاری ونکړه چه دخوازه وررور مظلوم اومرحوم شهید آخرنی ملاقات او د جنازی صلاة راته نصیب شی.

*حقه ده چه جناب شیخ خپل هدف ته ورسید«دحق دعوت اوپدغه لیار کی حق شهادت» شهادت دهردعوت گر هیله او دآبدی باسعادته ژوند پیل دی.*دا چه شیخ ولی شهید کړی شو؟ چاشهید کړ؟ د چا په لمسون ئی شهید کړ؟ څرنگه او دڅه لپاره شهید شو؟ هغه پوښتنی دی چه د أنقلاب په اوږدو کی رنگارنگ جریانات، نورنوی مشاهدات او بالمثل مشاجرات په ځواب ورکړی.تر پرونه دومره څوك نه پوهیدل لکه نن چه پوهیږی سبا به لدینه هم زیات اوبل سباخوبه هر څه نارې سورې کړی، **سپین به سپین اوتور به تور شی هر څه به نوی اونور شی، پټ رازونه به ښکاره شی تخیلات به مشاهده شی او دسیسه کاران به بې پرده شی.**

زمونږ او دشیخ دژوند نیمائی برخه په حق غوښتنه اوحق پالنه کی یوځای تیره شوی پوره شل کاله ملگری، ملگری نه بلکه وروروولی، وروروولی هم نه بلکه دراسخی عقیدی اوگرم جهاد دگرمو سنگرونو مینه ناکه،همتناکه او افسوس ناکه نیمه خواه رښتنی یاری، هسی یاری چه هیڅوك به ئی له هیچا سره نلری،دا ټوله دقرآن اوسنت په سیوری اوددعوت په لوری، **زمونږ مینه زمانی اومادی نه بلکه ایمانی او جهادی وه. شیخ دقرآن اوسنت عالم عامل اودعوت گرۀ،په منقولو او معقولو کی ممتاز او فنونو کی استاذ وو، هیڅکله یی د ظالمو واکدارانو او فاسدو سیاست مدارانو سره مجامله او سازش نه کاوه په نظریاتو او مواقفوکی د قاطعیت او صراحت لرونکی او ټینگ دریدونکی وو، په جهادی او قیادی لیکو کی یی تعدد او تفرق رد اومحکومولو، دمتحد قیادت غوښتنه او دوحدت تأمینونه ئی دځانگړی سیاست او علمی شخصیت برخه وه.**

دافغانستان د مجاهدینو اسلامی اتحاد د پردۍ جنرالانو او نااهله رهبرانو پذریعه د انحلال نه بعد شیخ د خپل اصلی مسئولیت د اداء په غرض د جماعة الدعوة الی القرآن والسنة جماعت او دعوت پیل کړو.

شیخ که په جسمی لحاظ په شهادت رسیدلی د اهدافو دتعقیب په معنی به دده لیار او کارتل جاری او ژوندی وی.دشیخ د جماعت د امکاناتو او اعتباراتو مواریث که دهغه کورنی، دلی،دجماعت او ولایت منسوبینو ته په لاس کی لویدلی وی، دهغه معنوی اوجهادی اهداف او آرمانونه زمونږ د ټولو په لمن کی پراته دی. دشیخ په شهادت رسول د یو شخص شهید کول نه بلکه ددعوت او عدالت دسلسلی قطعه کول دی.

شیخ دعلمیت اومعنویت ترڅنگ دښه سیاسی فهم، عوامی رحم، نیك سلوك او سخاوت، تحمل اوشجاعت تواضع اوریاضت خاوند وو. نن که مونږ دشیخ په شهادت افسوس کووا و په افغانستان کی داسلامی جهاد د تش په نامه بری نظاری کوو، د تش په نامه رهبرانود رسوانی- مشاهده هم کوو، د شیخ دشهادت په مناسبت دهغه درندی

کورنی، دجماعت ملگرو،ددعوت دمجلی کارگنانو، د منطقی خلکو، نړیوالو دوستانو، د ولایت اومملکت مسلمانانو ته تسلیت ورکوو او وریادوو چه دحق دلاری ملگری، قرآن اوسنت ته بلنه اوپه اسلامی اصولود مملکت پالنه زمونږ دمبارزی هدف او غوښتنه ده.

الله تعالی دی روان اسلامی انقلاب اسلامی حکومت ته منتج کړی.

الله تعالی دی دشیخ رحمه الله نیک اعمال او عبادات قبول کړی.

الله تعالی دی د هجرت او جهاد دستونځو اجرونه په آخرت کی ورکړی.

د انبیاؤ، صدیقینو، شهیدانو، او صالحینو په صف کی دی محشور کړی الله تعالی دی په لقاء الله کی د لقاء رانصیب کړی.

امین یارب العلمین

محترم ورور مولوی سعیدالله «صافی»

شهید مولوی جمیل الرحمن صاحب دخپل ژوند زیاته برخه په طلب علم او تدریس او مبارزه کی تیره کړی وه علمی سویه یی ډیره لوړه وه چه په ټولو فنونو بالخصوص قرآن او سنت یی پوره دسترس درلود په افغانستان کی یی د هر نوعه الحاد، شرک، بدعت رسوماتو او غلطو رواجونو په مقابل کی د قرآن او سنت په رڼا کی په ډاگه مبارزه کړی. کله چه افغانستان ته د کمونیزم(دهریت) زهرجنو تبلیغاتو او دعوتونو سرایت وکړ او ددهریت فتنه روی کار شوه نو دخپلو هم نظرو اوهم عقیده ورونوپه شمول یی ددغی فتنی د له منځه وړلو لپاره په منظم ډول مبارزه پیل کړه تر دی چی د هغی په نتیجه کی د داؤد د مستبد او الحادی رژیم په وخت کی په کال ۱۳۵٤ کی پاکستان ته په هجرت مجبور شو. کله چه د اسلامی تحریک له خوا د جهاد اعلان وشو نو نوموړی شیخ خپل ټول وختونه عملی جهاد او د مجاهدینو تنظیمولو ته وقف کړی ؤ چه په آوائلو کی ئی سیاسی روابط د حزب اسلامی افغانستان سره درلودل چه دنوموړی حزب د اجرائی غړی هم ؤ، خو کله چه د احزابو تعدد منځ ته راغی نو شیخ صاحب د اتحاد داعی ؤ کله یی چه دا محسوسه کړه چه دتفرق ازاله آسانه نه بلکه عملی نه ده نو په مستقل دعوت او دمدارسواو جوامعو په تاسیسولو یی پیل وکړ. البته دا به ورته په مصلحت ښکاریده چه په نتیجه کی یی خپل جماعت د جماعة الدعوة الی القرآن والسنة په عنوان تنظیم کړ او جهاد ته یی په مستقل ډول ادامه ورکوله تر دی **چه د خدای په فضل او د مجاهدینو د ریښتینو مجاهدو په نتیجه کی د کنړ ولایت آزاد شو نو مرحوم شیخ یی د الله تعالی د حدودو نفاذ او د اسلامی معاشرې د قیام او دامنیت د راوستلو په خاطر اسلامی امارت اعلان کړ.**

هرکله چه په شروع کی د ټولو جهادی تنظیمونو پوره تفاهم او توافق نه ؤ حاصل شوی نو د مختلفو تشنجونو او اختلافاتو سره مخامخ شو خو دا خپل هدف ته متوجه او پخپله پالیسی مضبوط ولاړ ؤ تر دی چه د یو عرب له خوا د شهادت لوړ مقام ته ورسیداو خپله آخری هیله او آرزو ورته حاصله شوه او دا څه نوی خبره نه ده بلکه په هره زمانه کی د حق پرستو په مقابل کی د عکس العملونو تاریخونه موجود دی.

(انا لله وانا الیه راجعون.)

حقیقت دا دی چه د مرحوم مولوی صاحب شهادت د مسلمانانو لپاره لویه ضایعه وه خو هر کله چه اجل په نیته دی او دمرگ علاج د انسانانو د توان نه وتلی خبره ده نو هغه ته به دعاء کوو او په مصیبت صبر او ارجاع، بله چاره نشته.

کومه چه زما او دهغه د تعلق خبره

وه هغه په لاندې ډول مختصراً ليکم.

محترم مولوی صاحب جميل الرحمن (مرحوم) دطالب علمی په اولو شيبو کی زما د والد صاحب شاگرد پاته شوی او بيا د اسعدآباد په ښار کی د محترم مولوی عبدالخالق چه يو ديوبندئ عالم ؤ په درس کی دواړه يو ځای تقريباً پنځه کاله پاته شوی وو.

د فراغت نه بعد چه کله وطن ته ستانه شوو نو څه موده بعد مو د قرآن او سنت د رواجولو پخاطر او د هر منکر د مخ نيوی په لحاظ مو د امت مسلمه تر عنوان لاندې چه مرحوم شيخ يی مشری په غاړه درلوده په منظمو فعاليتونو پيل وکړ. چه دمعاونيت مسؤليت يی زما په غاړه ؤ نو د نومړی شيخ سره زما تعلق د وروړگلوی او هم نظری ؤ حتی چه ده مرحوم به يو کار زما د مشوری نه بغير نه کاوه او ماهم. تردی چه يو ځای پيښور ته مهاجر شو. ددی نه علاوه د دوئ د ټول خاندان يعنی د ده د پلار، ترونو زمونږ د والد او کورنئ سره نژدی او د وروړگلوی حسنه تعلقات وو خو کله چه د پيښور د ماحول په گرداب کی گير شوو او د اختلافاتو لړۍ شروع او ورځ په ورځ په زياتيدو وی نو زمونږ تر مينځ هم سياسی تفرقه منځ ته راغله چه دهر يوه په خپل تشخيص او صوابديد بناوه چه تفصيل ددی سرگذشت د يو ضخيم

کتاب دجوړولو ايجاب کوی.هغه پربږدم دومره وايم چه شيخ جميل الرحمن(رحمه الله) شهيد برسيره پردی چه حقانی عالم ؤ د نيکو اخلاقو خاوند، جری(زړور) او جواد شخصيت ؤ چه د طالب علمی د وخته راهيسی تر فراغت او شهادته پوری د هر منکر په مقابل کی د ټولونه باجرأته او زړور ؤ **حتی د هر وخت د نظام د زمام دارانو په مقابل کی يی د حق د ويلو څخه هيڅ ويره نه درلوده او د هغوی تهديد ده په مقاومت کی هيڅ قسمه تغير نه شو راوستلای.**

الله تعالی دی پری ورحميږی او ورثه ؤ او پس مانده گانو ته دې الله تعالی د صبر او د مرحوم شيخ په نقش قدم دتللو توفيق ورکړی.

آمين ثم آمين په افغانستان کی د اسلامی حکومت دقيام او قرار په هيله.

محترم ورورااستاد نورمحمد«مجيدی»

الحمد لله وحده والصلوة والسلام علی من لانبی بعده وبعد:

د دعوت مجلی اداری د خپلو اسلامی نشرياتو په لړ کی په افغانستان کی د اسلامی جهاد د لاربشود او مفکر اسلام بزرگوار شهيد الشيخ جميل الرحمن (رحمه الله) د ژوند دځينو برخو په هکله معلومات

غوښتی دی نوددی خدمت او احساس په اساس دمجلی ټولو کارکوونکو ته دحق سبحانه وتعالی د دربار څخه دنيکی زيات اجرونه او دداسی خدماتو داجراء او انجام لازيات توفيق غواړم.

١- له شهيد رحمه الله سره زما د پيژندگلو ی بنيادی وجه داوه چی زه په ١٣٤٩هـ .ش کال دکابل دارالمعلمين څخه خلاص شوم او په ١٣٥٠هـ ش کال دننکلام په ليسه کی د استاد په حيث مقرر شوم.دا چی زه داسلامی تحريك سره وابسته وم نو په دغه ليسه کی می د کمونستی اوالحادی نظرياتو مقابله شروع کړه.شهيد(رحمه الله)چی کله زمادفعاليت څخه خبرشو، نو زما سره ئی ارتباط ونيوه او دا چی تر دغه وخته پوری چاپه دغه علمی مرکز(ليسه) کی دالحادی نظرياتو علنی مقابله نه وه کړی، نو شهيد رحمه الله ماته دهر قسم همکاری وعده راکړه او زه ئی دغی مقابلی ته لانور هم تشويق کړم. اويو د بل سر، سترگی او لاس او بازو شو.چه پدی اساس ١٣٥٠هـ.ش کال زمونږ يو دبل سره دنژدی تعارف او پيژندگلوی کال دی.

د پيژندگلوی نه وروسته موترمنځ تعلقات ډير حسنه اود اسلامی اخوت څخه ډك ؤ، زه ددی مدعادثبوت لپاره څو نمونی په لاندې ډول عرض کوم:

الف:- په ۱۳۵۱ هـ ش کال چې کله کمونستانو زما او زما د اسلامي مفکورې د شریکو دوه تنو استاذانو (شهید نورکریم خان اوعلی جان خان) په خلاف په لیسه کې دمظاهر ی پروگرام جوړکړ، ددوه دري ورځو وروسته دشهید الشیخ رحمه الله په مشرې اولاړشبودنه چه محترمین مرحوم مولوی صاحب رحمت جمال چې په میرزامولوی صاحب مشهورؤ، مولوی صاحب فضل الکریم (سعیدالله)او نور علماء کرام د پیچ د درې ولسوالي د محکمې قاضي مطیع الله چمبیلي ته ورغلل او دقضاء په تالارکې ئې دکمونستانو په خلاف جلسه دایر کړه او دوخت حاکمانو ته ئې داپه علني طور وویل چې که تاسو دد غسې غیر اسلامي حرکاتو مخه ونه نیسئ نومونږ هم دغه مبارز مسلمان استاذان یوازې نه پریږدو او مونږ په خپلو ټولو قوتونو ددوئ سره ملاتړ او همکاریو.

ب- په ۱۳۵٤هـ ش. کال چې زه دچپې درې دمتوسطې د امر په حیث وم او دعلاقې له یوه کمونست سره مې مقابله راغله نومحترم شهید رحمه الله دخپلو دوه تنو ذکر شوو ملگرو او نورو علماء کرامو په شمول دعلاقه دارې منطقې ته تشریف راؤړ او زما په طرفدارې او دنوموړې کمونست په خلاف ئې دعلاقې خلك تفهیم او تیارکړل.

ج- شهید رحمه الله چې په ۱۳۵٤هـ. ش کال پاکستان ته مهاجر شو نو داسلامي انقلاب تر شروع پورې مو په افغانستان او پاکستان کې څوواره سره ملاقاتونه وکړل اوداسلامي انقلاب او دجهاد دشروع په هکله مو لازم تدابیر اتخاذ کړل.

د- له شهید الشیخ رحمه الله سره زما دهغو تعلقاتو یو ژوندی او نه هیریدونکی مثال او یادگار دا دی چه کله په ۱۳۵۷هـ ش کال شهید (رحمه الله) دجهاد لپاره دکنړونو د ولایت د پیچ درې ته تشریف فرماشو، نو هغه دجهاد امیرؤ او زه ئې د خپل معاون په حیث تعین کړم.

په ۱۳۵۹هـ ش. کال چې کله زه پاکستان ته مهاجر شوم نو دهجرت سره سم زه دهغه دمعاون په حیث دحزب اسلامي افغانستان په ولایتي تنظیم کې مقرر شوم او تر څو چې شهید رحمه الله ولایتي امیر ؤ زه ئې معاون (مرستیال) وم.

۳- شهید رحمه الله یو جید عالم دین دمسجد دمحراب امام او دجهاد دسنگر یو ورزیده مجاهد قوماندان ؤ په خوراك او پوښاك کې ئې ډیره سادگي موجود وه، کله هم که یوه نابلد سړی به ولیده نو دنوموړې ترحم، عاطفه او کم نفسي چې به ئې ولیده نو سمدستي به تري متأثر کیده.

دشهید رحمه الله دژوند او مبارزې خو ډیر ژوندی آثار موجود دی چې دټولو تفصیل هم ممکن نه دی خوزه دهغه دژوند او مبارزې صرف یوه نمونه عرض کوم اوهغه داچې:

شهید(رحمه الله) دخپل اسلامي فعالیت په لړکې په خپل کلي (ننگلام)کې د«ریاض المدارس» په نوم یوه دیني مدرسه تأسیس کړه. ددغه وخت حکومت چې دظاهرشاه دوره وه دنوموړې دفعالیت څخه په ویره کې شو. په دغه وخت کې مولوی محمد شریف د کنړونو دولایت والي ؤ، نو دعلاقې داسلام دښمنو په لمسون او د حکومت دپالیسی په اساس ئې شهید رحمه الله دولایت مرکز (اسعدابا)د ته وغوښت او ورته ئې وویل چې:

والي:مولویصاحب تاسو یوه مدرسه شروع کړیده دا خبره رښتیا ده که درواغ؟

مولویصاحب: داخبره رښتیاده چې مونږ یوه دیني مدرسه شروع کړیده.

والي:تاسو دغه مدرسه دچا په حکم او د څه لپاره شروع کړیده؟

مولویصاحب:دغه مدرسه مونږ د کتاب الله په حکم اود نبي کریم صلی الله علیه وسلم دارشاداتو په حکم تأسیس کړیده.

والي: دحکومت څخه مو د مدرسی د تأسيس اجازه اخستی ده؟

مولوی صاحب: که حکومت مسلمان وی نو پدی کار خو بنيزی اجازی ته ضرورت نه شته اوکه حکومت مسلمان نه وی نو دمدرسی دتأسيس اجازی ته کوم ضرورت نه پيداکيږی ځکه دغير مسلم څخه داسلام دخدمت لپاره اجازه نه غوښتل کيږی.

والي:مولويصاحب علمی بحث وکړه.

مولويصاحب:عالم راوله چی زه ورسره علمی بحث وکړم.

والي:مولويصاحب تاته پته نه شته چی زه مولوی محمدشريف يم او يو وخت کی د مرافعی د رياست رئيس وم؟

مولويصاحب: مااوريدلی دی چی ته ملاتی اويو وخت دمرافعی رئيس وی خو د شريعت خلاف درشوتونو لپاره دی زيره خريلی ده نو ته بی عمله عالم ئی علمی بحث هم درسره نه کوم.

والي:له چوکی څخه پاڅه پر ځمکه کښينه.

مولويصاحب: که چوکۍ د حکومت وی نو پيغمبرانو عليهم السلام حکومت کړيدی اوزه عالم يم د پيغمبر وراث يم نو په چوکۍ کښيناستل زماحق دی اوکه دمنطقی په لحاظ شی نو دادکنړونو ولايت دی اوزه ددی ولايت يم نو پدی چوکۍ کښيناستل زماحق دی.

والي: ياوره! هله داملا زندان ته بوزه!!!

مولويصاحب: خوښ شوم زندان ته پيغمبران استول شويدی زه هم په پوره افتخار او خو شحالی زندان ته ځم.

دشهيد رحمه الله خو ډير صفات زما دتوجه وړ وو خو ددغو زياتو صفاتو څخه يو ډير نيك صفت ئی هم عاطفه او په مظلومانو زړه سوی ؤ چی نمونه ئی داده:

دشهيد رحمه الله دژوند په آخرو شپو يعنی دشهادت په هفته کی يوه شپه دشورئ مجلس د شپی تقريباً يوه بجه وه ناڅاپه يو أواز وشو او بريښنا(برق) لاړه، گرمی وه دشورئ ټول غړی دحويلی څخه بيرون ووتلو، معلومه شوه چی د بريښنا ترانسفرمرته يوی پيشو دنگلی دی بريښنا (برق) په دغه وجه تللی دی چی په ترانسفرمر کی څه فرق راغلی دی پدی وخت کی يوکس وويل چی دلته دترانسفرمر لاندی يو پيشو پروت دی، په ورروستيو پښو شل دی چه نه شی تلی، الشيخ (رحمه الله) پخپله ورغی او دپيشو بدحال ئی وليده نو سمدستی ئی يوه انضباط ته حکم وکړ چی هله دا پيشو واخله پخپله ئی وغوښتل چی په لاس کی ئی واخلی خو انضباط پرينښود او پيشو ئی دهغه په حکم په خاورو کی ښخ کړ يوازی سر ئی له خاورو څخه بيرون ؤ.تر هغه وخته پوری ورته شهيد رحمه الله ولاړؤ ترڅو چی دپيشو څخه برقی اثرات ختم شول او دخاورو څخه ئی ټوپ وکړ او لاړ. ددی نه وروسته بيا شهيد رحمه الله دبرق دجوړيدو پوری بيرون ناست ؤ او بيا کورته ولاړ داچی په يوه پيشو ئی دومره عاطفه او ترحم ؤ نو د نورو ذيروحو سره دهغه د عاطفی اندازه پخپله ولگوئ:

داعلاءکلمةالله لپاره شهيد (رحمه الله) لسانی، قلمی اوبدنی قربانی ورکړيدی د ټولوژوندی نمونه هم دکنړونود اسلامی امارت تأسيس اوهلته داسلامی حدودو نفاذاو بالآخره د هغوی دشهادت لوړ مقام ته رسيدل دحق دلاری دستردعوت او دروند مسئوليت د سرته رسولو نه هيريدونکی کارنامی دی.

دشهيد رحمه الله له عامو خلکو سره چارچلند داسی ؤ چی انتهايی کم نفسی، دغرور څخه خالی کيناستل او پاځيدل، عام فهم خبری کول، دهرچا خبره په سړه سينه اوريدل، دهرچا دمشکل په حل کی نيکه مشوره

اویمالی کومك ورکول، دظالم لاس ئی دظلم څخه اومظلوم ئی دظالم څخه خلاصول، او هرچاته امر بالمعروف اونهی عن المنکر ئی خپله اخلاقی اواسلامی فریضه گڼله.

د شهید(رحمه الله) چار چلندد افغانی غیرافغانی جهادی او داسلامی تنظیمونو سره بی طمع بی ریا او اسلامی ؤ او د قرآن او سنت دتنفیذ په هکله ورسره دخپل هرقسم ذاتی گټو او اعزاز څخه گذشت دهغه غوره خاصیت ؤ.

د جماعة الدعوة الی القرآن والسنة دتأسیس علت دا ؤ چی شهیدرحمه الله ټول افغانی جهادی تنظیمونه د اتحاد او اتفاق خواته راوبلل چی اتحاد اسلامی مجاهدین افغانستان منځ ته راغی او استاذسیاف دهغه اتحاد مشر شو. له بده مرغه استاذسیاف وریکی خپل تنظیم جوړکړ او نورو تنظیمونو هم خپل تنظیمی فعالیتونه شروع کړل، نو شهیدرحمه الله چی دتنظیمونو **د مشرانو له یو ځای کیدو او اتحاد څخه ناامیده شو، نو دقرآن او سنت دحاکمیت او د جهاد د بهبود لپاره ئی د جماعة الدعوة الی القرآن والسنة تنظیم جوړکړ.**

دشهید رحمه الله دخپلو دوستانو سره دوستی او د دښمنانانو سره د دښمنی سلوك دقرآن العظیم الشان ددی آیاتونو مطابق ؤ:

اشداء علی الکفار رحماء بینهم .....اذلة علی المؤمنین اعزة علی الکافرین.

د افغانستان دکنړونو داسلامی امارت دتأسیس عوامل او جریان پدی ډول وو چی:

دتل لپاره جهاد په دی منظور شروع کیږی چی په یوه مملکت یایوه قوم کی دحدود الله نفاذ ورك شی او د شیطان حکومت شروع شی، نو دکتاب اوسنت دنفاذ او دشیطان دحکومت دختمولو لپاره جهاد شروع شی، هر مسلمان ملکف وی چی دخپل توان په اندازه مالی اوبدنی قربانی ورکړی په هره منطقه کی چی طاغوتی اوشیطانی نظام اوحکومت ختم شی نو هلته دیوه اسلامی امیر ټاکل اودیوی اسلامی اداری جوړول داسلام تقاضاء او دجهاد دپرمختگ باعث دی او په تنهایی ملوك الطوائفی او انارشی شکل ژوند کول داسلام په وړاندی جهالت گڼل کیږی. داچی دکنړونو ولایت دافغانستان داسلامی جهاد دځانگو اودمجاهدینو تعلیم گاه وه اودټولو ولایاتو څخه ئی جهاد مخکی شروع کړ او دټولو ولایاتو څخه مخکی فتح او آزاد شو، نو دحزب اسلامی افغانستان په زیات اصرار او دنور و جهادی تنظیمونو په موافقه په ۹-۱۳۶۸/۱۲/۱۱هـ ش نیټو په کنړونو کی تنظیمی انتخابات ترسره شول.

داچی شهید رحمه الله علمی، جهادی او ذکاوتی توانائی او دقرآن اوسنت دنفاذ سره مینه بی ساری اودهچا څخه ***پټه نه وه نو داهل حل وعقد په اتفاق اراء سره اسلامی امارت تأسیس او شهید رحمه الله بی دامیر په حیث تعین کړ.***

د اسلامی امارت دامیر په حیث **دشهید (رحمه الله) د ټاکل کیدو علت اول دا ؤ چی حزب اسلامی د جماعة الدعوة سره دا لیکلی فیصله کړی وه چی مولوی صاحب جمیل الرحمن به د اسلامی امارت د رئیس (امیر) په حیث وی** اوهم د کنړونو دولایت په سطح له هغه څخه بل جید عالم دین،سیاست پوه مجاهد، زړوراومدبر شخص نه ؤ، نو بیا دټولو تنظیمونو داهل حل وعقد له خوا د پورتنیو صفاتو دپه نظر کی نیولو سره تعین او وټاکل شو.

داسلامی امارت دامیر په صفت د شهید(رحمه الله) په مبارك دور حیات کی داسلام درې دولسوالی دوه تنه

ملك محمد عمران اویوتن دهغه زوی د دري تنو د قتل په وجه دشرعی تحقیق، تدقیق او فیصلی وروسته دمقتولینو د وارثانو له خوا دقضائی محکمی په حکم قصاص کړی شول، د وته پوره په ولسوالی کی یو سړی او یوه ښځه چی دیوه سړی په قتل متهم اوثبوت دجرم پری وشو، دشرعی فیصلی وروسته قصاص کړی شول.او داسی نور شرعی حدود جاری شوی وو، ناروا قتلونه، چور چپاول، قطاع الطریقی اوناروای چی دکنړونو په ټولو مناطقو کی حکمفرماوې ختمی شوی، د امن او اسلامی اخوت فضاء قایم شوی وه او داسلامی جهاد اهدافو تحقق موندلی ؤ.

د شهید(رحمه الله) د شهادت د عواملو او په هغه ناروا جنایت کی دملوثو عناصرو په هکله خو زما خپل تحقیق او برداشت دا دی چی:

کله چه اسلامی امارت تأسیس شو اوعملاً قرآن اوسنت تنفیذ شول نو ټول اسلام دښمنه عناصر او قوتونه چی جهانی امپریالیزم او کمونیزم هم پکی شامل دی په ویره کی شول اود شهید رحمه الله دشهادت منصوبه ئی جوړه کړه اوپه یوه ظالم خداناترس اشرف عبدالله رومی نامی ئی چی دمصر دمملکت ؤ دهغه دشهادت منصوبه عملی کړه.

زما په فکر که شهید رحمه الله اوس ژوندی وای نو د افغانستان د موجوده زړه دردونکو ویجاړو سیاسی حالاتو دپه نظر کی نیولوسره ئی:

الف:دکنړونو د اسلامی امارت اداره ښه تقویه کوله.

ب- دکنړونو دولایت دټولو جهادی تنظیمونو سره ئی تنازلات قبلول اومخلصانه واحد اسلامی صف ئی جوړوه.

ج:دااتحاد او اتفاق دعوت ئی لومړی دننګرهار او لغمان په ولایاتو کی او په دوهم ځل ئی د افغانستان په ټولو ولایاتو کی چلوه.

د:که په افغانستان کی داسلامی حکومت دجوړیدو څخه نا امیده شوی وای نو دمخلصو مجاهدینو صف ئی تقویه کاوه اوداسلام دښمنه عناصرو اوقوتونو سره ئی دجهاد اعلان کاوه او ترهغه پوری ئی خپل ټول مالی اوبدنی قوت په کار اچوه ترڅو چی په ګران افغانستان کی دقرآن اوسنت دنفاذ حکومت قایم او په نوره دنیا کی ئی دعوت وچلیږی.

شهید(رحمه الله) پوهیده چی دیوه اسلامی جماعة دجوړیدو څخه په غیر دقرآن اوسنت دنفاذ لپاره هلی ځلی بی معنی دی نو :

الف:د امة مسلمه په نوم ئی د ظاهرشاه په وخت کی یوتنظیم جوړ کړ.

ب- کله چی پاکستان ته په هجرت کولو مجبور شو نو په پاکستان کی ئی دهغه وخت مهاجرین مشران دی ته متوجه کړل چی باید دوی یو امیر ولری او یوه ډله شی ترڅو چی قاضی صاحب محمد امین «وقاد» د هغوی امیر شو.

ج- *داختلاف دختمیدو لپاره ئی خپل جماعة (امة مسلمه)* متوقف کړ.

د- دتره کی په وخت کی ئی *قرارګاه جوړه کړه اوپه ملحد* حکومت ئی *عملی جهاد شروع* کړ. *اودکنړونو ولایت ته ئی دجهاد دځانګو لقب ور* په برخه کړ.

ه-*ټول تنظیمونه او تنظیمی مشران ئی داتحاد په کولو مجبور کړل.*

و:بالآخره د جهاد د لاپیاوړتیا او د قرآن اوسنت دفضاء لپاره ئی دجماعة الدعوة الی القرآن والسنة تنظیم جوړ کړ.

د شهید(رحمه الله)نسبی او یا عقیدوی وارثانو، دوستانو، داسلامی امارت اوجماعة الدعوة الی القرآن والسنة ټولو متعهدینو ته زما احترامانه عرض او پیغام دا دی چی:

یو بل ته داسلامی اخوت لاس

ورکړي، دعوت وچلوي او عداوت ختم کړي، دعوت تاسو وچلوئ اوقضاوت نورو ته وسپارئ، اجتماعي ګټي باارزښته اوپه انفرادي ګټو ئي مخکي او غوره وګڼئ، دامارت اسلامي او يا دجماعة د امکاناتو او وظيفوي صلاحيتونو څخه بده اوناجائزه استفاده مه کوئ. په بيت المال دخپل شخصي مال څخه زيات خفه شئ، هرچا ته دې وظيفوي صلاحيت ورکړي شي او هيڅ څوك دې ځان واجب الاحترام غير مسئول نه ګڼي، بخشش، نوازش اومجازات اومکافات دې ديوه شخص د اخلاص اوخدمت او اهليت په اساس اوتناسب وي نه په شخصي رفاقت، ضوابط دې په روابطو مسلط وي نه چي روابط په ضوابطو مسلط شي، خپلو اتباعو ته دې ټول حقوق په خپل وخت او پوره، پوره ورکړل شي. اوبالآخره اسلامي امارت ته دې دځان او مال په قرباني ودريزي اودشهيد الشيخ رحمه الله خط مشي دې تعقيب شي.

«اتق الله حيث ماکنت واتبع السيئة الحسنة تمحها.»

والسلام عليکم ورحمة الله وبرکاته

محترم ورور استاد ابو ادريس

شيخ جميل الرحمن يومتبع عالم ؤ

الشيخ جميل الرحمن(رحمه الله)

يوکال دمخه ديو جاهل انسان په لاس شهيد کړي شو دا يو معنوي خساره وه چي دافغانستان ملت ته ورسيده.

دالشيخ جميل الرحمن رحمه الله حالات ليکل په دې مناسبت چه دده کليزه ده سالګره ئي ده، داهغه بدعت دي چي شيخ رحمه الله خپله تري بيزار ؤ.

ځکه چي داواضحه ده چي دمړي مصيبت فقط تر دري ورځو پوري تازه وي بياشرعاً مصيبت نشته، تازه کول ئي دمړي به يادولو سره لوی بدعت دی، حرام دی، الحمد لله اهل حديث تر ټولو دمخه دابدعت ردوي خوزه چي دشيخ بعضی حالات غواړم چي وئی ليکم، دکليزی په عنوان ئي نه ليکم بلکه په دی عنوان ئي ليکم چي دشيخ اتباع وشی ځکه په شيخ دقرآن اوسنت متبع ؤ بلکه دټولو امامانو متبع ؤ دهغو په منهج اومسلك روان ؤ.

شيخ دعلم دتحصيل په دور کی خوش چانسه انسان ؤ، په صغارت کی ئی دفارسی دنظم او نثر کتابونه دخپلی منطقی له ملايانو څخه ويلی وه، بيائی په مروجه طريقه قواعد اوتفسير او حديث په پاکستان کی ولوستل، شيخ په سوات کی لا بی ږيری ؤ چی دټولو طالبانو قاري او اول نمره ؤ. دا هغه حالت دی چی ماپه خپله په سنه ١٣٣٦هـ ش کی مطالعه کری دی

شيخ په کونړ او قندهار کی تدريس کړی خو ډير مهم حالت دده په ژوند کی دده طرز تفکر او جهاد دی، جهاد ئی په کونړ کی تر ټولو مخکی پيل کړی اوطرز تفکر ئی دقرآن اوسنت اتباع ؤه. دی ولا اله إلا الله محمد رسول الله په معنیٰ په حقه پوه ؤ، ځکه چی ده ددين دامامانو په شان هر حکم قرآن اوسنت ته حواله کاوه نه اشخاصو ته، هميشه به ئی ويل: حکم اشخاصو ته حواله کول ديهودو او نصاراؤ خاصيت دی چی دی پاك ملت ته ئی سرايت کړی دی.

دی دومره زړور ؤ چی دغه خبره ئی په هفتګانه شورا کی په هغه وخت کی وکړه چی ٥٩ نه‌پنځوس کسه دشورا غړی حاضروو او د شورا په پاليسی کی ئی داسی ليکلی وو چی په افغانستان کی زمونږمذهب حنفی دی، **ده وويل چی د دين امامان ټول زمونږ امامان دی: که دوئ په يو**

حکم اتفاق کړی وی هغه زمونږ دین دی او که نی اختلاف کړی وی نو هغه حکم قرآن اوسنت ته وړاندی کوو څو چی قرآن اوسنت دهغه فیصله وکړی. دا خو واضحه ده چی مذهبی مسائل ټول اختلافی مسائل دی نو په اختلافی مسائلو پوری چسپیدل او هغه دځان لپاره دین ګرځول اوهغه د کتاب او سنت فیصلی ته نه وړاندی کول دا هغه بد خاصیت دی چی دیهودو او نصاراؤ څخه پاتی دی، الله تعالی فرمائی:اتخذوا احبارهم ورهبانهم اربابا من دون الله لنډه دا چه چی شیخ هم متبع ؤ او هم زړور ؤ داسی نه وه چی په دی مجلس کی نور متبع کسان موجودنه وو بلکه دمختلفو ولایاتو ډیر نامتو علماء هلته موجود او دده په شان دقرآن اوسنت متبع وو خو هیچا دا جرأت ونکړ چی په مجلس کی دارنګه اظهار دحق وکړی.

خلاصه داده چی په هر مؤمن باندی واجب دی چه په دی آیت عمل وکړی چی وائی:«واتبع سبیل من أناب الی» او په شیخ پسی او نورو متبعو علماؤ پسی اقتداء وکړی او د هغوئ اتباع وکړی. نو مونږ چی دشیخ بعضی حالات ولیکل داتباع په نیت مو لیکلی دی نه دعزا اومصیبت د تازه کولو په نیت، له ټول اهل علم څخه هیله کیږی چی بدعتونه ورك کړی داسی سالګری، میلادونه، عرسونه د عاشورئ په ورځ مصیبت جوړول داټول حرام دی بدعتونه دی خلك دی ورڅخه منع کړی.

(والسلام علی من التبع الهدی)

محترم ورور استاد شاهدالله

کله چه په افغانستان کی د کفر او کمونیزم پلویانو د الحاد د عوت پیل کړ او په دولتی او ملکی سویه دغه دعوت عام شو نو ددغه کفری او الحادی دعوت او فعالیت د خنثی کولو او له منځه وړلو په خاطر د حق او اسلام پلویانو د حق دعوت داسلامی تحریك او نهضت په عنوان شروع کړ چه شهید(رحمه الله)**ددغه حق د دعوتګرانو له جملی څخه فعال دعوتګر او د دغه کاروان سرلښکر ګڼل کیده.** ما هم د اسلامی مسؤلیت د احساس له مخی په دغه کاروان کی په۱۳۵۱ کال کی د شمولیت افتخار تر لاسه کړ. یعنی زه هم د اسلامی دعوت د کاروان یو غړی شوم چه په دی سلسله کی له شهید شیخ (رحمه الله) سره معرفی شوم او د هغه د معقول دریځ او معقولی رهنمائی په سلسله کی ما خپل اسلامی فعالیت ته د۱۳۵٤کال څخه را پدیخوا ادامه ورکړه. ولی د اسلامی نهضت سره په ۱۳۵۱ کال کی متعهد وم.

له هغه شهید(رحمه الله) سره د معرفت نه وروسته زما تعلقات له هغه (رحمه الله) سره ډیر عمیق او داسی مخلصانه وو چه همیشه یی په امورو کی زما څخه خصوصی نظر خواهی کوله او دهغه په عالمانه، مخلصانه، دیانتدارانه رهبری او امارت باندی زما پوره اعتماد او باور ؤ نو همیشه ما د هغه د حکم اطاعت کاوه.

شهیدشیخ (رحمه الله) د اسلامی تعلیماتو په سلسله کی بهترین معلم او مدرس، د دعوت په میدان کی بهترین باجرئته داعی او د جهاد په سنګر کی یو قهرمان مجاهد او دسیاست په میدان کی معقول تحلیلګر، او د اسلامی بصیرت خاوند ؤ.

دشهید شیخ (رحمه الله) د مبارزی دوره ټول د یادونی وړ صحنه ده چه هیڅکله هیرېدلی نه شی.

د شهید شیخ(رحمه الله) د خدای د دین سره ژور تعلق او اخلاص او د هغه الهیت ؤ چه زما د زیاتی توجه وړ ګرځیدلی ؤ.

شهید شیخ(رحمه الله)د خپل اسلامی مسؤلیت درفع کولو په سلسله کی لومړی تعلیم او تدریس ته توجه وکړه وریسی دعوت ؤ.بیا عملی جهاد ؤ د جهاد د جریان په سلسله کی د اسلامی نظام قیام ؤ چه امارت اسلامی قایم شو.

د یو مسلمان مسؤلیت دا دی: تعلیم- دعوت- مبارزه او جهاد- د اسلامی نظام قیام.

چه دا د انبیاؤعلیهم السلام د ژوند سلسله ده او دهغوئ سنت.

له عامو خلکو سره یی د ترحم او عاطفی له مخی چال چلند درلوده. او هر څوك به دده د ملاقات نه راضی ؤ.

د افغانستان د ټولو جهادی تنظیمونو سره یی د ورورۍ او محبت اړیکی وی د همدی وجهی نه ئی په ۱۳۶۰هـ ش کال کی د افغانستان د ټولو جهادی تنظیمونو ترمنځ د وحدت زمینه سازی وکړه او په حزب اسلامی کی ئی د اتحاد لپاره ډیر په اخلاص کار وکړ، قاضی صاحب محمد امین وقاد هم د شهید شیخ له نظر سره د وحدت نظر تائید وکړ او دواړو فشار واچوه چه اتحاد وشی او د افغانستان د مسئلی حل ئی په اتحاد کی گانه، داد هغه عقیده او نظر ؤ. همغه ؤ چه اتحاد صورت ونیوه مگر متأسفانه چه په اخلاص بنأ نه ؤ نتیجه یی ورنه کړه.

د نورو هغو اسلامی شخصیتونو چه له دین سره ئی اخلاص درلود. او هم هغو تحریکونو چه واقعاً د دین د قیام آرزو لری، له شهید شیخ(رحمه الله) سره ئی پوره تعلق درلود او شیخ (رحمه الله) هم له همدغو تحریکونو او همغه دینی شخصیتونو سره همیشه ارتباطات درلودل او په بیرون کی د شیخ(رحمه الله) تائید همدغو مخلصو دینی شخصیتونو کړیدی.

دجماعت الدعوة الی القرآن والسنة افغانستان د تنظیم د تأسیس په رابطه زه عمیق معلومات نه لرم ځکه چه له شهید شیخ(رحمه الله) څخه زما د بیلیدلو او جدا کیدلو یوه وجه دا وه چه هغه کله دی کار ته اراده وکړه له مونږ سره پکی تفاهم او مشوره ونه شوه. همغه ؤ چه هغه د اتحاد نه وروسته د مستقل جماعت کار شروع کړ او زه له حزب اسلامی سره پاتی شوم. تقریباً د ۱۳۶۲ کال څخه را پدیخوا زما د هغه شهید(رحمه الله) سره تنظیمی رابطه قطع شوه. صرف شخصی رابطه او تعلق به می ورسره په خاصو اوقاتو کی لکه(وړوکی اختر، لوی اختر یا نورو ضرورتونو) کی ساتلو، ولی تنظیمی تعلق می ورسره نه ؤ نو ځکه د تنظیم د تاسیس د عواملو په باب څه نشم لیکلی.

د دغه تنظیم اهداف دهغه له نوم څخه واضح دی! جمیع ماجاء به النبی صلی الله علیه وسلم په مخ د ځمکه باندی عملاً تطبییق شی.

له خلکو سره یی رویه د اشداء علی الکفار رحماء بینهم په اصل ولاړه وه.

دا چه د کفر او الحاد او فتنی او فساد د ختمولو لپاره جهاد کیږی لازم او ضروری ده چه په نتیجه کی به د اسلام نفاذ صورت مومی. د همدی اصل په تطبیق سره د جهاد په سلسله کی د کنړ ولایت آزاد شو نو د ټولو تنظیمونو نماینده گانو په اتفاق فیصله وکړه چه یو داسی نظام او اداری ته ضرورت دی چه حدود الله پکی نافذ شی او شرعی امیر انتخاب شی په همدی اساس د کنړ اسلامی امارت تأسیس شو، اصل عوامل د امارت اسلامی، د اسلامی حدودو نفاذ او داسلامی جهاد د هدف تحقق ؤ.

د شهید شیخ (رحمه الله) دامیر په حیث د ټاکل کیدلو علت دده علمی او دینی کارنامی دده مبارزه او جرئت ؤ.

ما د مولوی فقیرالله نه پوښتنه وکړه چه څه باعث ؤ چه تا مولوی صاحب جمیل الرحمن د امیر په حیث تائیداً ؤه او امضاء دی ورسره کوله. نو هغه په ځواب کی وویل:لا خیره فی کثیر من نجواهم الامن امر بصدقة او معرف او اصلاح بین الناس.

ماځکه مولوی صاحب مخکی تر مخکی د امیر په حیث و مانه چه په ټول کنړ کی دده په شان بل مناسب

شخص نشته. د علم په لحاظ، د مبارزې او جهاد په لحاظ، د جرئت په لحاظ، د سیاسی بصیرت په لحاظ بلکه په هر لحاظ مناسب شخص دی نو ځکه مونږه ورته مخکی تر مخکی امضاء وکړه.

متأسفانه چه د سیاسی او شخصی اغراضو په خاطر بیا د هغه اطاعت ونه شو.

د اسلامی امارت د امیر په حیث د هغه د ژوند په دوران کی ډیرحدود تطبیق شول او امن او امنیت قایم شو. هیچا د اسلامی اصولو نه د خلاف کولو جرئت نه درلود.د هغه عقیده دا وه چه د اسلام په تطبیق کی امن امنیت دی، د ټولی اجتماع خیرخواهی ده.

د شهید شیخ (رحمه الله) دقتل اصلی عوامل د هغه استقلال فکر،له اسلام سره اخلاص او د امارت اسلامی د قیام په صورت کی د اسلام د قوانینو نفاذ ؤ ځکه چه:

دغه لوی افتخار په دی صدۍ کی همدی شهید شیخ(رحمه الله)ته ور په برخه شو چه دا کار د نړۍ په باطلوسازمانو او ملکونو باندی ډیر دروند تمام شو.

چه په یوه ولایت کی دی د شیخ د امارت د لاندی اسلامی شریعت نافذ شی دا اشخاصو ته بلکه ملکونو ته قابل قبول نه ؤ خصوصاً باطلو قوتونو او مفسدو عناصرو ددی تحمل نه درلوده چه د افغانستان د جهاد په نتیجه کی دې یو سوچه اسلامی حکومت قایم شی. او د کنړ اسلامی امارت یوه مقدمه وه د ټول افغانستان لپاره.

نو د نړۍ باطلو ځواکونو، باطلو تنظیمونو او غیر اسلامی بلاکونو لکه (کمونیزم، امپرالیزم) د یوه اوږد پلان په اساس د شیخ قتل ته تصمیم ونیوه او په شهادت یی ورساوه.

غیراسلامی اوفساد پیشه تنظیمونو او افرادو د شیخ د شهادت په مناسبت غوښتل چه دافغانستان په سطحه د مسلمانانو تر منځ بدگمانی را پیدا کړی او دتل لپاره د مسلمانانو تر منځ وحدت له منځه لاړ شی نو دی کار ته یی لاس واچوه بلکه نور ډیر عوامل هم لری.

که شهید شیخ (رحمه الله) ژوندی وای نو د افغانستان ددی ځوریدلی او کړیدلی ملت د دردونو او زخمونو د تداوی لپاره به یی خپل اسلامی مسؤلیت په ملکی او بین المللی سطحه پکار اچولی وای او دافغانستان روان جریانات به یی د خپل سیاسی او علمی نفوذ او اثر په اساس په داخلی او بیرونی سویه کنترول او د ملت د خیر او بهبود خواته کش کړی وای او دیوه صالح رهبری په حیث به یی رول لوبولی وای.

شهید شیخ(رحمه الله) دمبارزې په اوږدو کی همیشه د باطل د توطیو مخه نیولی ده، هر سازش یی ناکام کړیدی. او د جهاد اصل مسیر یی په خپل خط سیر جاری ساتلی دی او د جهاد نتیجه یی د اسلامی امارت په عنوان په خپل ابتکار تر لاسه کړه.

د شهید شیخ(رحمه الله) وارثانو، دوستانو بلکه د هغه تعلقدارانو ته زما پیغام دادی چه: دوئ باید همیشه د شیخ دفکری او عقیدوی خطسیر په تعقیب سره خپل مسؤلیت رفع کړی.د هغه شهید آرمانونه په اجتماعی، سیاسی سطحه بدون د کمی او زیاتی خخه اکمال ته ورسوی.

د هغه فامیل او خاص تعلقداران باید د هغه اخلاق، دهغه اجتماعیت په کلکه مراعات کړی او د هغه شهید معتقدین د لاسه ورنه کړی.بلکه د هغه دفکر او نظر ملگری باید د هغه طرحه شوی پلانونه په یوه نتیجه منتج کړی او بی ځایه ئی ضایع نه کړی.

اصلاً شهید شیخ(رحمه الله) د الله تعالی د یوه مخلص بنده په حیث خپله اسلامی ذمه واری پیژنده او سرته رسولی ده همدارنگه د هغه ټولو ملگرو او خپلوانو ته پکار دی چه د الله تعالی خالص بنده گی اختیار کړی

او د الله تعالی بنده گی د بنده په حیث په اخلاص سره وکړی او د امتی په حیث د حضور صلی الله علیه وسلم د دعوت لاره ونیسی او همیشه د باطل په مقابل کی د یوه صالح داعی په حیث رول ولوبوی. د یوه صالح داعی صفات او خصوصیات ځان کی پیدا کړی.

محترم ... او استاد قريب الرحمن سعيد

من المؤمنین رجال صدقوا ما عاهدوا الله علیه...صدق الله العظیم.

داچی تاسی غواړی د شهید مولوی صاحب جمیل الرحمن(رحمه الله) په هکله دصف د ملگرو او پیروانو څخه د هغه د ژوند په هکله معلومات راټول او ترتیبوئ، ډیر ستر تاریخی کار دی. رښتیا هم په دی توگه کیدای شی د شهید(رحمه الله)دشخصیت هغه برخی چه د ځینو ملگرو څخه پټی وی د هغه ملگرو پواسطه چی پری پوهیږی ور وپیژندل شی په دی لار کی تاسی او ددی مجلی نورو کارکونکو ته د لوی اومتعال خدای جل جلاله څخه عظیم اجر غواړم.

خدای شاهد دی چی هر څومره په خپل ذهن فشار راوړم څو د خدای بخښلی شهید سره خپله لمړنی پیژندگلوی را په زړه کړم څو د زیات وخت په تیریدو او دانقلاب د ډیرو ستومانتیاوو په اساس می همدومره ذهن ته راځی چی د ۱۳۵۷ کال په لمړیو وختو کی کله چی د سردار داؤد په خلاف لمړنی عسکری قدم پورته شو او مونږ بیرته پاکستان ته راوگرځیدو، نو د ملگرو څخه می په گلبهار کی د محترم مولوی صاحب په هکله واوریدل، زه د مولوی صاحب له نوم سره او د اسلامی جهاد او نهضت سره د هغه د مبارزی په هکله هلته په کابل کی پوره خبر وم او نوموړی په کنړکی د کنړ د ملگرو له پاره په ځانگړی توگه او د ننگرهار او لغمان د وروونو لپاره په عامه توگه یوه ستره تکیه گڼل کیده. هر وروور به یی په ډیر افتخار سره نوم اخسته. خدای شته په هغی دوره کی می زړه ؤ چی د محترم مولوی صاحب لیدلو ته هلته د پیچ دری ته ولاړشم خو ونه توانیدم، مگر کله چه د هجرت شپی پیل کیدی او د محترم او خدای بخښلی شهید نوم می د ملگرو د خولی واورید نو سمدستی می د ځای پوښتنه وکړه. په هغه وخت کی خدای بخښلی مولوی صاحب هلته په شاه ډنډ کی یوه حویلی نیولی وه چه د کنړ اکثره وروونه به یی ترځنگ ناست وو؛ ما له خدای بخښلی سره په لمړی لیدلو کی دا هیڅ احساس نکړه چی زه د یوه ناآشنا شخصیت سره وینم، بلکه د هغه د شخصیت هغه تعریف می چی اوریدلی ؤ هغه می په سترگو کی په مکمله توگه مجسم او مولوی صاحب می تر مخ وه.

څرنگه چی په هغه وخت کی د مهاجر شوی تحریك د مشرانو تر منځ د اختلافاتو نوی باب پیل شوی ؤ، خو دشهید مولوی صاحب انقلابی اسلامی او ایمانی مزاج د اسلامی تحریك تر منځ د اختلاف دا وضع نه خوښوله، هماغه ؤ چی شهید مولوی صاحب د اسلامی تحریك د مشرانو تر منځ د روغی جوړی کوششونه پیل کړل. کله چی په دی پوه شو چی حق د یوه اړخ له پاره د منلو وړ خو بل اړخ ترې تبنتی نو شهید مولوی صاحب هماغه انقلابی اړخ چی د حق په لور ؤ ونیو.

په دی ترتیب خدای بخښلی شهید د بحرانو او ستونزو په داسی گرداب کی راگیر ؤ چه د وتلو لپاره به یی د خپل اسلامی علمی استعداد په واسطه نور هم له ځان سره غاړی ته رسول.

که د استادبرهان الدین ربانی او انجنیر حکمتیار تر مینځ د اختلاف له منځه وړل وو او که د قاضی محمدامین او انجنیر صاحب تر مینځ د یوالی او

پیوستون راوستل ؤ په تولو کی مولوی صاحب ممتاز رول درلود.

محترم شهید مولوی صاحب(رحمه الله)د اسلامی انقلاب هغه لمړی جید عالم ؤ چی د استبدادی رژیم د نوم په مقابل کی یی هیڅکله د ذلت سر ټیټ نکړ بلکه د عزت ژوند ته یی ترجیح ورکړه.

دافغانستان د اسلامی انقلاب د جهاد پیلامه د کنړ په ولایت کی دشهید مولوی صاحب(رحمه الله) تر مستقیمی قوماندی لاندی تر سره شوه همدا راز د لمړنی هجرت افتخار هم د مولوی صاحب په برخه شو.

څرنگه چی محترم شهید او خدای بخښلی مولوی صاحب د قرآنکریم مفسر او مترجم ؤ، نو زمونږ د ډلگی لپاره په هماغه وخت کی چی نور کارونه مو مخ په رکود وو، د قرآنکریم ترجمه او تفسیر ستره سرمایه وه. مونږ د مولوی صاحب(رحمه الله) د وخت نه په استفادی سره په دی موفق شو چه له هغه څخه د قرآنکریم ترجمه په مکمله توگه بیا بیا واورو او بیا د روژی میاشت خو ځانگړی حیثیت درلود.

شهید مولوی صاحب (رحمه الله) دیر زیات خاکساری او منکسرالمزاج انسان ؤ، د هرچا سره یی د هغه د سوئی او استعداد په اندازه خبری کولی، سیاسی پوهه او زیرکتیایی یو خدائی نعمت ؤ چی ورپه برخه شوی ؤ، خدای شته چه په اکثرو بحرانونو کی به یواځی او یواځی د مولوی صاحب (رحمه الله) د اطمینان او ډاډینی وروسته مونږ ته آرام پیدا کیده، هغه (رحمه الله) هیڅکله زمونږ سره د پردي او یا د غتوالی رویه نه ده کړی، همدا علت ؤ چی کله به مو نفس تنگ شونو منده مود مولوی صاحب په خونه وه. هیڅکله زما نه په یادیږی چی مولوی صاحب به په خپله خونه کی په کوم بهتر ځای ناست وی بلکه تل به د دروازی تر څنگ لکه د یوه ملنگ او فقیر انسان په څیر ناست ؤو حجره یی هیڅکله له مراجعینو څخه نه ده خلاصه شوی ،څرنگه چی نوموړی داسلامی نهضت داجرائی غړی او په علمی توان دستر استعداد خاوندؤ، په دی اساس دزیاتو ولایتو وگړی دخپلو ستونزو د حل لپاره نوموړی ته راتلل اوپه دی ترتیب به ئی خپلی شخړی هوارولی.

شهید مولوی صاحب به تل دا خوښول چی دمجاهدینو سره یوځا ئ دجهاد په سنگر کی و اوسی دخپل امارت کارونه ئی دشیگل دفتحی نه سمدستی وروسته په هماغه ۱۹۸۰کال کی دکنړد ولایت داخل ته انتقال کړل، څرنگه چی زه په هغه وخت کی دحزب اسلامی افغانستان دفرهنگی کمیټی معاون وم او هلته په «لاحسین» کی مو دراډیو یو ټرانسمیټر نصب کړی ؤ نو زه خپله هلته په «لاحسین» کی وم چی داسمار کوهی غنډ دسوبی خبر راورسید، مونږ راغلواودمحترم مولوی صاحب تر څنگ څو ورځی پاته شو.

دغنډ دتسلیمدو څخه دری ورځی وروسته کله چی دتره کی رژیم خبر شو، نو سخته بمباری ئی پیل کړه، په دی بمباری کی شهید مولوی صاحب د شیگل دتهانی ترڅنگ ناست ؤ، راکټ او بمونه دآسمانه راوریدل، خو ماچی هر څومره مولوی صاحب ته کتل، نه ئی په رنگ کی تغیر راغی او نه ئی شونډی دالله تعالی له ذکر څخه فارغی شوی، په دی بمباری کی دشیگل دپله لاندی دشهید مولوی صاحب دوه کسه طالبان شهید ان شول چی وروسته بیا دشهید مولوی صاحب په حکم هلته ښخ شول.ترهغی وروسته بیا په دویمه ورځ بیا سخته بمباری پیل شوه، مونږ کوشش کاوه چه مولوی صاحب قانع کړو ترڅو یو مصئون ځای ته ولاړشی، خو د شهید په خدای عقیده دومره ټینگه وه چی مونږ ئی هم مجبور

کړو څو همالته دده ترڅنګ کښینو، دشیګل د تهانې جنوب لوری ته دخوړ په غاړه یومسجد وه، پوه نه یم چې اوس به وی او که نه، دا مسجد دبباری له لاسه لرزیده خو مولوی ﷺ مونږ ته همدا ویل چې دالله تعالی ذکر وکړی، دا دهغه د کلك ایمان او په لوی الله تعالی باندی دباور نه ډکه عقیده وه چې مونږ ته ئې په هغه وخت کې د زړه تسکین رارساوه.

محترم ورور داکتر صاحب اسدالله فضلی

له منطقوی تعلقاتو څخه علاوه کله چه زمونږ فامیل د هلمند په ولایت کی د حکومت له حکم سره سم د فراریت او تبعیدی وخت تیراوه شیخ رحمه الله د اسلامی دعوت له احساس سره هلمند ته راغلی وو چه په هغه وخت کی زما عمر ډیر وړوکی وو، اګر چه د حق د لاری په دعوت کی ورته د مشرکینو او بدعتیانو لخوا مشکلات پیښ شول خو د ټولو مسلمانانو په زړه کی ورسره مینه پیدا شوه او دده ملاتړ یی وکړه، دده د ملاتړ کوونکو په جمله کی یو زما مرحوم پلار فضل الرحمن وو چه د اسلامی اخوت په بنأ د دواړو ډیری نژدی اړیکی وی.

کله چه ما دده دغه اسلامی جذبه ولیده، نو له مونږ سره هم احساس پیدا شو او له ده سره مو په زړه کی مینه پیدا شوه. د هغی څخه وروسته محترم شهید شیخ رحمه الله کنړ ته راغی او زمونږ له پلار سره یی قلمی رابطه وه او کله چه په ۱۳٤٤هـ ش کال کی کنړ ته راغلو فامیلی روابط مو سره لرل.

مظلوم شهید شیخ جمیل الرحمن (رحمه الله) هغه اسلامی شخصیت وو چه په ټوله نړۍ کی یی د توحید د عقیدی د لوی داعی په صفت شهرت درلود او هغه شخص وو چه د کنړ د سردرو څخه یی د توحید شعلی ټول افغانستان ته خپری کړی چه د هغه په ژوند د دنیا ټول مؤحدین فخر کوی.

شهیدشیخ (رحمه الله) خپل ټول ژوند په اسلامی مبارزه او اسلامی دعوت کی تیر کړیدی او پدی لاره کی یی ډیر کړاوونه او تکلیفونو ګاللی،

خو په خپله مبارزه کی یی د پوره استقامت او حوصلی څخه کار اخستی دی. د هغه ددی تکلیفونو دګاللو نتیجه ده چه د الله تعالی په فضل په ټول افغانستان کی د توحید د عقیدی پتنګان زیات شویدی.

محترم شهید شیخ (رحمه الله) یو باتدبیره، باارادہ او دټینګ ایمان خاوند وو او کلك عزم یی درلود چه همدی صفاتو ئی د ټولو مسلمانانو توجه جلب کړیوه، دعقیدی د دعوت په لاره کی یی لوی ګامونه اخستی دی، د دعوت مراکز یی جوړ کړیدی مدرسی یی جوړی کړیدی او د ده د دعوت په برکت په لکونو خلك د توحید په عقیده سمبال شول.

د عامو خلکو سره د شهید شیخ رحمه الله روش ډیر نیك او په اسلامی اصولو ولاړ وو، په اجتماعی اموراتو کی هغو ته ټول خلك یو شان وو او په غریب یی ترحم د حده زیات وو، د سخاوت نوم ئی په ټولو مسلمانانو کی شهرت درلود.

د افغانستان د ټولو جهادی تنظیمونو او د نړۍ د مسلمانانو سره د هغه چال چلند بی طرفه او ټولو ته به یی د توحید د عقیدی په لاره کی دعوت ورکاوه د هغه وینا ده چه د تنظیم پرستی څخه د شرك بوی ولاړیږی او پدی خبره یی عمل کولو او په مقابل کی ټول دده څخه نیکی خاطری لری.

دجماعة الدعوة الی القرآن والسنت د تاسیس ضرورت دا وو کله چه شیخ (رحمه الله) تنظیمی ژوند درلود وئ لیدل چه دیو منظم جماعت له تاسیس نه غیر د قرآن او سنت دعوت نه چلیږی او په آینده کی د یو واقعی اسلامی حکومت امیدواری نشته نو لدی کبله ئی د دین د دعوت لپاره

دغه لاره غوره کړه.

محترم شیخ رحمه الله د خپلو دوستانو او دشمنانو سره چال چلند خاص او خاص په اسلامی بنیاد وو دده په سلوك کی منطقوی، ژبنی او نور وجوهات د خیل نه وو.

د افغانستان د کنړونو اسلامی امارت د تاسیس وجوهات دا دی چه د الله تعالی امر دی چه یوه لویشت خاوره هم د مسلمانانو په قبضه کی وی په هغی کی باید اسلامی امارت قایم شی حدودالله نافذ شی حال دا چه د الله تعالی فضل دی تقریباً پنځه کاله مخکی ټول کنړ د مسلمانانو په تصرف کی راغی دلته بدون د امیر څخه ژوند کول او جهاد کول ناروا دی. **نو لدی کبله محترم شهید شیخ (رحمه الله) په اسلامی احساس د ټولو تنظیمونو دمسؤلینو سره د تفاهم وروسته او شرعی بیعت د تر لاسه کولو وروسته د کنړ په خاوره کی اسلامی امارت اعلان کړ.**

دا چه محترم شهید شیخ رحمه الله د ټولو مسلمانانو او مجاهدینو په زړونو کی ځای درلود او د ټول امت مسلمه اتحاد، اتفاق او د امنیت راوستلو لپاره یی د شهید شیخ رحمه الله موجودیت لازم او ضروری ولید د هغه څخه یی د امارت خواهش وکړ. شیخ رحمه الله هغه ومانه او د امیر په صفت انتخاب شو.

د امارت اسلامی په دور کی چه دی امیر ؤ دیری شرعی فیصلی وشوی او تطبیق شوی حدود الله نافذ شو چه ښه مثالونه یی د قاتلانو ښکاره قصاص په وټه پور کی د زانی رجم او د مخدراتو سوزول او د ظالمانو نیول او بندی کول ؤ چه د قضاء دفیصلی مطابق به سزأ ورکول کیده.

د محترم شهید شیخ رحمه الله د قتل عوامل زیات دی خو مهم او برجسته عوامل یی په اسلامی دنیا کی دده محبوبیت او شهرت وه او بل دا چه ده د اسلامی حکومت ټینګه وعده کړیوه او د اسلامی حکومت د جوړولو ټینګ عزم ئی درلود دشمنانو دده دغه استقامت نه شو تحمل کولی ځکه چه هغوی ته په ثبوت ورسیده چه محترم شهید شیخ رحمه الله کولای شی چه اسلامی حکومت قایم کړی چه ښه نمونه یی په کنړ کی خلکو ته په اثبات ورسیده نو لدی کبله د کفارو په دسیسه په اسلامی جامه کی د یوه بی دینه لخوا په شهادت ورسید.

که محترم شهید شیخ رحمه الله ژوندی وای د هغه دریځ ثابت وو تر هغی به یی خپلی مبارزی او دعوت ته ادامه ورکړی وای چه تر څو یی د قرآن او سنت حکومت قایم کړی وای. د اسلامی دعوت او جهاد په دوران کی د هغه ابتکارات دا دی چه د توحید د دعوت فکر ورسره پیدا شو او دتطبیق لپاره یې شخصی پلانونه وضع کړل. چه اسلامی دنیا ته دده صداقت او ایمانداری په ډاګه شوه نو ټولی اسلامی نړۍ خصوصاً عربی مؤحدو مسلمانانو اعتماد او مالی مرستی یی تر لاسه کړی او د دعوت په کار کی یی مصرف کړی. د دعوت مرکزیت یی وټاکه د آینده نسل د تربیی په خاطر یی مدرسی جوړی کړی او د جهاد لپاره یی مناسب شرایط برابر کړل د جهاد ثمره یی خلکو ته وښودله چه هغه د اسلامی امارت څخه عبارت ده.

مسلمانانو ته زما پیغام دا دی چه د اسلامی دعوت په خاطر دی د محترم شیخ رحمه الله خط مشی او لاره تعقیب کړی او که پدی لاره کی هر څه مخی ته راځی د استقامت او حوصلی څخه دې کار واخلی.

محترم وروورسرکاتب حضرت احمد

اگر بخواهیم اوصاف دیانت ورّ وتقوا وشجاعت امام الجهاد ومفکر اسلام شهیدشیخ جمیل الرحمن (رحمه الله)در سطر کاغذ در بیان آورم شناخت و تعارف ما با داعی راه حق شهید رحمه الله از نقطه اسلامی وهم وطنی که ازیك ولایت کنر و دره پیچ

بوده وهم از وقت جریان تحریك اسلامی که در مقابل دهریان و کمونستان صورت آمادگی میگرفت شروع شده است. تعلقات مایان علاوه از تعارف متذکره تاحتی المقدور همراه شهید رحمه الله در راه دعوت حق باندازه زیاد متداوم می شود شناخت ومعرفت شهید(رحمه الله) از کسی پوشیده هم نمی باشد چرا که **همین شخص بوده که اولاً درولایت کنرها تحریك جهاد که دهریان به افغانستان مسلط وحمله آورشدند شروع گردیده که آهسته آهسته به تمام افغانستان ازهمین ولایت کنرها به اثر مبارزه وپیش قدمی شهید رحمه الله انتشار یافته**، البته برای مسئولین مجله دعوت نیزهویدا خواهد بود که شهید شیخ رحمه الله درطول مدت انقلاب عمر خودرا درراه جهاد که یك ساعت هم غافل به سنبرده تاکه بالاخره بااثر مبارزه بی مانند شیخ رحمه الله وهمکارانش قوه حکومت کمونستی مجبوراً ازولایت کنرها رو بفرارنهاده وهزیمت راغنمیت شمردند. اوصاف شهید(رحمه الله) که باعث توجه وتعلق مردم عوام گردیده بود این بود که شیخ (رحمه الله) یك شخص بادیانت وتقوا دار وآمین وشجاع وصاحب صله رحمی بوده که بدین اوصاف هرفرد مؤمن همراهش علاقه زیاد میداشت راجع به مسؤلیت های شهید(رحمه الله)در راه جهاد که در مقابل دهریان دربسا مناطق افغانستان و خصوصاً درولایت کنرها ازجمله شیوه الی ولسوالی کامدیش ودره پیچ مجاهدین گروپ وارمجهز ومنظم ساخته ومی رزمیدند. بر علاوه ازمسؤلیت های جهادی درمناطق کنر وغیره مدارس دینی نیز آغاز داشته که درحدود هشت هزار شاگردان شامل درس شان می بودند.

محترم ورور محمد ابراهیم

د شهید شیخ جمیل الرحمن(رحمه الله) سره زمونږ د پیژندګلوی بنیادی وجه د هغه لوړ شخصیت، علمیت اسلامی دعوت او مجاهده وه چه د اسلامی تعلیماتو د حاصلولو څخه وروسته یی په لږ وخت کی اول په کنړونو او بیا په ټول افغانستان کی شهرت وموند. دا چه ما د حق پرستو علماؤ سره خاصه مینه درلوده، د همدی نیك نظر برکت وه چه ما د شیخ (رحمه الله) سره د داؤد د رژیم په اول کال د دره پیچ د ننګلام په کلی کی چه دده (رحمه الله) خپل پلرنی کور وه ملاقات وکړ او پیژندګلوی مو ورسره وشوه او د اسلامی دعوت په کاروان کی ورسره ملګری شوم.

د پیژندګلوی څخه وروسته له شهید(رحمه الله) سره دده عالی اخلاقو او د اسلام د فکرمندی اثر وه چه زمونږ تعلقات ورسره وخت په وخت زیاتیدل الحمدالله ټول وخت مو ورسره مناسبات او تعلقات ښه پاتی شویدی او د هغه کارنامی راته قیمتی قدر لری.

شهید(رحمه الله)د افغانستان د کنړونو د ولایت د مانوګی د ولسوالی مربوط د ننګلام په کلی کی په یو دینداره کورنی کی زیږیدلی دی، ده خپل ټول وخت د اسلامی تعلیماتو د زده کړی لپاره په افغانستان او پاکستان کی تیر کړی دی د وړوکوالی څخه ئی په نیکو اخلاقو او خوی شهرت درلود.

د شهید(رحمه الله) د اسلامی تعلیماتو د فراغت څخه وروسته هدف د دینی مدرسو جوړول، د شاګردانو روزل او عام طور خلك د توحید په عقیده سنبالول وه او په عین وخت کی ئی د کمونستانو او نورو باطلو نظریاتو د زهرجنو حرکاتو څخه د عامو مسلمانانو خبرتیا او د دوئ د اسلامی مسؤلیتونو رهنمایی کوله چه د هغه وخت مستبدو رژیمونو ددی اسلامی تحریك مخ نیوی کاوه او په پنجپیری،وهابی او داسی نورو نومونو به یی یاداوه او د شیخ (رحمه الله) د ګرفتاری او قتل اسباب ئی لټول او

بلآخره د گرفتاری عملی اقدام یی ناکامه شو.

د شهید (رحمه الله) په خپل کور کلی کی اوسیدل مشکل شول او د توحید د عقیدی له ملگرو سره یی په غرو رغو کی ژوند اختیار کړ. د حق د لاری د مجاهدینو په ملگرتیا یی په عملی جهاد لاس پوری کړ، د همدی حرکت تاثیراتو په ټول افغانستان کی مسلمانان د کفر او الحاد په مقابل کی بیدار کړل او متقابله تماسونه یی ونیول. پدی وخت کی داسلامی تحریک د کاروان ملگری د ظالمو حکمرانانو لخوا تنگ شول او د هجرت سلسله پیل شوه. شهید شیخ (رحمه الله) هم د خپلی کورنی سره پاکستان ته هجرت وکړ او خپل زیات وخت یی د خپلو مجاهدینو ورونو سره د جهاد په سنگر کی تیراوه او د ملحد ترکی د رژیم د منځ ته راتلو سره سم د افغانستان په گوټ گوټ کی د جهاد سنگرونه د کفارو په ضد تاوده شول. په همدی ترتیب شیخ (رحمه الله) تر دی حینه پوری د اسلامی تعلیماتو د پراختیا او له بلی خوا د جهاد د فریضی د اداء کولو لپاره د یادونی وړ خدمتونه کړیدی.

د شهید شیخ (رحمه الله)ډیر اوصاف دی چه زمونږ په زړونو کی د زیاتی توجه او علاقی وړ گرځیدلی دی، زه به یی د نمونی په ډول یو څو تاسی محترمو ته بیان کړم:

شهید شیخ (رحمه الله) ته د لوی الله جل جلاله ډیر لوی رحمت ور په برخه شوی وه چه هغه د قرآن او حدیث علم او پوهه وه او هم پری پخپله عامل وه او هم د اوچتو عالی اخلاقو خاوند او د مسلمانانو غم شریك وه او د الله تعالی د رضا نه علاوه یی له چا سره شخصی حسد او کینه نه ساتله.

د حق د لاری دستر او دروند مسؤلیت په سرته رسو لو کی ئی عملی گامونه اخستی دی چه یو د هغو نه د اسلامی تعلیماتو پراختیاء ده چه په سوونو مدرسو کی یی په زرهاؤ طالب علمان دینی زده کړه کوی او هم

یی امر بالمعروف او نهی عن المنکر د ژوند د هری لحظی سر خط وه، د جهاد اهمه فریضه او دمجاهدینو سالمه رهبری او دشرعی حدودو انفاذ او د منطقی امنیت یی له عملی پرگرامونو څخه دی.

له عامو خلکو سره د شهید شیخ (رحمه الله) چال چلند د اسلامی خیر خواهی په بنیاد ولاړ وه، هغه (رحمه الله)نه غوښتل چه څوک دی د اسلام له مقدس دین څخه منحرف او په الهی عذاب گرفتار شی، بلکه خلکو ته به یی د نیکو کارونو وصیت کاوه، په مشکلاتو به یی ورله ځان خبراوه او له هر مسلمان سره به ئی مرسته کوله، د شهیدانو وارثانو ته به یی د صبر او استقامت درس ورکاوه او د یتیمانو غم شریك وه.

د افغانستان دجهادی اسلامی تنظیمونو او د نړی د ټولو اسلامی تحریکونو سره د شهید شیخ (رحمه الله) نیك نظریات او نژدی تعلقات ساتل او د دوی ترمنځ د اسلامی اتحاد او یووالی ستر داعی پاتی شویدی او عام طور ورسره د هغوی عکس العمل ښه وه، یوازی د هغه چا له مخالفت سره به مخامخ شوی وی چه اقتدار ته د رسیدلو په لار کی ورته په حق سترگی پټی شوی وی.

دا چه شهید شیخ (رحمه الله)د مسلمانانو اتحاد او یووالی خپله فریضه شمیرله او په عین حال کی د افغانستان جهادی اسلامی تنظیمونو ته د اتحاد داعی وه مگر م:أسفانه چه دغه جهادی تنظیمونو خپلو هغو تعهداتو ته وفاداری ونکړه چه د اتحاد لپاره یی کړی وه، نو د علماؤ په مشوره یی د یوداسی جماعت جوړولو ته ضرورت ولید چه یوازی کتاب الله اوسنت رسول الله صلی الله علیه وسلم ته دعوت وکړی، ځکه چه داد اسلامی

اتحاد بنیادی مسئله ده؛ نو پدی منظورجماعت الدعوةالی القرآن والسنة تنظیم تاسیس شواو مقصد یی د مسلمانانو راټولول د توحید په عقیده وه لکه چه د نامه څخه ئی صفا وضاحت د مقصد کیدای شی.

د شهید شیخ (رحمه الله) دوستی او دشمنی د کتاب الله او سنت رسول الله صلی الله علیه وسلم د ارشاداتو موافق وه، د الله نیك بندګان یی دوستان او د الله تعالی نه باغیان یی دشمنان وه او په عین حال کی ئی نیکیو ته دعوت عام وه.

الحمدلله د اسلامی عملی جهاد پیل د کنړونو له ولایت څخه د اسلامی عقیدی په بنا شویدی او بیا وروسته ئی د افغانستان نورو ولایتونو ته سرایت کړیدی.

نو د کنړونو د ولایت د مکملی آزادی نه وروسته ددی ولایت قهرمانو مجاهدینو د الهی هدایت په رڼا کی دلته د یوی واحدی اسلامی اداری جوړول خپله فریضه وګڼله او د ټولو جهادی تنظیمونو ګډی شوری دا مشترکه فیصله د جیدوعلماء کرامو په رهنمائی صادره کړه او با لآخره په (۱٤۱۱)هـ.ش د کنړونو اسلامی امارت تاسیس شو.

دا چه شهید شیخ جمیل الرحمن (رحمه الله) د افغانستان د اسلامی انقلاب قائد او د کنړونو د ولایت اوسیدونکی عالم وه او د هغه (رحمه الله)اوصاف او کردار د اسلامی هدایت په رڼا کی د علماؤ، مشرانو او عموماً مجاهدینو لخوا تائیدوه، نو د مشرانو په غوښتنه د کنړونو د اسلامی امارت آمیر وټاکل شو او شرعی بیعت ورسره وشو چه مکمل اسناد او شواهد یی اوس هم موجود دی.

د شهید شیخ(رحمه الله) د امارت په دور کی د کنړونو د ولایت په ټولو سیمو کی شرعی حدود نافذ شول، عملی قصاصونه وشول، قطاع الطریق د خپلو عملونو په سزاء ورسیدل، د کنړونو د ولایت د ټولو اوسیدونکو خپل حقوق اعاده شول چه عبارت له خارجی مرستو، خیریه مؤسساتو او داسی نورو څخه دی.

د شهید شیخ جمیل الرحمن (رحمه الله) اسلامی عالی تفکر، عزم او شجاعت د اسلام داخلی او خارجی دشمنانو ونه شو زغملی نو د شهید د پاکو وینو تویولو ته وهڅیدل او ددی لوئی هستی د له منځه وړلو کوششونه یی جاری وساتل او بالآخره په ۱۹۹۱/۸/۳۰ نیټه یی په ډیره بی رحمی سره په شهادت ورساوه.

(انا لله وانا الیه راجعون)

شهید شیخ (رحمه الله) د اسلامی دعوت او جهاد په دوران کی خپل شخصی خواهشات شاته غورځولی او د اسلام او مسلمانانو ګټی او د جهاد کامیابی ئی په نظر کی نیولی او هغو ته یی ترجیح ورکړیوه.

د شهید شیخ(رحمه الله)وارثانو، دوستانو او د جماعت متعهدینو ته زما پیغام دا دی چه پدی کی هیڅ شك نشته چه د شهید (رحمه الله) په شهادت سره د افغانستان د جهاد په کاروان کی عموماً او د جماعت الدعوة په تنظیم کی خصوصاً یوه لویه خالیګاه رامنځ ته شوه خو الحمدلله چه مونږ مسلمانان او په الهی مقرراتو او هدایاتو ایمان لرو، نو زمونږ لپاره د تسلی ځای دی چه شهید (رحمه الله) د یو پوه عالم او رهبر په صفت خپل مسؤلیتونه سرته ورسول اوخپل یوازنی آرمان ئی چه شهادت وه الله تعالی هغه هم ورپه برخه کړ، پیغمبران علیهم السلام او صحابه کرام رضی الله عنهم الله پاك د یو معین وخت لپاره دنیا ته رالیږلی دی او د ورسپارل شوی مسؤلیت د سرته رسولو څخه وروسته پدی حقه لاره تللی دی او د هغوی نقش قدم یی د اسلام د پیروانو لپاره دفلاح او کامیابی لار ګرځولی ده، **مونږ او تاسو ته پکار دی چه د**

شهید (رحمه الله) په هغه اسلامی تګ لاره باندی ثابت قدمه پاتی شو او د دین داخلی او خارجی دشمنان په خپل شوم هدف کی پښیمانه کړو او پدی وپوهیږی چه د حقی لاری کاروان شوم اهداف نشی فتح کولای. (ومن اله توفیق)

محترم ورور مولوی صاحب محمد شریف

زماد شیخ صاحب سره د پیژندګلوی وجه د قرآن او سنت خدمت وو چه زما او د هغه تر منځ مشترکه وجه ګڼل کیده.

زه وړوکی طالب العلم ووم. د توحید مسئله شیخ القرآن محمد طاهر صاحب شروع کړی وه او د خلکو ورسره سخت اختلافات وو. خلکو به وی چه کنړ کی یو عالم دی چه نوم یی حسین اخونزاده دی چه ډیرقابل سړی دی، بیا مونږ خبر شو چه هغه چارسده کی د مولانا عبدالرحمن سره دوره کړیده او د توحید په مسئله یی ډیر تکالیف برداشت کړیدی. بیا هغوی پنج پیر ته راغلل او زما ورسره په پنج پیر کی په سنه ۱۹۶۵ کی ملاقات وشو خلکو چه د هغه کوم صفتونه ذکر کړی وه هغه پکی رشتیا وو، هغه د دین خادم وو او له قرآن وسنت سره یی ډیره مینه لرله.

هغه د اسلام او شریعت محمدی یو مخلص خادم وو او داسلام خدمت یی د زړه په مینه او محبت سره کوه او دنیا پرست، لالچی نه وو. د اسلام سره یی بی حده زیاته مینه وه.

شیخ صاحب په میدان جهاد کی یو مخلص مجاهد او نه ویریدونکی سپاهی وو او د کنړ په ولایت کی د ټولو نه ړومبی دقرآن او سنت اشاعت کونکی وو. او پدی باره کی پری مصایب او آزمایشتونه راغلی وو. او خدای پدی ټولو آزمایشونو کی ثابت قدم پاتی کړی وو.

هغه یو ځل خبره کوله چه زه یو ځل د کنړ والی وغوښتم او ماته یی ووی چه خلك وایی ته امام صاحب نه منی؟ دی والی ډیره خریلی وه، کوټ پتلون یی اغوستی وو، ما ورته وی چه که امام صاحب ستا غوندی ږیره خریلی او کوټ پتلون ئی لګولی وی، نو زه یی نه منم او که هغه زما پشان غټه ږیره لری او د پیغمبر صلی الله علیه وسلم دسنتو مطابق د هغه پوزیشن وی، نو زه امام صاحب منم او ته یی نه منی. دا د هغه بهادری او دلاوری وه او د حق د لاری سپاهی هم دغه شان بهادر او دلاور وی.

هغه اوصاف د کوموپه باره کی چه ورسره زما تعلق زیات وو هغه دا دی: چه شیخ صاحب د صحیح عقیدی خاوند وو او د دین سره یی ډیره مینه وه او ډیر عاجز مزاجه، وو سره د لوی حیثیت نه د علم او علماؤ سره یی ډیره زیاته مینه لرله.

د یووړوکی طالب سره کیښناستل به ورته د دنیا د یو غټ سړی نه غوره وو، اکثر چه به په لاره روان وو، دینی مدارسو ته به ورتلو اوطالبانو نه به یی تپوسونه کول او چا چه به صحیح ځواب ورکړو، هغه ته به یی انعام هم ورکو، ددی د پاره چه د علم سره یی مینه پیدا شی.

د دعوت د سرته رسولو په غرض د شیخ رحمه الله عملی پروګرام دا وو چه په مهاجرو او انصارو کی یی دینی مدارس قایم کړل، علماءئی تربیت کړل او په مدارسو یی پوره خرج اوکړو. او تر کافی حده پوری یی یو نوی نسل د صحیح عقیدی خاوندان پیدا کړل. او خلکو ته یی دا توجه ورکړه چه مونږ دی عمل او عقیده دواړه صحیح کړو ځکه چه د دنیا او آخرت کامیابی بغیر ددینه نشته، خو افسوس چه دا

امیدونه د هغه ژوند کې پوره نشول، امید لرم چه د هغه پسماندگان به د هغه مشن جاري وساتي.

دعامو خلکو سره د هغه چال چلند د عاجزمزاجی، شفقت، رحمت او سخاوت وو.

دافغانستان له اسلامي جهادي تنظیمونو او د نړۍ له نورو اسلامي تحریکونو سر د شیخ رحمه الله چال چلن په ښه طریقه وو هغه به وی چه نن په دنیا کې خلك د اسلام نوم اخلي خوپه شعوري طور په اسلام پوه نه دي. او اسلامي تحریکونه هم اکثر د مغرب پر .نگ کې رنگ شوي دي. نو اسلامي تحریکونو له پکار دي چه هغه ړومبی خپل کارکنان شعوري طور په اسلام پوه کړي څو د دوی د عقیدی او عمل اصلاح وشي، **او که دا ونکړي او اسلامي نظام قايم هم شي، نو د بې تربیته خلکو له لاسه به خراب شي.** ځکه خو پیغمبر صلی الله علیه وسلم اول کار د عقیدی نه شروع کړی وو، هغه به وی چه مونږ له پکار دي چه خپل تحریکونه په هغه طریقه روان کړو کومه چه د پیغمبر صلی الله علیه وسلم او دهغه د اصحابو طریقه وه خو د شیخ صاحب زیاته مینه له سلفی تحریك سره وه نو بعضی تحریکونو به له شیخ صاحب سره پدی کې مخالفت کاوه.

شیخ صاحب ډیر وخت په جهاد کې د نورو تنظیمونو سره په گډه تیر کړ خو هغه ووی چه زمونږ کوم مقصد دی نوهغه په گډه ددی تنظیمونو سره نه حاصلیږي او په اکثرو شوریٰ گانو کې به دده سره په دیني مسایلو بحث او مباحثې وی، **هغه وی چه زمونږه مقصد خو په دنیاکې عموماً او په افغانستان کې خصوصاً د قرآن اوحدیث عقیده خورول او هلته د قرآن مطابق حکومت قايمول دي.** هغه چه ولیدل چه دا مقصد زمونږه په گډه نه حاصلیږي نو علماء یې را وغوښتل او مشوره یې ورسره وکړه او د هغوی په مشوره یې جماعة الدعوة الی القرآن والسنة جوړ کړ.

دشیخ صاحب له خلکو سره دوستي اودښمني د دین په بناء وه ، چه څوك به د دین خیر خواه وو هغه به دده دوست ؤ او چه څوك به د دین دښمن وو هغه به دده دښمن وو.

که شیخ (رحمه الله)ژوندی وی نو د افغانستان په روانو سیاسی جریاناتو کې به د هغه رول د حق ملگرتیا او د باطل مخالفت ؤ ځکه چه دا د هغه د مبارزې او جهاد او دعوت اساس گڼل کیده.

د شیخ رحمه الله وارثانو، دوستانو او د جماعت ملگرو ته زما نصیحت دا دی چه د شیخ رحمه الله مشن جاري وساتي او د کوم مقصد د پاره ئې چه دا جماعت جوړ کړی ؤ هغه مقصد پرې نړدی او خپل منځ کې د ډله بازو نه ځان وساتي او د ایثار او قربانو لار خپله کړي او له خلکو سره په ښه سلوك او ښو اخلاقو وخت تیر کړي.

والسلام علیکم ورحمةالله وبرکاته.

محترم ورور امر صاحب انور خان

دظاهر شاه د حکومت په وخت کې به خبریدلو چه د مولوی حسین په نامه یو مؤحد عالم دین دی، د بدعاتو، رسوماتو اوشرکیاتو په ضد مبارزه کوی. هغه وخت چه داؤدخان د کمونیستانو په پروگرام او حمایت کودتا وکړه او د ظاهرشاه شخه یې د حکومت واگې د داؤد په لاس کې ورکړې زما تعلقات له شیخ(رحمه الله) سره پیدا شول.

کوم وخت چه داؤد د افغانستان د حکومت واك په لاس کې واخست، شیخ(رحمه الله) بې له ځنډه د داؤد کفر په وضاحت سره د مسلمانانو په وړاندې بیانولو او خلك یې ورته په مقابل کې مقدس جهاد ته تیارول. داؤد هم د شیخ(رحمه الله)د دست گیری او قتل د پاره ټول قوتونه پکار واچول لیکن د پاك الله رحم وو چه د شیخ(رحمه الله) په دست گیری او قتل کې کامیاب نه شول.

د یو څه وقفې نه وروسته شوروی

کمونستان پدی پوه شول چه د داؤد په لاس زمونږ پالیسی مخ په وړاندی نه ځی دوهم دفعه یی کودتا وکړه د حکومت اقتدار یی ترکی ته حواله کړو. شورویانو غوښتل چه افغانی کمونستان درجه په درجه یو په بل پسی ختم کړی او د افغانستان خاوره د سرو لښکرو په قوت پخپله اشغال کړی اودنیاوالوته د افغانی کمونستانو دمعاونیت په نامه دوکه ورکړی، همدغسی یی وکړل، لیکن د پاك الله فضل او رحم وو چه دمؤمنو مجاهدینو په لاس یی دوی په خپل کور او په افغانستان او ټوله نړۍ کی رسوا او نابود کړل.د تره کی دحکومت په وخت کی مونږ د شیخ (رحمه الله) په رهنمایی د کنړ په غرونو او درو کی نه ستړی کیدونکی فعالیتونه شروع کړل، عام خلك به مو دجهاد مقدسی فریضی ته دعوت کول، په لنډ وخت کی خلك پوه او په هجومی توگه یی جهاد د کنړ د غرونو څخه شروع کړ. د شیخ(رحمه الله)د فعالیت نتیجه اوس هم ټوله دنیا په سترگو وینی.

د بریکوټ لویه قوه په طول د څو کلونو کی دمجاهدو لخوا د اسمار او بریکوټ ترمنځ محاصره وه، له کابل څخه د دغه سرك د آزاد ولو او د محاصری دماتولو دپاره ډیر کمونستان راغلی وه د دغی قوی سره د مقابلی د

پاره زه داسمار او بریکوټ ترمنځ سنگر کی وم، شیخ(رحمه الله) پدغه سختو شرایطو او بمبارو کی له څو کسو ملگرو او پنځه میله برقی راکیټونو سره چه هغه ئی هم له کوم ځای څخه په موقتی توگه راخستی او یوه اندازه کارتوس یی چه یو ټوپی ئی پخپله شا پوری تړلی وو،ددغری قوی د مقابلی سنگر ته را ورسید، تنها قومندانان یی جهاد ته نه برابرول بلکه پخپله یی هم په سنگرونو کی برخه اخستله.

شیخ(رحمه الله) پدی فکر وو چه هر ملك او وطن کی د پاك الله تعالی بنده گان د بدعاتو،شرکیاتو او رسوماتو په مرض گرفتار دی، په هر قیمت او تکلیف چه کیږی دا د الله تعالی بنده گان باید د بدعاتو او رواجونو له ځنځیر څخه خلاص شی.

همدغه اراده وه چه د مهمندو په قبایلی علاقه مامدگټ کی یی پداسی صورت کی یو تعلیمی غونډ د حضرت حذیفه رضی الله عنه په نامه جوړ کړ چه بعضی مخالفو تنظیمونو به د دغی منطقی قومونه تحریکول چه دلته د وهابیت اډه جوړیږی، بالآخره پدغه قوم د پاك الله رحم وو چه دشیخ (رحمه الله) نیکی هلی ځلی یی کامیابی کړی، پدغه غونډ کی به افغانی او هم د ټولی نړۍ مسلمانانو ته که عرب وو او که عجم، د مقدس جهاد د پاره ټریننگ ورکول کیده او هم د توحید له عقیدی سره آشنا کیدل.

محترم ورور ځارنوال رضوان الله

شهید شیخ جمیل الرحمن (رحمه الله)د ۱۳٤٦ هـ ش کال نه را پدی خوا پیژنم چه دجناب محترم مولوی صاحب قلم الدین کور ته چه د کابل پوهنتون په غربی اړخ کی واقع وو راته، د پوهنتون د ځوانانو سره به یی تماس درلود او څرنگه چه نوموړی شیخ هم په دین باندی واقعاً پوه او رسیدلی عالم وو هماغه وخت یی وضع ډیره ښه تحلیلوله، حتی ځوانان به یی د هغه څه په نسبت چه په راتلونکی کی پیښ شول متوجه کول، دا چه نوموړی شیخ د دائم لپاره په کابل کی نه ؤ او طبیعی خبره ده چه کابل مرکزی حیثیت لری، روان جاری حالت چه د هغه وخت د الحادی زمامدارانو او بهرنیو ملکونو لاس وهنی وی، پدی اساس یی مختلف پلانونه درك کول او بیا هماغه شان حسب الضرورت تصمیم نیول او د مسلمانانو د صفونو جوړول

او هغوی بیدارول ضروری خبره وه خو د مرکز څخه لری والی ددی سبب شو چه نوموړی کوم منظم صف د ځوان نسل څخه جوړ نه شو کړلای، که نه د دی خبری ئی ضرور تصمیم درلود.

د شیخ خوله به همیشه د تبسم څخه ډکه وه، که کوم بدعی،او په ناروا ولاړ یو انسان به کله سخته خبره هم وکړه خو ده به په دومره نرمه بااستدلاله عالمانه توگه جواب ورکړو تا به وی چه دی د مقابل جانب سخت خواخوږی او غمخور انسان دی.

دده د زړورتوب، شجاعت، میړانی او جهاد قصی او داستانونه نه خلاصیدونکی، پندناکه او دعبرت نه ډک بیانونه دی چه باید دیوه مستقل کتاب په شکل چاپ شی.

همدا علت وه کله چه به شیخ د حزب اسلامی افغانستان دفتر ته راغی نو د حزب ټولو افرادو که د بعضو نورو خلکو قدر د هغوی د مقام او منزلت په خاطر کولو خو د ده قدر یی د علمیت، شجاعت او روحانی منزلت او د هغه د متقابلی مینی له کبله کولو چه د ده له تندی دمحبت اومینی پلوشی ځلیدلی.

محترم حکمتیار صاحب چه به کله په کومه موضوع کی د یوه متقی او بادرد عالم او هغه چا چه اول یی مسلح قیام ته لاس اچولی مثال ذکر کولو نو اشاره به یی په لمړی سر کی همدغه شیخ ته کوله او پر ده به یی ویر افتخار کولو.

ما خپله په دی خاطر ورسره مینه درلوده چه نوموړی په افغانستان کی د **صحیح عقیدی دلمړنیو داعیونو څخه او د جهاد د سنگر لومړی باز او شاهین، د علم زانگو، د تقوی او تصمیم نیولو یو سنبول وو.**

زما په یاد دی چه ده نه غوښتل مستقل تنظیم جوړ کړی او حتی په افغانستان کی د یوه اسلامی انقلاب په خاطر به یی د هغو مبتدعینو سره چه کوم یو کس به د ده په صفونو کی د امیب په شکل وجود درلود، د هغوی د ارضاء په خاطر بعضی بدعتی مراسم هم اجراء کول. خو یو شمیر انسانان چه همدا وایی د یوه الله مرسته وغواړی د مچی په شان به درپوری ونخلی چه دا د فلانی منکر دی او دا د فلانی او حتی د اتحاد په مراسمو کی به یی داسی شیان غوښتل ځای کړی چه هغه به هیڅ مطلوب هم نه وو. داسی هم شوی چه څرنگه وکولای شی دی د صحنی نه وباسی او رده په رده به یی داسی مسائل مطرح کول چه هغه به نهایت زیات لانجمن خو وو خو د ده لپاره به دردسر وگرځیدل نو شیخ مجبور شو چه مستقل نظم ولری او تر څو چه ژوندی وو نو حقیقتاً د خپل تنظیم په پر مخ بیولو کی ډیر موفق وو. او کوشش یی کولو چه د الله کتاب او د پیغمبر صلی الله علیه وسلم سنت په ټولنه حاکم وی.

زما پیغام د ده کورنۍ او دده دصف ملگروته دا دی چه لومړی باید د دین په تعلیم او بیا د تقوی په درلودلو او د مسلمانانو د صف د یووالی لپاره پوره جد او جهد وکړی د دښمن سره هم د اسلام په خاطر د مینی او محبت نه کار واخلی او د دعوة لاره پری نه ږدی.

والسلام.

محترم ورور ارباب صادق

له محترم شیخ شهید(رحمه الله) سره زما تعلق او پیژندنه د عقیدی په بناء راغلی وه او صحیح تعارف مو په ۱۳٦۰ هـ ش کال کی شویدی.

د پیژندگلوۍ څخه وروسته زما او د مرحوم تعلقات بی نهایته نیك او نژدی وو.

دا چه په اوسنی زمانه کی د مرحوم ټول نیك اوصاف ټول عالم اسلام ته په عام طور، مونږ او تاسو ته په خاص طور جوت ڎ چه کوم ساری یی نه درلود. او هم دده موجودیت د ټولو باطل پرستو لپاره دترس او هراس سبب وو. او دټولو واقعی مؤمنانو لپاره د امید او تکیی مقام ڎ د کونډو، یتیمانو او بی وزلو د آرزوگانو د تسلی مقام ڎ.

د شیخ شهید(رحمه الله) د ژوند ټولی کارنامی به د تاریخ په زرینو

کربنو کې د راتلونکې نسل د هدایت او عبرت درس وي لکه د قرآن او سنت په رڼا کې توحید ته بلنه، د شرك او بدعت په ضد مبارزه، د کمونستانو په مقابل کې د افغانستان د مجاهدینو د مقدس جهاد لومړۍ تعلیم د افغانستان په یوه آزاده سیمه کې د لومړي ځل لپاره اسلامي امارت اعلانول او بیا په همدغه سیمه کې د اسلامي امارت د مقرراتو او د الهي دین او حد نافذول «دالله ځمکه او دالله قانون».

د مظلوم شهید(رحمه الله) ټول اوصاف او کړنلاره زما د مینې او محبت د جذب او جلب رسۍ وه، بې مبالغې دا خبره کوم چه د محترم شیخ له شهادت نه وروسته ما د شیخ (رحمه الله) ټوله کارکردګي چه زما سره یې کړیوه په یاد او خیال کې مې راوستله لیکن ما یوه دومره خبره هم پیدا نه کړه چه زما د پریشانۍ او آذیت سبب ګرځیدلې وي د مرحوم شفقت خو څه، بلکه د هغه غصه هم شفقت ؤ چې په تمام عالم جهان کې یې مثل او ساری نه لیدل کیده، هغه په کنړونو کې د اسلامي امارت اعلانول او د الهي دین او حد نافذول دي.

د مرحوم مقصد حق ته دعوت او د انبیاؤ علیهم السلام مشن چلول ؤ چه هما غسې د هغوی طریقه او روش له عامو خلکو سره وو داسې ددې مرحوم هم ؤ.

مرحوم غوښتل تر څو د بعضو مسلمان صفته مجاهدینو اوصاف د قرآن اوسنت برابر او ورسره آشنا کړي او په خاصه توګه دشرك، بدعت، تقلید او ناوړه رسم ورواج مخه ونیسي چه د همدې مقصد لپاره جماعة الدعوة الی القرآن والسنة افغانستان تأسیس شو.

خپل دوستان به یې همیش د دعوت په لاره کې تشویقول، د صبر، ثبات او استقامت په هکله به یې ورته توصیه کوله. او له دښمنانو سره به یې داسې چارچلند کاوه چه په لږه موده کې به یې دښمني په دوستۍ بدله شوه.

دجهاد غایه او مقصد نې دا ؤ چې د الله تعالی په ځمکه الهي قانون نافذ شي او حدود نافذول نې دامیر اسلامي او امارت اسلامي وظیفه ګڼله چه جهاد د همدې مقصد لپاره شروع شوی ؤ.

په مرحوم شیخ شهید(رحمه الله) کې ټول هغه اوصاف چې اسلام د امیر اسلامي لپاره ښودلي دي موجود وو او بل د کنړ د ټولو مسلمانانو په ده باندې اعتماد ؤ او دی یې اهل ګڼنه ځکه یې داسلامي امارت د امیر په حیث ورسره بیعت وکړ.

د مرحوم د شهادت وجه همدا د اسلامي امارت جوړول او اعلانول ؤ چې د شرقي او غربي بلاکونو په شمول یې ټول استعماري طاقتونه ولړزول چې د نړۍ توجه دده مرحوم دشهادت سبب شوه. دده په قتل کې ملوث هغه کسان وو چې د اسلامي امارت د ړنګیدو اقدام یې کړی ؤ.

زما په نظر او عقیده که شهید مرحوم(رحمه الله) ژوندی وی نو پدې روانه شخړه کې به یې استقلال حفظ کړی وای او امارت اسلامي به یې د یو سوچه اسلامي حکومت تر منځ ته راتلو پورې ژوندی ساتلی وای او پدې فسادي لوبه کې به یې ګډون او اشتراك نه وی کړی. البته خپل دعوت به یې جاري ساتلی وی.

شهید شیخ (رحمه الله) د دعوت الی القرآن والسنة جماعة تاسیس کړ، بې شمیره مدارس یې جوړ کړل او په زرګونو شاګردان یې وروزل او په خپل ژوند کې یې امارت اسلامي جوړ او تأسیس کړ او د شرعي حدودو انفاذ یې وکړ او ډیر خلك یې د شرك او بدعت او کورکورانه تقلید له ګرداب څخه د قرآن

او سنت په رڼا کې د توحيد ميدان ته وايستل.

زماپيغام دشهيد(رحمه الله) وارثانو او دوستانو ته دا دی چی شيخ (رحمه الله) يو انسان ؤ د مرگ خاوند ؤ او مرگ ورته ورسيد او هغه مرگ ورته ورسيد چی حضرت عمر فاروق رضی الله عنه حضرت عثمان رضی الله عنه او حضرت علی رضی الله عنه ته رسيدلی ؤ.(انا لله وانا اليه راجعون.)

بايد د هغه طريقی او کارنامی مړې نشی او دده مشن د ژوندی ساتلو تعلق زمونږ او ستاسو ايمانداری او اخلاص پوری اړه لری.

والسلام

محترم ورو سلطان صديقی

شيخ شهيد يو مؤحد نيک سيرت مجاهد ليډر وو دهغوی سره زما پيژندگلوي په کال ۱۹۸۵م کی هغه وخت وشوه چه کله ما دهغوی سره انټرويو کوله دجماعة الدعوة الی القرآن والسنة دامير په حيثيت دادهغوی رومبی انټرويو وه.

د پيژندگلوی نه وروسته له هغوی سره زماتعلقات مخ پروړاندی زياتيدل، اکثر وختو کی به له هغوی سره ملاقاتو نه کيدل او داتعلقات دهغوی له شهادت نه وروسته دهغوی له خاندان او ملگرو، تنظيمی مشرانو او خپلوانو سره اوس هم موجود دی.

ددعوت مجلی په اردو ژبی کی ورومبی آغاز زمايه تعاون سره شوی وو او ليکلو سره سره دمضامينو تصحيح زما کار وو او نو د شهيد په حقله دتاثراتو په حواله مضمونونه د دعوت مجلی په اردو برخه کی او د کراچی نه شايع کيدونکی تکبير مجله کی دقارئينو په وړاندی راغلی او اکثرو خلکو لوستلی دی.

د شهيد ژوند او مبارزه په علمی او په سياسی ميدان کی په تنظيمی او انتظامی ميدان کی، په حکومتی سطح (امارت اسلامی)اوجهاد په ميدان کی يوه يوه لمحه د ستاينی وړ ده او يوه يوه وروکی واقعه هم دومره اهمه او تاريخی حيثيت لری.

او د هغوی ژوند د داسی تاريخی جهادی واقعاتو نه ډک دی چه هره موضوع هر پلو او هر اړخ د ځانله ځانله کتابونو ليکلو وړ دی بلکه په هر اړخ با ندی بيل بيل کتابونه ليکلی کيدی شی.

عالم باعمل، د وعدی پابند، په خپل موقف ټينگ ولاړ، داسلام دشمنو د پاره سخت او دملگرو د پاره نرم بااخلاقه او باکردار د اسلام خدمت ته چمتو چه خپل سر يی په دی لار کی ورکه.

دحق د لاری د ستر دعوت د دروند مسؤليت د سرته رسولو په غرض چه شهيد د عملی پروگرام د پاره کوم اقدامات کړی وو د تنظيم د قيام نه **پس د کنړ آزادی او هلته د اسلامی امارت قيام او د اسلامی شريعت نفاذ د هغوی هغه لويه کارنامه وه چه د مکمل افغانستان د آزادی نه پس هم لا تر اوسه هغه څه چا نه دی کړی کوم چه هغوی په خپله زير کنټرول علاقه کی کړی وو.**

که شيخ ژوندی وی نو په موجوده حالاتو کی به د هغوی رول د کمونيزم کمونستانو او د غير اسلامی اقداماتو په خلاف او په افغانستان کی د يو حقيقی اسلامی حکومت د قيام او د قرآن وسنت د نفاذ په حق کی وی.

والسلام عليکم ورحمة الله وبرکاته

محترم ورور قاضی فضل غنی کاموال

کله چه شيخ رحمه الله په شهادت ورسيد نو الله تعالی شاهد دی چی زما اوښکی ترسهاره وچی نشوی قلم می راواخست په داسی حال کی چی اوښکی می په گريوان روانی وی دده په شهادت می شعر وليکه چه په اکثره جرائدو اوددعوت په مجله کی هم هغه شعر نشر شو. نوزما همغه شعر ستاسو اکثره پوښتنو ته ځواب وائی خو بياهم زما دشهيد مولوی صاحب سره ډيره مينه وه کوم صفتونه چی الله

تعالی په ده کی پیدا کړی وو،په هغو صفتونو نور انسانان ډیر کم پیدا کیدل **دی د انقلاب مؤسس او په کنړ کی د ملحدانو په مقابل کی اولنی پاڅوان ؤ**، دده ژوند ډیر ساده او د هر چا سره ئی په پراخه تندہ چار چلند کاوه دده عزم، اراده او ثبات بی ساری ؤ په علمی انداز کی چی به ده کوم تحلیل او تفسیر کولو نو ډیرو پوهانو به ورته گوته په غاښ کی نیولی وه، دده سخاوت لکه دلمر په څیر هر چا ته څرگنددی، دغریبانو او مظلومانو ملگری دمستکبرانو او خودخواهانو سخت دښمن ؤ.

کله چی مونږ په ۱۳۵۷کال کی پاکستان ته رامهاجرشو نو هغه وخت زمونږ تعلق دحزب اسلامی سره ؤ او شهید مولوی صاحب دکنړ دولایت امیر اوحزب اسلامی داجرائیه مجلس غړی ؤ، زمونږ دهغه سره تعلق او پیژندگلوی دهمغه وخت نه پیل شوه.

زمونږ تعلقات دپیژند گلو ی څخه وروسته دمرحوم مولوی صاحب سره ډیر صمیمانه اودوستانه ؤ.

مرحوم شیخ صاحب سترمجاهد، عالم اوسیاسی شخصیت ؤ.مرحرم شیخ صاحب خپل ټول ژوند د الله تعالی په لیار کی دجهاد او مبارزی لپاره وقف کړی ؤ زما دده دژوند سادگی، پراخه تندہ،سخاوت او علمیت ډیر خوښیدل.

د حق بهترین داعی اومجاهد شخصیت ؤ.

د ټولو جهادی اسلامی تنظیمونواو دنړی دټولو اسلامی تحریکونو سره ئی نیک روابط درلودل .

شهید مولوی صاحب د خپلو دوستانو سره ډیره مینه درلوده آن تردی چه دتوان په اندازه به ئی کومکونه هم ورسره کول.د شیخ رحمه الله وارثانو دوستانو اودجماعة متعهدینو ته زما دا پیغام دی چی دمرحوم شیخ تگ لیاره تعقیب او د تل لپاره د هغه په نقش قدم باندی قدم کیدی.

والسلام

محترم ورور عبدالودود پاچا

د کله نه چه په أفغانستان کی د ملحد حکومت خلاف جهاد شیخ شهید(رحمه الله) د کنړ نه شروع کړ، نو مجاهدین به دبن شاهی په لاره تلل او مونږ ته به یی دشیخ (رحمه الله) په حقله بیانونه کول اوکله چه پاکستان ته یی هجرت اوکړو نو زمونږ پیژندگلوی ورسره راغله دغه د جهاد وجه وه چه مونږ ورسره وپیژندل.

د پیژندو نه وروسته شیخ صاحب د حزب اسلامی مربوط وو او زمونږ تعلق هم د حزب سره وو د دوی په ارتباط به مو په جهاد کی شرکت کولو او کله

چی یی خپل تنظیم د جماعة الدعوة الی القرآن والسنة په نوم بیرته فعال کړو نو په تنظیم کی مو ورسره برخه واخستله او د ارتباط په شعبه کی مو کار کولو هغه زمونږ امیر او رهبر او مونږ یی مامورین او رعایا وو.

شیخ (رحمه الله)یو مجتهد عالم ؤ چه دده غوندی عالم نه په عربو کی وو او نه په عجمو کی یو عالم او مفتی به د ده په مخ کی د خبرو جرأت نه شو کولای.

دی اولنی لیډرؤ چه په سنگرکی به په خپله حاضرؤ او قومانده به ئی ورکوله دلیر اونه ویرید ونکی ؤ، اول ئی جهاد شروع کړی وَ، اسمار ئی اول فتحه کړو او په غنیمت کی حاصل شوی اسلحه ئی مجاهدینو ته ورکړه او په ټول افغانستان کی ئی جهاد شروع کړ، ډیر سخی اورحم دل شخصیت ؤ څه به چه ورسره وو دالله په نوم به ئی خرچ کول او دصباپروا به ئی نه لرله. داصحابو غوندی ژوند به ئی تیرولو سادگی ئی خوښه وه په خپل دی مصروف ژوند کی ئی قرآن حفظ کړی وَ اومطالعه به ئی کوله دمجاهدینو به ئی ډیر قدر کولو، دعلماؤ، طلباؤ به ئی هم ډیر قدرکولو. د محتاج سائل او د محتاج مستغنی به ئی یوشان حصه کوله که یتیم کونډه او غریب انسان به دوی ته معلوم وَ نو په خپل

وخت به ئی د هغه لپاره څه کومک ورلیږه د هرچا سره به ئی دهغه مناسب خپله رویه کوله، دچا په ډیرو ویناگانو به نه د هوکه کیدو، ددین په مقابل کی به ئی د هیچا پروا نه لرله که څومره لوی سړی به ؤ یا لوی طاقت او حکومت به ؤ دیوکار اراده به ئی چه وکړه نو حتمی به ئی سرته رسوله دملگری مرسته به ئی په هر صورت کی کوله څومره جانی یامالی تاوان به چه پری کیده کولو به ئی.

د شیخ صاحب ټول اوصاف دتوجه قابل وو کله به چه زه خفه شوم نوپه مجلس کی به ورسره کیناستم نو ټول خفگان به خود بخود ختم شو او اوس هم چه خفه شم او په خوب کی ئی ووینم نوخفگان می ختم شی. هر وخت به ئی زما سره مینه کوله اوډیر قدر به ئی زما کولو یو وخت مونږ په سفر وو اوزه مریض شوم او د ده استقبال ته ډیر خلك راغلی وو اودوی زما سره په هسپتال کی ناست وو. مابه چه ورته څومره وویل چه تاسوله خلکو سره تشریف یوسی خوهغوی زما تر جوړیدلو پوری زما نه لاړنه شول اوزما سره ناست وو دملگری به یی ډیر لحاظ کولو شیخ صاحب چه کوم اسلامی تحریك اودعوت شروع کړی ؤ نو په خپل ژوند کی ئی سرته اورسولو او امارت اسلامی ئی قائم کړو په سوونو مدرسی ئی جوړی کړی چه نوی نسل ته به تر آخره پوری ددعوت ورکولو تربیت ورکوی اودجهاد سبق ئی خلکوته ورکړو چه ټوله دنیا پری راپورته شوه اوپه خپل مسئولیت کی ئی د ذری هومره کمی نه دی کړی .

له عامو خلکو سره دشیخ صاحب رویه د«اشداء علی الکفار رحماء بینهم»مطابق وه ملاقات به ئی له هر چا سره کولو اوله هر طبقه فکر سره به ئی دهغه مناسب خبری کولی یعنی له عالم سره عالم ؤ، له طالب العلم سره د تعلیم شوقمن، له سیاست دان سره سیاست دان ، له مجاهدینو سره مجاهدؤ، له پاکستانیانو سره به ئی د پاکستانی سیاست مطابق مجلس کاوه.

شیخ رحمه الله دوستی اودشمنی دالله تعالی لپاره کوله دخپل ذاتی اغراضو دپاره ئی نه له چاسره دوستی کوله او نه دشمنی. دوستی ئی بی حده زیاته وه.

شیخ (رحمه الله) داسی یو شخصیت ؤ چه هغه چیری هم په دین سودابازی نه ده کړی او ټولی دنیا دا غوښتل چه شیخ صاحب واخلی غربی استخباراتو دا کوشش کولو چه شیخ صاحب به څرنگ لاس ته راوړی او دبعضی اسلامی ملکونو هم دا کوشش ؤ خو شیخ **صاحب په هیڅ هم نه څرڅیدونکی انسان وو** او کله چه ئی امارت اسلامی قایم کړو نو ډیر پیشکش ورته وشو چه دامارت نه تیر شه اوستا دکنړ اودتنظیم ټول اخراجات به برداشت کوو **خو شیخ (رحمه الله) به فرمایل چه ما جهاد د امارت اسلامی لپاره کړی نه د اقتدار د پاره او کله چه دامارت اسلامی خلاف عمل روان وو** نو هم به ورته دا خبره کیدله چه له امارت نه تیرشه ځکه چه هیڅ هیواد هم دا نه غواړی چه چیرته دی هم په یو ځای کی اسلامی امارت قائم شی خو څنگه چه زمونږ مبارز او مجاهد مشر د اسلامی حکومت په سر له چا سره معامله نه کوله او د اسلام د دښمنانو ټولو دسیسو او مخالفتونو ته ټینگ ولاړ ؤ نو له اسلام سره دده مخلصانه مینه او پاك جهاد د هغه د شهادت موجب شو.

والسلام علیکم ورحمة الله وبرکاته

محترم ورور قاضی صاحب محمد حکیم

د محترم شهید مولوی صاحب سره زماد پیژندگلوی پیلیزه د ظاهرشاه دحکومت په وروستیو شپو روځو کی وشوه او د پیژندگلوی بنیادی وجه د استبدادی اونامسلمان

نظام په خلاف د جهاد او مبارزی او د یوی مسلمانی تولنی د جوړولو او په پای کی د یو خالص او سوچه اسلامی نظام د قایمولو مشترکه او ګډه روحیه وه چه زما او دهغه تر منځ د تعارف او پیوستون سبب شوه.

له مرحوم شهید سره زما مناسبات د اسلامی ورورولی او همدردی په اعلی او اوچت سرحد کی وه.

محترم شهید(رحمه الله) د ایمان او تقوئ یوه پیاوړی نمونه او د جهاد او مبارزی اتل، او د پوهی او درایت زړه راکښونکی شخصیت ؤ.

دغه دخدای د لاری مجاهد په عملی ډګر کی د اسلامی تعلیماتو دتعمیم او رایجولو او په ولس کی د اسلامی روح د پوکولو لپاره د یادونی وړ خدمات کړیدی.

دمحترم شهید چارچلند له عامو خلکو سره د ستاینی او وياړنی وړ ؤ،همداراز د ده اړیکی د افغانستان د اسلامی تنظیمونو سره په انصاف او اسلامی حدودو ولاړی وی. او د نړۍ د اسلامی تحریکونو سره دده تعلقات حسنه او نیک وو.

شهید مولوی صاحب(رحمه الله) د کنړونو په ولایت کی کوم چه د ده د جهادی فعالیتونو مرکز ؤ د اسلامی حدودو د نفاذ افتخار په برخه لری او هلته داسلامی نمونه ای تولنی د جوړولو په هکله د دوی هلی ځلی د ستاینی وړ دی.

شهید مولویصاحب چونکه د اسلام ددښمنانو د سترګو ازغی ؤ او هغوی د افغانستان د راتلونکی او مستقبل په هکله د ده د مؤثر نقش ځخه په ډار او ویره کی وه نو ځکه د ده په خلاف یی ناځوانمردانه پلمه په کار واچوله او هغه یی په شهادت ورساوه.

دشهیدمولویصاحب شهادت حقیقتاً د افغانستان لپاره لویه ضائعه وه که هغه مرحوم ژوندی وای نو د افغانستان په حاضر او مستقبل کی به یی د قدر وړ خدمتونه کړی وای، او دا ځکه چه د هغه دعالمانه او مدبرانه شخصیت ځخه ددی کار زیاته هیله کیده.

د شهید شیخ(رحمه الله) وارثانو او دوستانو ته زما پیغام دا دی چه هغوی باید د شیخ(رحمه الله) سلوك خپل کړی او د هغه په قدم ولاړشی او د هغه ژوند د خپل ځان لپاره اسوه او نمونه وګرځوی چه د دوی د دنیا او آخرت کامیابی په همدی کی ده.

غوښتل می چه په پوره تفصیل د مرحوم مولوی صاحب په هکله لیکنه وکړم ولی د وخت د کموالی له کبله می په پورته لنډه لیکنه اکتفاء وکړه هیله ده چه په راتلونکی کی به د هغه حق پوره کړم انشاءالله.

والسلام علیکم ورحمة الله وبرکاته

(زمونږ دا لړۍ دوام لري)

الشيخ جميل الرحمن (رحمه الله) ته

دکنړ دغــرو زمريــه، ســلـفيت ژ دا ستالاره
شيخ جميله مجاهده! دافغان جــهاد ســالاره

وړی تـړی لــوړو غـرو کی،ملحدانــو ته بــيتاب وی
عملی قـدم دی واخـيـست مؤســس دانـــــقلاب وی
دتوحيد دبن طوطی وی، علميـت کی لوی درياب وی
دجنت حوری ولاړی، استقبال ته ستا لپاره
شيخ جميله مجاهده! دافغان جهاد ســالاره

ته دحق په مقابـل کی، دهـر څه څـنی ورتيــر وی
ستا کلك عزم اراده وه، په جرئت کی لکه شير وی
دباطل په مقابـل کی، جوهرداره تيز شمـشير وی
أخر لاړی له دنيانه، ددښمن دسترگو خاره
شيخ جميله مجاهده! دافغان جهاد سالاره

دافغان په هر يوکـــورکی، نن ماتم جــوړه غوغاده
«سل دی ومري يو دی نه مري»، دمشرانو داوينا ده
په دښمــــن دی نن اختر دی،ددوســـتانو دی ژړاده
ستاپه مرگ باندی شهيده، ماڼړلی تر سهاره
شيخ جميله مجاهده! دافغان جهاد ســـالاره

داخاصه دانـــــقلاب ده، چه خوراك يی خپل بــچي وي
ډير ځوانان همداسی سوزی، په همدی اور کی ستی و ي
توطـئيودی ډيرخــوړلی، په کـــی دالويـه پستی وي
ته دلوړ همت خاوند وی، ننگياليه باوقاره
شيخ جميله مجاهده! دافغان جهاد سالاره

بدبختي نـــفاق زيات شــوی، هر يـودی دبل په سپکه
سړی کومی خواته لاړ شي، پاس آسمان دی لاندی ځمکه
دی حـــالاتو ليــونی کــړو،کافو،لام،کــړه لاره ورکه
انقلاب په تا ميرات شو، دجهاد کاروا ن سرداره
شيخ جميله مجاهـــده! دافـــغان جهاد سالاره

غوره بخښنه

عباسی خلیفه ابو جعفر المنصور خپل ځوی عبدالله المهدی ته وفرمایل:

دکارونو پریکړی دپوره سوچ او فکر نه وروسته کوه، ځکه چه دعاقل او هوښیار سړی سوچ دهغه دبدیو اوښیګنو آینه ده.

او په دی پوه شه چه دخلافت بنسټ په تقویٰ ولاړ دی اودسلطی اوقدرت ټینګښت په اطاعت اودولس اورعیت صلاح په عدل کی نغښتی ده.

غوره بخښنه هغه ده چه د بری او غچ اخیستنی دتوان په صورت کی ترسره شی. او ناپوه او جاهل هغه دی چه له ځان نه په کم سړی ظلم او زیاتی وکړی.

جنت ته دداخلیدو لار:

له ابو سعید رضی الله عنه نه روایت دی چه رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل«څوک چه دالله تعالی په ربوبیت راضی شی او اسلام خپل دین وګرځوی او محمد صلی الله علیه وسلم دالله رسول (صلی الله علیه وسلم) وګنی- هغه ته جنت لازمی دی یعنی خامخا به جنت ته داخلیږی. » دی حدیث ابو سعید په حیرانتیا کی وغورځاوه، له رسول الله صلی الله علیه وسلم نه ئی غوښتنه وکړه چه ای د الله رسوله! ماته ئی بیاوروایه.

نوهماغه وو چه پیغمبر علیه السلام ورته تکرار کړ او بیائی وویل چه: یو بل کار هم دی چه الله تعالی پری خپل بنده ته په جنت کی سل پوړی او چتوالی ورپه برخه کوی چه له یوی پوړی نه تربلی پوړی دومره مسافه ده لکه دآسمان اوځمکی ترمنځ فاصله.

ابوسعید وپوښته چه ای د الله رسوله! داکوم کاردی؟ هغه صلی الله علیه وسلم وفرمایل چه: دا د الله تعالی په لار کی جهاد دی- دا دالله تعالی په لار کی جهاد دی دا د الله تعالی په لارکی جهاد دی.

(صحیح مسلم)

اموی خلفیه عبدالله بن مروان یوه ورځ په منبر وخوت او وئی ویل :

ای زما هیواد والو! موږ سره له انصاف نه کارواخلئ. تاسوله موږ نه د ابو بکر او عمررضی الله عنهما چال چلند او سیرت او معامله غواړئ، په داسی حال کی چه له تاسو سره د ابوبکر او عمر رضی الله عنهما درعیت په شان سیرت او چال چلند نشته.له الله تعالی نه غواړم چه له موږ اوتاسو سره مدد او مرسته وکړي.

یوکس دحسن بصری حضورته راغی او وئی پوښته چه:

ای امامه!

په دنیا کی ستاد زهد، تقویٰ او پرهیزګاری راز په څه کی دی؟

په ځواب کی ئی وویل: چه په لاندینو څلورو څیزونوکی:

۱- زه په دی کلك باورلرم چه ماته تاکل شوی رزق لمانه هیڅوك نشی حصارولی نو زړه می مطمئن دی.

۲- او په دی هم یقین لرم چه ماته وضع شوی کارونه به زما په واسطه ترسره کیږی نو په خپل کار بوخت یم.

۳- او په دی پوه یم چه الله تعالی ماوینی نو ډیره حیا راځی چه الله تعالی می دګناه کولو په وخت ووینی.

٤- او دازما عقیده ده چه مرګ راته انتظار باسی نو دالله تعالی دلقاء لپاره می د زاد بندوبست کړی.

دعبرت اوپند لاربښوونکی:

سپین روبی دوقار او عزت ونی او دتاریخ چینی دی چه دعبرت او پند درس درکوی، غشی ئی خطانه ځی اوګمان ئی بی ځایه نه وی- که په بدو کی دی ووینی تری ژغوری دی.

او که په ښیګڼو اخته شوی نو لاس درکوی او مدد دی کوی.

دلیکونو بهیر

دعـــوت مجله

پوست‌بکس: ٦١٤ - G.P.O - پشاور

له جرمنی څخه دفدایی مسلمانانو د ټولنی لخوا راستول شوی لیك کی داسی لیکی:

لومړی دزړه له کومی سلامونه او احترامات تاسو محترمانو ته وړاندی کوو او له ښتن تعالی ځینی درته په اسلامی حق طلبانه مبارزه او جهاد کی د زیاتو بریالیتوبونو هیله لرو.

د دعوت مجله کله کله را رسیږی په لیدو یی خوشحاله او په لوستلو یی زمونږ د اسلام د سپیڅلی دین په باره کی معلومات زیاتیږی، د مجلی قطع او صحافت ښکلی او هم یو لړ جالب مطالب په کی خپاره شوی دی مونږ دا مجله او همدغه شان نوری خپرونی چه د مجاهدینو او مهاجرینو له خوا رارسیږی له لوستلو وروسته یی نورو کسانو ته ورکوو چه مطالعه یی کړی.

خو د دی له پاره چه دا مجله لاپسی زیات لوستونکی پیدا کړی او هم د اسلام او اسلامیت له پاره لکه چه لازمه ده خدمت وشی او د ستاسو محترمانو هلی ځلی د اسلام، وطن او د محرومو پرګنو د هوسائی او سوکالی په لاره کی د زیاتو مثبتو نتائجو مصدر وګرځی نو ستاسو پاملرنه لاندی مطالبو ته راګرځوو:

١- د اسلام او نویو علومو په ارتباط د یو لړ مطالبو خپرول.

٢- د اسلام دلرغونی تمدن او دا چه د ننني نړی په پرمختګ کی له اسلامی علومو څخه زیاته استفاده شوی، رڼا اچول.

٣- د نړی د مسلمانانو د بیرته پاتی کیدو مهم علتونه او د علاج لاری چاری بیانول.

٤- په اسلامی هیوادونو کی د مهمو پیښو خبرونه او سببونه نشرول او د استعماری دسایسو تشریح او رسوا کول.

٥- په نړی کی د تش په نامه اسلامی حکومتونو او دولتونو خیانتونو او ګوډاګیتوب ته ګوته نیول او د ولسونو ویښول.

٦- په نړی کی زیات کسان نوی مسلمانان شوی او خپل دینونه یی پریښی دی له هغوی سره مرکی کول او بیوګرافی یی خپرول.

٧- ددی پرځای چه یوه مجله په اردو ژبه خپره کړی، ښه به دا وی چه ځینی خپرونی چه عالی مطالب او مفاهیم ولری د نړۍ په نورو مهمو او مشهورو ژبو نشر کړئ، تر څو کوم کسان چه مسلمانان نه دی د اسلام د

مقدس دین په ارزښتونو اوښیګنو پوه شي.

۸- د اسلامي هیوادونو خصوصاً د افغانستان د ځیني هغو ګروپونو په باره کې چه د اسلام، وطن او پرګنو له پاره یې خیانتونه کړي یا یې کوي او یا کومو کسانو چه ورته ستر خدمتونه سرته رسولي په مستند توګه یو لړ مطالب خپرول.

۹- دهیواد په اوسنیو روانو دردناکو حالاتو او پیښو هر اړخیزه رڼا اچول.

۱۰- له جهادي قومندانانو، پوهانو او ولسي خلکو سره د دوی په اوسنیو ستونزو او د هیواد په مستقبل مصاحبې کول.

۱۱- ځیني اسلامي او ملي انقلابي شعرونه خپرول.

څرنګه چه تاسو په خپله مجله کې د ځیني نمایندګانو نومونه معرفي کړي چه په مختلفو هیوادو کې ستاسو د تنظیم لپاره کار کوي نو له دې کبله به د پورته ذکر شویو مطالبو تعمیل د دعوت د مجلې د کارکونکو له پاره بنایي مشکل نه وي.

تاسو محترمان کولی شئ د فدائي مسلمانانو د ټولنې پورته ذکر شوي نظر کټ مټ په خپله مجله کې نشر کړئ.

په درناوی.

مسؤل مدیر

(شاه ولي څوریدلی عزیزي سرخاني).

محترم ورونه حضرت ګل صدیقي او رضوان الله الرضوي د کمرسر د لمړی نمبر کیمپ څخه له سلامونو او دعاګانو نه وروسته لیکي:

د دعوت پښتو مجله هره ګڼه مونږ ته پخپل وخت رارسیږي او باور وکړئ چه هر مضمون یې د زړه په محبت ګورو او د زړه تنده پرې ماتوو او زمونږ دا تمنا ده چه الله تعالی دې دعوت مجله خپل اصلي مرام او مقصد ته ورسوي.

والسلام

د مردان د رستم د جامعه تعلیم القرآن څخه ابو عمیر اسدالله «همت» ورور له دعا سلام نه ورسته لیکي:

په نن وخت کې زمونږ سترګې یوازې او یوازې د دعوت مجلې ته غړیږي، او د بنایست اهم سبب یې د امام الجهاد شهید شیخ جمیل الرحمن (رحمه الله) په زړه پورې ویناګانې او نصایح دي. رب العزت دې دعوت مجله دایمه لری!» په درنښت «

د ناروی له اسلو څخه محترم ورور ریاض احمد« عابد » داسې لیکي:

خپل سلامونه او نیکې هیلې د دعوت دپښتو مجلې محترم سرمحرر او د قدر وړ کارکوونکو ته په نیک وخت کې وړاندې کوم!

وروسته له سلامه ستاسې د ټولو بریالیتوب او سرلوړي د رب العزت له دربار څخه غواړم.

د دعوت ښکلې او په زړه پورې مجله ما څو ورځې وړاندې دیو ملګري په کور کې ولیده، وروسته له لوستلو څخه ډیر خوښ شوم، په دې چه دا یوازینۍ مجله ده چه د افغانستان مسلمان ملت هڅوي، تر څو یوازې او یوازې د اسلام د بیرغ د سیوري لاندې د حضرت محمد صلی الله علیه وسلم د فرمودو او د قرآن کریم د احکامو سره سم خپل ورځنی ژوند سر ته ورسوي.

د دعوت مجله د ډیرو ښکلو مضامینو لرونکې ده.دا د ویاړ ځای دی چه افغانانو ته ستاسې په شان پوهه او په اسلام مئین ځوانان الله تعالی ورکړي دي چه په فرهنګي لحاظ هم غلیمانو ته غاښ ماتوونکي ځوابونه ورکوي.

زړه مې ډیر څه غواړي چه ویې لیکم لیکن په لمړی لیك کې یوازې دومره لیکم چه که دا مجله او ستاسې نوري خپروني ماته په مسلسل ډول را ورسیږي ډیره مهرباني به مو وي.

په آخر کې مو په لوی الله تعالی سپارم، کامیاب او بریالي اوسئ!

د مردان د شیرپور نه عزیزالله «اواب» ورور لیکي:

محترم د د عوت مجلې مدیر او نورو همکارانو ملګرو!

السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته

د دعوت د مجلې د مضامینو په لوستلو مو ډیره خوشحالي او د تن په وینو کې مو داسلامي څیرکتوب جوش پیدا کیږي. او همدارنګه د شهید شیخ صاحب په باره کې مو نظمونه ډیر خوښیږي.

مونږ یو وړاندیز لرو چه که کوښښ وکړئ او مونږ ته په هره میاشت کې مجله په وخت راولیږئ ډیره مهرباني به مو وي.

والسلام

له ضلع دیر تیمرګری احیاءالعلوم اداري څخه محمد جمشید ورور له مسنونه سلامونو نه وروسته لیکي:

مونږ دعوت مجله لولو، دعوت مجله مونږ ته د اسلامي دعوت طریقه ښایي او همدارنګه د افغانستان له موجوده حالاتو څخه اګاهي رابخښي.

هیله ده چه د دعوت مجلې رالیږل راته جاري وساتئ الله تعالی دې د دعوت مجلې د لا زیات بریالیتوب

توفيق در کړي.

والسلام مع الاحترام

له يو نا معلوم ځاى څخه يو ورور چه خپل نوم يې ع- ى ليکلى، له سلامونو او دعاګانو وروسته ليکي چه:
زه د دعوت له مجلې سره ډيره علاقه لرم او هميشه يې لولم زه يو انتقاد لرم او هغه دا چه تاسې په مجله باندې هجري قمري او ميلادي تاريخونه ليکلي وي نو څرنګه چه دا مجله زياتره افغانان لولي او اکثره افغانان له دې دواړو سنو سره پوره آشنايي نلري نو که مهرباني وکړئ او لدې سنو سره سره هجري شمسي سنه هم وليکل شي ښه به وي.

والسلام

د چکدرې د کيمپ د حضرت عبدالله ابن ام مکتوم‌له دارالحفاظ څخه عبدالله سلفي ورور له سلامونو وروسته څو انتقادونه راليږلي او وايي چه:

١- تاسې د جماعة الدعوت د امير شيخ سميع الله ويناګاني ولې نه نشر کوئ؟

٢- بل ستاسې مجله په خپل وخت نه رارسيږي؟

په احترام.

د باجوړ ايجنسي د يوسف آباد له کيمپ څخه عبدالله ورور ليکي:

محترم د دعوت پښتو مجلې سر ليکوال او نورو کارکوونکو ورونو!

السلام عليکم ورحمة الله وبرکاته

له هر څه د مخه د شهيد شيخ جميل الرحمن (رحمه الله) پاك روح ته د زړه له کومې دعا کوم او بيا د دعوت مجلې په ترقئ تاسو ته مبارکي وړاندې کوم او د کفر ځپونکي او ځواکمن الله جل جلاله څخه يې د لازياتي کاميابئ او ترقئ سوال کوم په آخر کې يو وړانديز لرم؛ هغه دا چه که د لعل محمد «افسوس» صاحب ښه ښه اشعار نور هم زيات کړئ نو دا به لا نوره ددعوت د مجلې ښکلا زياته کړي.

والسلام

د دعوت پښتو مجلې ته د پيښور د سنټرل جيل څخه محمد ايوب ورور داسې ليکي:

محترمو د دعوت پښتو مجلې ټولو مسئولينو!

السلام عليکم ورحمة الله وبرکاته

مخکې له هر څه نه ستاسو کاميابي او د سلفي عقيدې د خدمت لپاره طويل عمر غواړم!

له ډیری مودی څخه د هر نوعه رسالو په لوستلو بوخت یم ولی اکثره د تفریح او وخت تیرولو پخاطر ګورم، خو کله چه راته د دعوت مجلی (۲۲) ګنه د یو دوست پواسطه جیل ته راورسیده، له لوستلو وروسته هر یو مضمون یی راته د حقیقت انعکاس ښکاره شو. د الله تعالی شکر می اداء کړو چه پدی مادی وخت کی بیا هم د سلفی عقیدی خاوندان د نشر او اشاعت دجهاد لپاره هلی ځلی کوی. د مجلی هر مضمون پخپل ځای د تعریف قابل دی، ولی زه د لاندی محتویاتو په هکله داسی لیکم:

۱- د مجلی په اول مخ داسی رسامی لیدل کیږی چه د افغانستان د فعلی حالاتو مکمله عکاسی کوی او سر مقالی پری د حقایقو په نظر کی نیولو سره د توصیف لایقه رڼا اچولی ده.

۲- «بحثی پیرامون کلمه طیبه» واقعاً له رهنمایی نه ډك مضمون دی، لیکن متأسفانه چه اوله برخه یی ماته نه ده رسیدلی.

۳- «علوم القرآن ته یوه کتنه» مضمون د حبیب الله صاحب د شاهکاری او د ټولو کارکوونکو د قرآن پاك سره د مینی او محبت انعکاس دی.

٤- د« سیکولریزم» په کلمه مختصر بحث او د هغی د تاریخ په رڼا کی هر اړخیزه څیړنه‌ددی نمایندګی کوی چه مجله عالمی ده، تمام کارکوونکی د ټولو شیطانی قوتونو د حرکاتو او طوطئو څخه اګاه دی او دا استعداد هم لری چه ټول ناخبره ملت تری اګاه کړی.

۵- د «افسوس» صاحب اشعار ټول په حق بناء دی چه د ځلمو مړهٔ احساسات را پاروی.

٦- د ورور حیات الله مرکه د حقایقو انعکاس کوی او توصیبی یی د هر مسلمان د زړهٔ تسکین دی، ځکه چه هغه اسلامی حکومت د قرآن او حدیث په رڼا کی جوړول غواړی.

لدی وروروسته زه یو څو وړاندیزونه لرم هیله ده چه غور پرې وکړئ:

۱- په مجله کی باید د عربی ژبی د زده کړی لپاره سلسله وار مضمون شایع کړئ.

۲- په مجله کی باید د افغانستان د جهاد لنډ لنډ داستانونه نشر کړئ.

۳- مجله باید په غیر روحی او جأیزو تصاویرو مزینه کړل شی او ورسره د هر تصویر تشریح ولیکل شی.

٤- د پاکستان د هری صوبی مرکزی جیل لائیبریری ته باید پنځه مجلی فی سبیل الله ولیږئ. تر څو ترینه محبوسین استفاده وکړی.

والسلام

توحیدیار

اداره:

په داسې حال کې چه د هر یو محترم ورور خور. لیك ته په مینه ګورو او د نیکو نظریاتو د څرګندولو په نسبت ورته د الله جل جلاله له درباره اجر غواړو داد څرګندوو چه د امکان په صورت کې به د دوی ګټورو لارښوونو ته په خپلو نشراتو کې عملي بڼه ورکړو.

له جرمني څخه د فدائي مسلمانانو د محترمې ټولنې له خوا هغه رالیږل شوی ګټور لیك چه د محترم ورور شاه ولي څوریدلي عزیزي سرخاني په امضاءښکلي کړی شوی دی زمونږ د زیات تشویق او ترغیب باعث شوی او د فدائي مسلمانانو د ټولنې سره د قلمي رابطې په ټینګولو ئې راته زیاته خوښي رابخښلې ده. نیکې او ګټورې لارښوونې به مو چه ستاسو د اسلامي پاك احساس څرګندوی دی انشاءالله زمونږ د محدودو امکاناتو په حدودو کې تطبیق کړو. هیله مو دا ده چه تاسو محترم ورور به هم د دعوت له مجلې سره قلمي همکاري وکړې او د خپلو ګټورو مطالبو په رالیږلو به مو ممنون کړئ.

والسلام

محترم ورورتوحیدیار صاحب!

سلامونه مو در واخلې د ژر تر ژره رهائي او صحت لپاره مو دعاګانې کوو.

د مجلې د محتویاتو په باب ستاسو نیك نظریات زمونږ د لازیات تشویق سبب شول. نیکې مشورې به مو انشاءالله د امکان تر حدودو عملي شي البته د عکسونو د چاپ او نشر په باب به ځکه زمونږ معذرت ومنئ چه دا یو غیر شرعي کار دی او اهلحدیث تحریك ورسره سخت مخالفت لري او هلې ځلې یې دا دي چه نورې ورځپاڼې او مجلې هم دې ته وهڅوي تر څو د عکسونو له نشر څخه لاس واخلي. البته هغه عکسونه چه تاسو د «غیر روحي» په نوم یاد کړي نه خو زمونږ سره په لاس کې وي او نه یې د نشر لپاره کومه مناسبه موضوع لرو. خوښه دې نه ده چه د یو بې مورده عکس په ځای څو داسې کرښې ولولئ چه د اسلامي دعوت او جهاد په باب دې د علمي معلوماتو ذخیره وربانډې لا درنه شي؟

(په لوی درب سپارلی)

ارشاد نبوی

بسم الله الرحمن الرحیم

عن ابی نجیح العرباض بن ساریة رضی الله عنه قال: «وعظنا رسول الله صلی الله علیه وسلم موعظة بلیغة وجلت منها القلوب وذرفت منها العیون فقلنا: یا رسول الله کانها موعظة مودع فاوصنا. قال: «اوصیکم بتقوی الله، والسمع والطاعة وإن تأمر علیکم عبد، فإنه من یعش منکم فسیری اختلافاً کثیراً. فعلیکم بسنتی وسنة الخلفاء الراشدین المهدیین، عضوا علیها بالنواجذ، وإیاکم ومحدثات الامور فإن کل بدعة ضلالة»

رواه أبو داود ،والترمذی وقال: حدیث حسن صحیح.

از ابو نجیح عرباض بن ساریه رضی الله عنه روایت شده که گفت: رسول الله صلی الله علیه وسلم برای ما موعظهء شیوایی نمود که دلها از آن ترسیده، و چشمهااشك ریزان شد. گفتم: یا رسول الله! گویا این موعظهء کسیست که وداع می کند، پس برای ماسفارش کن، فرمودند:شما را به تقوی وترس از پروردگار، وشنیدن وفرمانبرداری کردن توصیه و سفارش می کنم، هر چند غلام وبرده ای برشما امیر باشد، وهر آئینه آنکه از شما زنده بماند، بزودی شاهد اختلاف زیادی خواهد بود، پس برشما باد به پیروی ازسنت و طریقهء من، وطریقه، خلفای راشدین که آنها هدایت کنندگان اند، برآن بادندانهای کرسی خویش گزیده وآنرا محکم گیرید، و بر شما باد که از امور بدعت (نو آوری که شریعت آنرا تائید نکند) دوری گزینید، زیرا هر امر نو پیدایی گمراهی در پی دارد.

بسم الله الرحمن الرحيم

د جماعة الدعوة الى القرآن والسنة افغانستان

اعـــلاميـــه

قال الله تعالى: «إنما المؤمنون إخوة فأصلحوا بين أخويكم ...» الأية

ترجمه: (ټول مؤمنان ورونه دي او دورونو تر منځه اصلاح وکړئ)

د پورتنی الهی حکم په نظر کی نیولو سره دافغانستان داوسنیو روانو حالاتو په باره کی جماعة الدعوة الی القرآن والسنة افغانستان خپل دریځ په لاندی ډول اعلاموی:

۱- په ډاګه ویلی شو چه دغه روان حالات زمونږ اعمال دی چه پرمونږ مسلط شویدی، ترڅو چه په اخلاص او صداقت سره په خپلو کړو وړو پښیمانه او الله تعالی ته رجوع ونه کړو دغه حالات به دوام لری.

۲- د کابل په ښار کی روان جنګ چه دبی ګناه خلکو دوینو توېدلو او دهستوګنو دځایونو دورانیدلو او دملی شتمنیو د ضایع کیدلو سبب شوی دی، په کلکه محکوموو.

۳- محترم استاد برهان الدین ربانی ته چه د پیښور دمعاهدی په اساس منتخب شوی دی باید دخپلی مودی دپوره کولو فرصت ورکړی شی او ټول جهادی رهبران دی ورسره په اخلاص تعاون وکړی چه په رامنځته شوو مشکلاتو بری ومومی.

٤- که په موجوده دولت کی کومی نیمګړتیاوی او کمزوری موجودی وی، باید چه د ذیدخلو اړخونو ترمنځ د نیکو مشورو، خبرو اترو او تفاهم له لیاری حل وفصل شی.

٥- اوسنو روانو حالاتو د یونیم ملیون شهیدانو د قربانی محصول چه د یواسلامی دولت قیام دی د خطری سره مخامخ کړی دی، د جنګ عاملین ددی حق نه لری چه دغه نه هیریدونکی قربانی د ضایع کیدلو سره مخامخ کړی.

٦- که اوسنی حالات په دواړو خواؤ کی د عبدالرشید دوستم او د عبدالجبار د ملیشائی قوتونو لخوا رامنځ ته شوی وی باید په کلکه ئی محکوم او په مقابل کی ئی ټول جهادی قوتونه په ګډه اقدامات وکړی.

۷- جماعة الدعوة الی القرآن والسنة افغانستان د ټولو هغه اسلامی هیوادونو او علماؤ کرامو څخه چه دجهاد په اوږدو کی ئی داسلامی جهاد ملاتړ کړی او اسلامی جهاد اوس دبری په درشل کی قرار لری، هیله کوی چه په دی روانو حالاتو کی خاموش او بی تفاوته پاتی نشی او ددی ناوړه حالاتو دله منځه وړلو لپاره خپل اثر او رسوخ استعمال کړی.

۸- خدای ناخواسته که په افغانستان کی رامنځته شوی دمجاهدینو حکومت ناکام او په عوض کی دپردو په مداخلت یو داسی حکومت رامنځته شی چه اسلامی صبغه ونه لری نو ذمه واری به یی د هغه چا پر غاړه وی چاچه روان جنګ پیل کړی او داخلی ګډوډی یی رامنځته کړی ده.

۹- اسلامی امت د افغانستان د اسلامی جهاد د بری څخه ډیر امیدونه لری باید چه ناامیده نشی.

۱۰- قبیلوی، منطقوی، لسانی او نژادی جنګونه جهاد نه بلکه جاهلی جنګونه ګڼل کیږی.

۱۱- جماعة الدعوة الی القرآن والسنة افغانستان چه خیر او صلحی ته یو داعی جماعت دی حاضر دی چه د روان جنګ د ختمولو او د صلحی د رامنځ ته کولو په خاطر د نورو خیر غوښتونکو ورونو په همکاری اقدام وکړی.

والسلام علیکم ورحمة الله وبرکاته

د جماعة الدعوة الی القرآن والسنة افغانستان

ددعوت او إرشاد دریاست لخوا